

# کلیات رحمن بابا (رح)



Ketabton.com



فیسبوک حاجی عجب خان



فیسبوک غلام حضرت غلام

۳ ۱/۱

# ا

کوره هسے کردګار دے رب زما
چه صاحب دَ کل اختیار دے رب زما
هَمګی بزرګواران چه شوک ئےوائی
تر همه وُ بزرګوار دے رب زما
نه ئےهیڅ حاجت په چا باندے موقوف دے
نه دَ هیچا منت بار دے رب زما
له نیستی نے دَ هستی، صورت پیدا که
هسے رنګ پروردګار دے رب زما
هم صانع دے دَ جمله وُ مصنوعاتو
هم سامع دَ هر ګفتار دے رب زما
چه ئے هیچرے نه مثل نه مثال شته
دَ هغو عطر و عطار دے رب زما
هر تعمیر چه دَ دنیا او دَ عقبیٰ دے
دَ همه وارو معمار دے رب زما
خوانده دَ نا نوبیسو صحیفو دے
دانندہ دَ هر اسرار دے رب زما



که ظاهر دے که باطن دے که مابین دے
له همه وُ خبردار دے رب زما
شریک نه لری پخپله بادشاهی کښے
بے شریک شهریار دے رب زما
هسے نه چه واحدی ئے ده له عجزه
په واحد وجود بسیار دے رب زما
حاجت نه لری دَ هیچا و یاری ته
له هغو سره چه یار دے رب زما
څه حاجت دے چه ئے بل خواته غوارم
په خپل کور کښے همکنار دے رب زما
هیڅ تغیر و تبدیل نه لری رحمانه
تل تر تله برقرار دے رب زما

۱۳ ۲/۲ ۲۷

که صورت دَ محمّد نه وے پیدا
پیدا کړے به خدائے نه وه دا دنیا
کل جهان دَ محمّد په طفیل پیدا شه
محمّد دے دَ تمام جهان ابا
نبوت په محمّد باندے تمام شه
نشته پس له محمّده انبیاء
نور هاله دَ محمّد وو پیدا شوے
چه نه عرش وو نه کرسی وه نه سما



بوی هاله دَ محمّد وو په جهان کښے
چه بوی نه وو دَ آدمؑ او دَ حوّا
په صورت که آخرین دے پیدا شوے
په معنیٰ کښے اوّلین دے تر هر چا
که نبی دے که ولی دے که عاصی دے
محمّد دے دَ همه وارو پیشوا
چه ئے دین دَ محمّد دے قبول کړے
جنتی دے که فاسق دے که پارسا
محمّد دَ ګمراهانو رهنما دے
محمّد دے دَ رندو دَ لاس عصا
که رنګا ده پس روی دَ محمّد ده
ګنه نشته په جهان بله رنګا
محمّد دَ بیچاره وُ چاره ګر دے
محمّد دے هر دردمند له دوا
خدائے ئے مه ګنه بیشک چه بنده دے
نور ئے کل واړه صفات دی په رښتیا
زه رحمان دَ محمّد دَ در خاکروب یم
که بے خدائے نه که نه دے دره جدا

۹ ۲/۲ ۳۶

ي

صاحبان چه دَ ارشاد دی مقتدا
چار یاران دَ پاک رسولؐ دی په رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لہ اوّلہ ابوبکرؓ چہ صدیق دے
بہترین دے لہ یارانو پہ ھرچیا
پس لہ دہ نہ بیابہترحضرت عمرؓ دے
چہ ئے حق باطل پہ عدل کڑ جدا
بیا دریم پسے عثمانؓ بن عفان دے
ذوالنورین ئے نام پہ روغہ پہ رښتیا
څلورم پسے بہترحضرت علیؓ دے
لہ اصحابو اولیاؤ کبریا
څلور وارہ څلور رُکنہ دَاسلام دی
دَ اسلام کوتہ بے دوئ دہ بے بقا
اصحابؓ دَ پاک رسؐول وو لکہ ستوری
ھمہ وارہ دَ حق لارے رھنما
چہ خلاف دَ دوئ لہ قوله لہ عمل کہ
دَ ھغو خلل پہ دین کښے شو پیدا
ما رحمان دی څلور وارہ قبول کڑی
دوئ زما ھم مقتدا دی ھم پیشوا

۴۴ ۸ ۴/۴

عالمان دی روښنائی دَ دے دنیٰ
عالمان دی دَ تمام جھان پیشوا
کہ څوک لارغواړی وخدائے او و رسولؐ تہ
عالمان دی دَ دے لارے رھنما



کیمیاگرکہ دَکیمیا پہ طلب گرځی
ھمدمی دَ عالمانو دہ کیمیا
پہ مجلس دَ عالمانو بہ سرہ زرشی
کہ څوک کاڼے وی کہ لوټے دَ صحرا
جاھلان دی پہ مثال دَ مردہ گانو
عالمان دی پہ مثال دَ مسیحاء
چہ مُردہ ئے لہ نفسہ ژوندے کیږی
عالمان دی وارہ ھسے اولیا
ھر سړے چہ رتبہ نہ لری دَ علمؔ
سړے نہ دے خالی نقش دے گویا
زہ رحمان حلقہ بگوش دَ ھرعالم یم
کہ عالی دے کہ اوسط دے کہ اَدنیٰ

۶۵ ۲۱ ۵/۵

دوبارہ دے راتلہ نشتہ پہ دنیا
نن دَ وار دے کہ دروغ کړے کہ رښتیا
ھرہ چارچہ تر وقت تیرہ شی عنقاشی
عنقا نہ دے پہ دام نیښتے دَ ھیچا
تر ورځ تیرے اوبہ بیرتہ نہ چاروولی
نہ چاروولی تیرساعت پہ بیرتہ بیا
تیر ساعت پہ مثال مړے دَلحد دے
مرچا نہ دے ژوندے کړے پہ ژړا



کہ مقصود لرے تلوارکړہ وقت کوتاہ دےٰ
غرہ مہ شہ دَ دے عمر پہ بقا
ھرہ نیہ چہ صحیح گڼے پہ زړہ کښے
پہ غرور بہ دغہ نیہ کړے خطا
پہ امید امید ئے خلق نا امید کړ
دَ ایام لہ مکرہ مہ شہ بے پروا
چہ دَ مرگ پہ تماچہ دَ شی خول ماتہ
ترو پہ ماتہ خولہ بہ څہ زنگ کړے ثنا
ویرہ ژړے ارتیئے چہ وینا وائی
تا تہ وائی کہ پوھیږے پہ وینا
علک شے چہ پہ زور دَ څوک تعلیم کا
ھم عاقل ئے ھم بالغ ئے ھم دانا
پہ عمل دَ نیکو بدو فھم وکړہ
چہ پہ دا کښے دَ بھبود دے کہ پہ دا
سر دننہ پہ گریوان کړہ ستړگے روغے
دیر پہ پورتہ پورتہ مہ ځہ سرھوا
سرھوا سرھوا مہ ځہ و اسمان تہ
تہ پہ اصل کښے لہ زمکے ئے پیدا
دَ عمل پہ ځائے بہ دا پښتنہ دوی
چہ تہ زوئے ئے یا نمسے ئے دَ فلانا
پہ خپل ځان ښیگڼہ وکړہ غرہ مہ شے
پہ ښیگړہ دَ آدم او دَ ابا



ھغہ ناوے چہ پہ ځان ښائستہ دوی
څوک ئے څہ کاندی ښائست دَ موراونیا
دا خبرہ زہ ھمہ و ځان تہ وایم
ولکیږ مہ شہ کہ مے نوم واخست دَستا
نوم دَ ستا او دَ بل اخلم ځان تہ وایم
نہ مے کار نہ مے غرض شتہ پہ نورچا
ھرچہ وایم ھمہ وارہ ځان تہ وایم
دا ھمہ وارہ عیبونہ دی زما
کہ مے ځائے دَ دے عیبونو وے پہ زړہ کښے
ما بہ څہ لرہ کولہ دا انشا
چہ دَ مرگ سختے خواری دَ ستاپہ خوا دی
اے رحمان ولے نہ مرے لاپخوا

۱۰۵ ۴۰ ۷/۷

راشہ مہ کوہ لہ چا سرہ جفا
لږ ژوندون دَ ضائع کیږی بے وفا
پہ دُنیا کښے ھیڅوک نہ دی پاتو شوی
وارہ تلونی دی کہ نن دی کہ سبا
دا یاران چہ نن وتا وتہ جلوہ کا
پہ دوہ ورځے پس بہ وارہ شی فنا
کہ دیدن دَ دَچا خوښ وی ورتہ گورہ
چہ فنا شی بیا بہ کلہ شی پیدا

د خزان پاڼه چې پرېوځي له شاخه
په حکمت به ئې پېوند نه کا حکما
چې په زمکه څاڅکي پرېوځي له اسمانه
بيا له زمکې ختلے نه شي په سما
ګومان مه کړه چې به بيا سترګو له ورشي
هغه اوښکې چې له سترګو شي جدا
دا په هره ورځ چې ځيږي بل بل تمرد دے
هرچې پرېوځي هغه نه شي ختلے بيا
که جنت په زهد نه دے بے کرمه
هر سړے د خپله غاړه کا ادا
که د نفس دپاره سل محنته وکړے
يو محنت به د پکار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله ګېړه ونيوے
ياد به نه شې په درود او په دعا
که يوه دانه د وړې په لاس ورکړے
هم دغه به د توښه شي د عقبیٰ
که يو څاڅکي اوبه تږي له ورکړے
د دوزخ او ستا ترمیان به شي دريا
که يو څه سر د خدائے په لوري ټيټ کړے
په قيامت به سربلند شے تر هرچا
بازار دا دے که څوک سود و سودا کاندي
په هغه جهان نه سود شته نه سودا



اشنايان که څه پوهېږي تر سلے وقت دي
چې ګذارېږي يو اشنا تر بل اشنا
که ژوندون دے خو هم دا دے په جهان کښے
چې له چا سره تېرېږي په خندا
خدائے امان وکړه له هسے ژوندګيه
چې نه بد وائے له بده بل له تا
زهر ښه دي که په صلح په صلاح وي
نه شکرے په فتنو او په غوغا
نفس په غاړه په نفس وکښه د بے غمه
نه د غم په غوړو وريژو په حلوا
مات ملا په مشقت په محنت ښه دے
نه حرام صياني د چا تر ملا
ړوند بهتر دے چې څه نه ويني په سترګو
نه چې سترګے په پردي حرام کا وا
ګونګ بهتر دے چې بے کلام و بے زبان وي
نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا
کوڼ بهتر دے چې څه نه اوري په غوږو
نه چې غوږ کاندي د بدو په وينا
ديو او دد که په خوا درېږي بهتر دے
خدائے د بد سړے درنه ولي په خوا
د جاهل تر صحبت ميږه به بهتر وي
که له چا سره صحبت وي اژدها



که مشکل دي خو د زړه نو رغول دي
سهل کار دے سود و زيان د دے دنيا
سود و زيان د دنيا واړه سهل کار دے
خدائے د نه کا څوک په سهل کار رسوا
چې د ورور د عزيز زړه پر ازارېږي
حاصل مه شه هغه خپله مدعا
ګاه د نورو رضا بويه کا هے خپله
په کار نه ده هميشه خپله رضا
ښه خواره چې يو ځوري بل ورته ګوري
خواږه نه دي هغه زهر دي ګويا
چې ښادي ئې يو زمان وي غم ترتله
دغه هسے چارے نه کاندي دانا
لکه ځان هسے و بل ورته نظر کړه
لکه ستا دے هسے ځان دے د هرچا
منصفانو لره بويه چې انصاف کا
نه چې نخوت کا د حرص او د هوا
د سړي په خاطر هرڅه هرڅه کړي
نه چې وکښي همه واړه روا
دينداران د وخپل دين و ته نظر کا
څوک فکر وند د صواب څوک د خطا
خدائے د نه کاندي خطا د چا له لاسه
څه نسبت دے د خطا او د عطا



هسے نه چې سړي واړه سره سم دي
څوک عالي دي څوک اوسط دي څوک ادنیٰ
د هرچا حرمت په خپله اندازه دے
نه چې موږي نظر خانه د امرا
زه رحمان له چا شکوه شکايت نه کړم
نشته بل دوست و دښمن زما بے ما

۱۱۳ ۷/۷

هيڅ ثابت نه کړه چا د دے دنيا وفا
واړه هسے کاندي بيهوده په دا دنيا
هرڅوک چې دعویٰ په دا دنيا کا د ځپلو
واړه باطل وائي دنيا نه ده د هيچا
دا فلک کلال دے ساره وي او ماتول کا
ويره ئې ما او تا څوند ے پيدا کړه هم فنا
هر سنګ و کلوخ چې ټرکندېږي د دے دهر
واړه ټکرے دي څوک د شاه څوک د ګدا
دام د هيڅوک نه پړدي د دنيا و رهګذر ته
ښکار به وکړے نه شي د سيمرغ او د عنقا
هرڅوک چې له دے فاني نفس وابستګي کړي
نه به شي تړلے په د نفير سره هوا
ماه دے که افتاب دے عاقبت واړه خراب دے
کل که هميشه وي هم څه نه تر ابدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه دروه رحمان په خلاف د داناپانو
مینه د دنیا پسندے نه ده هیڅ دانا

۱۳۲ ۹

په بناوی بناد شوے نه یم د هیڅ
تور ټپ سوے یم په غم د هر اشنا
که زه طمع توقع له یله نه کړم
د بل طمع توقع کیږی له ما
که مے ورور که مے عزیز دے که مے یار دے
واړه غواړی خپله خپله مدعا
په هر کور کښے رنځوران دانه زیرګی کا
لاس مے نه رسی د هیڅا په دوا
د دنیا خبرے واړه په دنیا شی
ما په څه کا څوک چه نه لرم دنیا
که په کلی کښے مے کور دے زه کمان کړم
چه کور نه دے دا مے کور دے په صحرا
چه د نه پر څه پوره وی نه نیکړی
څوک به څه کا له هغو سره خندا
چه ئے هیڅ په بنه توبه وبله نه شی
تر هغه اشنا بهتر دے نا اشنا
په توده زمکه استوګه ده مشکله
څه به زیست شی له رحمان سره دچا



۱۳۰ ۸ ۹/۹

که خپل زړه خوارے له چا   خان صیاد کړه د عنقا
د حباب کلاه په سر کړه   سور په اس شه د هوا
لکه خضر هسے پا څه   اوبه وڅښه د بقا
له زمیته قدم کیږده   په اسمان لکه عیسی
د هغه استاد شاګرد شه   چه دروښئ کیمیا
ته سر پوریکړه وئے غواړه   چه موندہ شی په بها
دا چه ما درته بیان کړه   که حاصل کړے واړه دا
هال طمع کړه رحمان   د خوبانو له وفا

۱۳۹ ۹ ۱۰/۱۰

ته چه مات واڼے چه په څه کوے ژړا
نه درمعلومیږی دغه خپل جور وجفا
ته جورو جفا کړے زه ژړا کوم دلبره
ستا که دغه نه وے دا به هم نه وے زما
څه بنادی به کاندی طائفه د عاشقانو
رمم د ښانو که هم دا وی لکه ستا
دا خصلت چه ستا دے که هم تل په دغه شا وی
نه رامعلومیږی د دردمند د زړه دوا
څو به دا جفا کړے نه پوهیږم څه بلا شوه
څو به وی ترکومه دا جفا و دا بلا
یو د ستا مالی شه بل غوږزی د رقیبانو
وار په وارسه وژنی کله هغه کله دا



هرچه عاشقی کا که په قطع افلاطون وی
زه خو ئے مجنون ګنم که ښن وی که سبا
سپی هم په عذاب د جدای د وژلو ندی
زه خو ګوندے ستا د کوڅے سپے شوم په دنیا
هیڅ مے پکارنه دی رحمان تا غواړم دلبره
زه په دا راضی یم باقی هرچه ستا رضا

۱۵۲ ۳ ۱۱/۱۱

دا دنیا ده بے وفا   بے وفا ده بے بقا
نه ئے ځائے نه ئے ځائے شته   لکه لوټ د صحرا
په یوه ګړی ئے ځ وی   په یوه ګړی ئے شا
په یوه ګړی د ستا شی   په یوه ګړی زما
په یوه ګړی ئے درد وی   په یوه ګړی دوا
په یوه ګړی ئے خوف وی   په یوه ګړی رجا
په ساعت کښے ئے بقا وی   په ساعت کښے ئے فنا
په ساعت کښے ئے سکوت وی   په ساعت کښے ئے غوغا
په ساعت کښے ئے خندا وی   په ساعت کښے ئے ژړا
په ساعت کښے ئے وفا وی   په ساعت کښے ئے جفا
په ساعت کښے ئے افلاس وی   په ساعت کښے ئے غنا
نه څه شان لری نه شکل   کله دا شی کله دا
څه ئے څوک ړیښ مه کړه رحمانه
په دا هسے رنګ بلا



۲۰۸ ۵۸ ۲/۲

بنه ده بنه ده دا دنیا   چه توبنه ده د عقبی
مذمت د دنیا مه کړه   واوره پند کړه دا ونیا
د دنیا په بازار کیږی   د هغه جهان سودا
په دنیا کښے وپیرحکت دے   ورشه وپښته حکما
که غلیم لره ئے ورکړے   غلیم دوست کا په هوا
که ترسرئے صدقه کړے   رفع دفع که بلا
که په داوریانه ئے کیږدے   بوی د عودو کا پیدا
که ئے توی په صحرا کړے   بنا ئسته کاندی صحرا
که ئے نذر کړے وپیرته   خوشحال دروی په خندا
څو ژوندے په دنیا پاتی   یاده وی د پ دعا
د حاتم په خیر و ستاق   خطاب درکا د سخا
سخی هر یو د خدائے دوست دے   و لو څان فا بسقا
هر بخیل د خدائے دښمن دے   و لو ځان زاهدا
دنیا کښت د اخرت دے   دا خبره ده رښتیا
د دنیا طالبان پیردی   که ئے مومی څوک د چا
ښه مرد پکښے هغه دے   چه سخی وی هم پارسا
په دنیا کښے بدی نشته   که بدی نه وی له تا
په دنیا کښے خطا نشته   که له تا نه وی خطا
دنیا بحر دے بهیږی   آئینه غوندے صفا
خپل خپل مخ پکښے لیده شی   که څوک نشت وی که زیبا
هم خطر پکښے د سر شته   هم ګوهر دے بے بها

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفادار لره وفا شوه　　جفاکار لره جفا
له یوه محمد ئے درد وی　　له یوه محمد دوا
چرته خوند کاندی د زهر　　چرته خوند کا د حلوا
کارهم وار په موقوف دے　　د سړی پر مدعا
سالکان د مدارج شی　　د خپل ځان په تماشا
هرچه کا هغه به مومی　　دنیا ځائے دے د جزا
لکه وی هسے به پاڅی　　که نادان وی که دانا
که دانا ئے وپوهیږه　　په روا په ناروا
فتوی وقسه په څه کړے　　پسے مه کړه په تقوی
دنیا نه ده هغه دین دے　　چه له نهی وی سیوا
وطاعت وته ولاړ وی　　همیشه تر لے ملا
له حرامو ئے پرهیز وی　　بیا ئے شپول وی پنځ بنا
کلمه ئے وی قبوله　　هم په جهر هم په خفا
د دنیا د کار د پاره　　فرض ئے موځ نه کاندی قضا
هم صائم د رمضان وی　　هم زکوٰة کاندی ادا
که ئے توان د حج موجود وی　　حج هم وکا پسے بیا
دا پنځه بنا د دین دی　　چه بیان ئے وکړ ما
چه ئے یون په دا طریق دے　　هغه کس دے اولیا
که ئے مال د دنیا ډیر وی　　هیڅ په نه کاندی پروا
دنیا بده د هغو ده　　چه ئے کسب وی ریا
ق یا ئے کسب د ریا وی　　یا ئے وکړي په غلا
یا ئے ټول کا په ظلم　　یا د خمرو په سودا



یا ئے وکا په شرابو　　یا ئے وکا په زنا
یا ناحق خونونه کاندی　　یا مالونه خوری د چا
عبادت کا په ځان فرض　　د بادشاه د امرا
حق باطل کا باطل حق کا　　په سبب د روئے ریا
نه ئے ویره وی له خدایه　　نه ئے شرم نه حیا
د یوے گیډے د پاره　　هزار خوئے کا پیدا
همیشه ئے له سمه　　خلق وی په غوغا
گوش وهوش ئے هرگز نه وی　　د مظلومو په ژړا
د فرعون په شان ناست وی　　بے پروا و کبریا
بت خانے وته ئے مخ وی　　و مسجد وته ئے شا
اختلاط کا له بدانو　　له نیکانو وی جدا
هیڅ ئے نه وی په خاطر کښے　　تولا و تبرا
و رحمان ته پیښه مه کړے　　خدایه هسے رنگ بلا

٢٢٠　٢ ٣/٣

چه له تا سره په سر کاندی سودا
بل به نه وی هسے ما غوندے شیدا
نه به ما غوندے شیدا وی په جهان کښے
نه به تا غوندے دلبر شی بل پیدا
ما به صبر ستا په جور و جفا وکړ
ولے نه شی د ژړا په ځائے خندا
بے د ستا له مخ کون دے که مکان دے
بند توبه ئے مه په دا شی نه په دا



جدائی به د هیڅ رنگ قبوله نه کړم
ځوے نه وی روح کالبوت سره جدا
لکه وروستو مقتدیان وړاندے امام وی
ما په تا پسے دے کړے اقتدا
زه یو نه یم درست جهان په تا مئین دے
که بادشاه دے که وزیر دے که گدا
ککے خط د امانیه و ما ر اکړے
چه له ما سره وعده کړے د فردا
زه ځکه په تا نه یم مئین شوے
ستا له لوریه په ما شوے ده ندا
زه په تا پاندے مئین یم له ازله
نه چه کړے مے نن ورځ ده ابتدا
چه د ستا د عاشقئ په تیغ اداشی
د رحمان غاړه به هله شی ادا
د رحمان و زیری مخ وته نظر کړه
چه مدام کاندی په تا پسے ژړا

٢٢٩　٩ ٣/٣

چه ئے لوئے کاندی په ودلاو په شرما
بیا پرے واقی زمانه د ویر ویښا
که هر ځو مے دلبری او د لویئ کا
زه پوهیږم د خپل یار په استغنا



په یوه گړی مے یار هم مے اشنا وی
بیا مے بله گړی نه گنی اشنا
دا زه خپله تسلے کړم یار ئے بولم
څه یاری ده د ناتوان او د توانا
یو زمان او یو دم به خپله صفه
زه بهتره تر بقا گنم فنا
هرسبب په یوے چارے خدائے مشغول کړ
زه مشغول کړم خدائے د ترکو په شنا
ما به عشقه بل هنر نه زده ناصحه
بخښنده و شه که نادان یم که دانا
چه مے غوږ په ناړو نه باسی حیران یم
پروا نه لری که ووړ دے که برنا
بے د یار له شه دید نه و خدائے ته کا
د رحمان په زړه کښے بله تمنا

٢٢٨　٩ ١٥/١٥

که تمامه تر سلطونه کښته کړے حلوا
مسیا خواست کوے له خدایه د تبورا
په هیڅ حال کښے د قرار و صبر نه شی
لیونے کړے ډیر حرص و ډیر هوا
تمامی عمر تر یار تر عزیز پورے
لوئے گیډے مے مخبور کړے هم رسوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په خپله رسوایي د پروا نه شي
تور به څه کړے په جهان د چا پروا
چه د نفس دپاره لاس وخوځوے نه شے
دا رحمت له خدایه غواړه که دوا
نفس به شاره عالم پسے پست وکوږي به
خدائے و نه کا نابینا د چا پیشوا
په روا په نا روا کله پوهیږي
وچار پائے نه څه روا څه ناروا
چارپایان که غویږ او سترګے لري څه شو
په معنیٰ کښے نابینا دي ناشنوا
زه رحمان له هغه علمه پناه غواړم
چه له وینه له مذهب وي سیوا

۲۴۶ ۲۱/۲۱ ۸

دل و دین مے هغه ترکے کړ رضا
لاڑے نه حساب وي د خان بها
د بنائست صفت ئے څو کوم حیران یم
په هیڅ رنګ ئے موندے نه شي انتها
د صورت له عیبه هسے پاکیزه ده
لکه ذات د وینیتو نشته دے پرهما
که ئے مخ په زلفو پټ دے بک ئے نشته
تل په کښې بانده پراته وي اژدها



لکه نمر هسے جلوه کا په شفق کښے
چه په سر کاندي اوړمنی د سُها
نه پوهیږم چه په کومه لار ورورومم
چاپیراسے ئے رقیبان دي هزارها
خدائے د هسے تنها نه کا څوک په غم کښے
لکه زۀ د یار په غم کښے یم تنها
همیشه د بیلتانه په غم کښے لولم
زه رحمان اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْهَا

۲۵۸ ۱۷/۱۷ ۲

که مئین ئے په خپل یار بانده ے رېښتیا
آواره کړه اول دین پسے دنیا
په وفا د دلبرانو غلط مه شه
دغه قوم دے بے وفا و کبریا
د خوبانو طائفه ده هسے شوخه
چه غوږ نه باسي د چا په واویلا
د ډیر ناز او د ډیر کبر له سببه
عمل نه کا په ګفتار د اولیا
دل و دین په نیم نګاه د سړي یوسي
نه ئے ویره له چا کیږي نه حیا
بل به هسے سرګردان په جهان نه وي
یا عاشق دے یا اسمان دے یا آسیا



نه چه ژغوږے سرو مال په عاشقي کښے
عاشقي دا هسے چرے ده ویریا
د جنت تر حورو تیر شه که یار غواړے
خدائے د نقده د چا نه کاندي نسیا
د ساقي له لاسه هسے باده نوش کړه
چه و غوځ کړه له زړه خیرے د ریا
چه ئے کسب عاشقي شي د دلبرو
نظر نه کاندي په کسب د کیمیا
عشق هنر د مخلصانو دے رحمانه
نه حصلیږي هلمي په زو زیا ق
یو ګفتار درلره بس کاندي رحمانه
څه په هر ساعت پښتنه کړے بیابیا

۲۶۹ ۱۸/۱۸ ۱۱

باد شاهي لري هر یو غلام د ستا
د خاصانو په خانے ناست وي عام دستا
پخته کله وي چه لاف د پخنګی کا
پخنګان دي په دا خم کښے خام دستا
خو هم هومره ئے په ننګ و نام نظروی
څو چا نه وي او ریدلے نام دستا
همیشه به له مقامه بے مقام وي
هغه څوک چه لټوي مقام دستا



څو په خپلو وینو ګل غونډ ے غرق نه وي
و به نه ویني رخسار ګل فام دستا
صبح وشام په هغو خلقو بانده عیدوي
چه ارزو لري هر صبح وشام دستا
بل کلام ئے په زړه کله اثر کاندي
چه تر غوږ ئے شي شیرین کلام دستا
فراموش کاندي همه تورے مستي
هر چه نوش کاندي باده په جام دستا
دام د ستا د تورو زلفو عالمګیر دے
تنها نه یم نښتے زه په دام دستا
هسے نه چه زه رحمان یواځے بند یم
ټول عالم دے بندیوان په دام دستا ق
زه رحمان دعا سلام په هغو وایم
هر چه ما ته راوړي سلام دستا

۲۸۱ ۱۹/۱۹ ۴

هر چه وویني په سترګو روئے دستا
غم ئے کوي وي همیشه په سوئے دستا
بے دماغه به تر سرو ماله تیر شي
چه ئے تیر شي تر دماغه بوئے دستا
که لوئي کړے څه به خاید خوئے نه کړے
چه په دا رنګ قامت دے لوئے دستا

نوبهار شه عالم سیر ذ بوستان کا
خدائے و ما وته بوستان کرکوئے دستا
ذ عیسٰی له دمه دم وهلے نه شم
چه خوله بیرته شی په گفتگوئے دستا
هم په داغ ‌لـه چشمانو جوئے بهیږی
چه یادیږی مے قامت دلجوئے دستا
همیشه ئے زړه په اوربانده سپندوی
وهغو ته چه ځرگند شی خوئے دستا
ذ لرم لاشه ئے ماته وی په زړه کښے
چه ئے نقش وی په زړه ابروئے دستا
وزنځیروته ئے څه لره واکاږے
لیونیو لره بس دے موئے دستا
وگرنگ وته پخپله ځان پرېباسی
چه و زړه وته پرېباسی ووئے دستا
که ته سل ځله زمائے زه دستا یم
تلونے نه دے نه ما جستجوئے دستا
گل لمبه شه ذ بلبل په آه رحمانه
نه گروهیږی یار په هائے هوئے دستا



حیف چه اوریده شی لیده نه شی
حسن لطافت دے پری وار ستا
بیا دوباره نه گوری و بل ته
هرچا چه لیدلی دی رخسار ستا
خدائے زده چه به ته دکوم یو یار ئے
هر طرف یاران دی صد هزار ستا
ځائے ذ پښو پښوے موندہ نه شی
هومره عاشقان دی په دربار ستا
بل به هسے نه وی کړے خدائے کا
ما غوندے خاکسار او هوادار ستا
بل گمان دا هسے بد په ما مه کړه
عمر واړه زه او انتظار ستا
عشق دے له حسن او حسن دے له عشق
ته نگار زما ئے زه نگار ستا
ته زما مطلوب زه دِ طالب یم
ته زما طبیب ئے زه بیمار ستا
ته که تازه گل ذ نوبهار ئے
زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جور که جفا ده که ستم دے
واړه مے منلی دی یکبار ستا
جور ذ چا ځوک په بها پیرئ
زه یم ذ جورونو خریدار ستا



۲۹۶ ۱۵ ۲۰/۲۰

خوئ که په دا شان وی دل آزار ستا
څه بنادی به کاندی طلبگار ستا



یو تار که ضائع شی ستا ذ زلفو
ځان په صدقه کړم تر هر تار ستا
سل الامانتونه ډ را وکړه
حیف دے چه لا نه شی اعتبار ستا
تیږ یم زه رحمان تر نوره کاره
اوس مے ملا تړلے ده په کار ستا

۳۰۵ ۹ ۲۱/۲۱

که ځوک یار په جهان غواری یار دے دا
یار دے دا که دجهان سنگار دے دا
خیال ذ زلفو ئے زما تر زړه چاپیر شه
یا تر گنجه چاپیر شوے مار دے دا
دا جهان دے خدائے له عشقه پیدا کړے
ذ جمله و مخلوقاتو پلار دے دا
تر عشق غوره بل څه کار په جهان نشته
تر همه کارونو غوره کار دے دا
به له عشقه روزگارونه واړه هیچ دی
که روزگار دے خو بهتر روزگار دے دا
هیڅ بلبل به ذ گل نوم اخستے نه وو
که خبر وے چه گل نه دے خار دے دا
بیا راتله ودے جهان ته بل وار نشته
بل وار نشته بل وار نشته وار دے دا



ذ حباب عمر ډ وگوری چه څو دے
که ځوک شمار کاندی ذ عمر شمار دے دا
ذ مجنون صورت په زړه کا رحمان گوره
ستا په عشق کښے هسے خوار و زار دے دا

۳۲۶ ۲۱ ۲۲/۲۲

چه امید په عمارت ذ دے دنیا کا
ذ کاغذ په کشتی سیر ذ دریا کا
ذ اسمان توسن هیڅ نه دے تیز ئے
ځوک په څه رنگه سوری ذ باد پشا کا
نه لیوه په آدمیت اموخته کیږی
نه امید ذ مروت شی له اژدها کا
له فلکه ذ وفا امید باطل دے
کله دیو له آدم زاد سره وفا کا
زمانه په اسلام کفر سمه گرځی
فرق ذ تور و ذ سپین کله نابینا کا
ما ذ دهر علامت په سترگو ولید
چه هر دم هزار پیدا هزار فنا کا
هیڅ امید دے ذ ایام په گردش نشی
چه فرصت به پخپل دور ذ ماړا کا
په خپل عمر به هیڅ لیدلے نه وی
هغه چارے چه ئے هر ساعت په ما کا

کہ دَ گلو غنچہ کیږدم په دستار کښے
شوم طالع مې هلته خار څخه پیدا کا
که و زرو وته لاس کړم خاورے کیږی
که دَ خاورو په آرزو شم استغنا کا
جدائی دَ خدائے بلا شوه نه توانیږم
خوشے زړه مې په دیدن پسے بلا کا
دَ دیدن شوی په څه رنګ سهیږی
قِ چه دَ حسن ابر هر نوری بریښنا کا
هومره صبر دے عاشق څخه له کومه
چه دَ نن وعده موقوفه په فردا کا
که دَ اور جامه را واغوندے دلبره
په نظر زما جلوه لکه دیبا کا
په خپل عشق کښے که څوک بد را باندے وائی
زه ګمان کړم چه همه زما ثنا کا
ملامت په عاشق بناٸی دا دستور دے
چه روغ خلق په رنځور پورے خندا کا
عاشق او ننګ و نام دی وبه لرے
په روښانه ورځ به څه رنګ څوک غلا کا
که زه طمع کړم دَ ګلو له طالع نه
ما عاجز لره دَ ګل په ځائے خار را کا
که زه ځان ژغورم په عشق کښے له غله
زمانه مې په جهان باندے رسوا کا



همیشه به په عالم کښے وی سُرخروے
چه ثنا لکه بلبل دَ خپل اشنا کا
دا خواب رحمان هغه کا چه دولت وے
که دلبر دَ دیدن مخے پیاپے را کا

۳۴۳ ۱۷ ۲۳/۲۴

هرچه ستا کوڅه ماوی کا — ځائے ئے بر شی تر افلاکا
ځان هاله ورته بادشاه شی — چه ئے ستا دَ در ګدا کا
چه دَ ستا دَ در ګدا شی — بادشاهی ورته شا کا
نظر یے دَ ستا له روینه — نه په ارض نه په سما کا
مینه یے دَ ستا له مخه — نه په دین نه په دنیا کا
ستا په مهر محبت کښے — ځان جهان واړه فنا کا
دَ دنیا کور او کوڅے — ستا په مینه کښے تالا کا
رضا ستا په رضا کیږدی — ترک خپله مدعا کا
په هرڅوا چه دستا څوی — دے هم څ په هغه څوا کا
که له چا سره جفا کړے — له هغه سره جفا کا
که له چا سره وفا کړے — له هغه سره وفا کا
که په عمر چرے خاندی — خو له تا سره خندا کا
که په عمر چرے ژاړی — خو په تا پسے ژړا کا
که مطلب ئے دَ دیدار وی — ستا دَ حسن تماشا کا
که مطلب ئے دَ ګفتار وی — ستا په ذکر مشغولا کا
دَ رښتینو مقام دا دے — که څوک مینه په رښتیا کا



عاشقان په عاشقی کښے — چه رحمان وائی هم دا کا

۳۴۸ ۵ ۲۴/۲۴

هسے نه چه زما یار واړه جفا کا
صد چندان لکه جفا هومره وفا کا
لکه زه چه په خپل یار باندے مئین یم
تو په سل هومره مینه یار په ما کا
زړه ئے وهه په احسان دے نه په جوړ
مجنون څکه په لیلی پسے ژړا کا
ورست جهان دَ خوبرویانو ناز پرورده
نه یوائے دغه ناز په ما او تا کا
مشکل نه ګوری رحمان و هغه مخ ته
چه فرښته ئے هم دَ حسن تماشا کا

۳۵۹ ۸ ۲۵/۲۵

چه په سترګو کښے ئے غاړی شریه خوب کا
چه په زړه ئے غم دَ یار وی څه به خوب کا
خوب له یاره سره هم دَ عاشق نه شی
چه ئے یار په بل دیار وی څه به خوب کا
په دنیا کښے خوب هغه کا چه نادان وی
هغه ژوی چه هوښیار وی څه به خوب کا
کوم طالب مطلوب موندلے دے په خوب کښے
هغه څوک چه طلبګار وی څه به خوب کا



دیدار نه دے چا په څو سترګو کړے
چه مطلب ئے دَ دیدار وی څه به خوب کا
بله لار دَ مرګ تر لارے ګرانه نشته
چه په خوائے هسے لار وی څه به خوب کا
هر نګاه دَ دلبرانو ذوالفقار دے
هرچه څرخ په ذوالفقار وی څه به خوب کا
زه رحمان دَ یار بنده او خدمتګار یم
چه بنده او خدمتګار وی څه به خوب کا

۳۶۳ ۶ ۲۶/۲۹

هغه ژوی چه مئین وی څه به خوب کا
چه مجنون او کوهکن وی څه به خوب کا
هر نفس دَ سړی تله دی له جهانه
چه ئے هر نفس رفتن وی څه به خوب کا
چه سبا له خپله یاره جدا کیږی
که دَ سلوشپو کېمن وی څه به خوب کا
عاشقی ده خدائے له اوږ پیدا کړے
چه په اور کښے ئے وطن وی څه به خوب کا
دَ اوبو تږی هم خوب کولے نه شی
ترو چه تږے دَ دیدن وی څه به خوب کا
دَ رقیب له جوره خوب دَ عاشق نه شی
دَ هغو چه دیو دشمن وی څه به خوب کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب خندا له بے غمیه شی رحمانه
څوک چه ستا په ژیر غرژن وی څه بخوب کا

۳۷۱ ۸ ۲۷/۷۷

هغه ژوی چه بے خدایه محبت کا
هسکی واره بے خایه محبت کا
محبت بے خدایه واړه د زړه رنځ دے
که مدام له چنګ و نایه محبت کا
خرخاری ده چه ئے یو خیله کاندی
هرخودرائے چه له خودرایه محبت کا
نتیجه ئے ریش کنده جامه پاره وی
ادم زاد چه له چارپایه محبت کا
هغه سرائے لره به تله وربانده ګران وی
هرسړے چه له دے سرایه محبت کا
بوالهوس به نه پتنګ نه پروانه شی
د مګس په څیر له ورایه محبت کا
چه د تورو زلفو سیورے په چا وشی
هغه کله له همایه محبت کا
رحمان څکه د ریبار متابعت کړم
چه رهرو له رهنمایه محبت کا



۳۷۹ ۵ ۲۸/۲۸

د بے دردو همدمی به د بے دردو کا
د نامردو همدمی به د نامردو کا
صحبت بے تاثیره نه دے داحدیث دے
کونګو شری د کونګو په څیر زردو کا
هرکالے چه څوک په زمکه باندے کیږدی
هغه زمکه ئے له جسمه د خپل ګردو کا
په مجلس د ویره ژلیو څوک ورمه شه
که صحیح و سلامت وی او سردو کا
چه دوڅ له میانه لرے شی رحمان
معشوق عاشق خپله نازپروردو کا

۳۸۸ ۳ ۲۹/۲۹

که په ګنج د شاهی فخر شهریار کا
عاشقان ئے د دلبرو په رخسار کا
خرقه پوشو په خرقه کښے دے موندلے
هغه حظ چه په دنیا کښے دنیادار کا
پتنګانو لره ورکړ خدائے په اور کښے
هغه عیش چه بلبل ئے په ګلزار کا
نیک ساعت په بد بدل د هیچا مشه
په وصال کښے غم د هجر ورده ځار کا
نفس د ګور و د موریود دے په معنی کښے
خو په چا ئے تور لعد په چا بازار کا



د بیری په وویده چه خدائے راضی شی
یکانکیه د ماهګیانو کله کار کا
هغه څځ چه مادرزاد ښائسته نه وی
مشقت د مشاطې واړه مردار کا
یار د ناز له خوبه پاڅی چه کرځی
چه فلک د عاشقانو بخت بیدار کا
نیمه شپه څوارتر سره پورے کښینی
لکه شمع چه څوک بله په مزار کا
د مستی د هوښیاری یون څرګند دے
په هرچا کښے چه څه وی هغه رفتار کا
د بلبلو نغمه زاغ کولے نه شی
هر سرود اواز په طور د خپل تار کا
رحمان هسے بے وقوف سوداګر نه دے
چه د دین متاع بدله په دینار کا

۳۹۷ ۹ ۳۰/۳۰

ق

هرګفتار هره وینا چه څوک عبث کا
تر عبث ویل دا به دی چه ئے بس کا
په ورومبی وینا چه دروستو پښیمانیږی
له اوله دی ئے نه کا تر څو ئے هسګ
هره چار چه له اختیاره وی وتلے
به هوده به ئے څوک لاځه د دسترس کا



فقیری د خدائے په مهرموندہ کیږی
د هنر په کبر نه شی چه ئے نفس کا
ادم زاد په معنی واړه یو وجود دے
یو وجود دے هم ئے پاک هم ئے نجس کا
که ئے اصل له یوه جوی دے څه شو
د ګلونو هنر کله خار و خس کا
معتقد له اعتقاده مقصود بیاموند
د هغو طاعت غلط دے چه وسوس کا
په اخلاص د نمازګذارو دے جنب دے
هر نمازی چه په ریا موځ او اودس کا
ته به ئے څه کوے رحمانه
د خودبینو سزا خپله خودی بس کا

۴۰۹ ۹ ۳۱/۳۱

چه امید په عمارت د دے جهان کا
لکه کرښه په اوبو هسے نښان کا
د اوبو په مخ د کرښے بقا نشته
په تابوو باندے تاحق د بود ګمان کا
نادانانو هسے دین په دنیا بائیلو
لکه ورکے ډر بدل په پارچه نان کا
د دنیا د دین نسبت وبله نه شی
اور اوبه سره استوګه په څه شان کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل ځائے د سرے ځواري هرچه ځواري
نه چه بے وریځے طبع د باران کا
عشق د نفس له خاصیته منزّه دے
کار د سترګو به څوک څه رنګ په دهان کا
لکه چشم وګوش په کار کیږي وبله بیل دی
هسے دین او دنیا حکم په ځان ځان کا
په پیرۍ کښے د ځوانیه خیال دے هسے
لکه څوک چه د باغ سیر په خزان کا
بے دګاهه ئے بل ځائے د رحمان نشته
په سفر استوګه څو مسافران کا

۴۲۶ ۳۲/۳۲ ۱۰

ق

دلربا که د خپل حسن مخ عیان کا
ډیر بے غمه جمع زړونه به لړزان کا
په کشور د صابرۍ به قیامت شي
اسرافیل غوندے اواز به هر نالان کا
چه ئے جام د لعلو لبو وی نوشلے
پیمانه د ځیګرخون په دا تاوان کا
د جبین په چین ئے هسے رنګ پوهیږم
چه محراب به د کاڼلو زړونو وران کا
د پریشان ګیسو دلیل ئے عین دا دے
چه وابست زړونه په دا رنګ پریشان کا



که جلوه ئے د جمال شي معیّنه
په شعله به ئے سپوږمۍ سوځان کا
که د باد ګذر ئے وی وخاک پائی ته
د ړندو سترګو دارو به خدائے اسان کا
که شانه په تورو زلفو باندے کیږدی
مښک عنبر به ډیوے پیسے ویران کا
تورے زلفے ئے هم مښک دی هم عنبر دی
خو زما له کم بختۍ ئے خدائے ماران کا
که پلوله مخه لرے کا رحمانه
په دیدن به هندو وارو مسلمان کا

۴۲۳ ۳۳/۳۳ ۷

زما اوښے چه دا هسے شست و شو کا
دا محنت واړه زما د مخ په ولو کا
تل ئے مخ وی تر خوبانو پورے ولاړ
عاشقي چه د چا اوښے په شیبو کا
د عاشق د سینے چاک به ورشګند شي
که څوک سر وخپل ګریوان وته فرو کا
د عشق اور چه شمع خوږ په سر قبول کړ
پروانه به څه محبت د ځان په سوو کا
ګل څه نه وائي چه غرق په ویتو نامت دے
بلبل څه لره بے ځایه ګفتګو کا



زه که مرګ غواړم بے یاره کرم خو نه یم
جدائي سرے به ځان پورے په کو کا
معشوقے په محنت نه دی چا موندلي
مګر خدائے ئے په رحمان باندے پیرزو کا

۴۲۹ ۳۴/۳۴ ۶

ورخ چه بده شي عاقل او دانا څه کا
چه قضا شي وړه وخاره حکما څه کا
مور او پلار خو نیک فرزند له خدایه غواړي
چه بدبخت شي ادے څه کا ابا څه کا
یار له یاره په لوئے لاس کله بیلیږي
چه لاس نه رسي یار څه کا اشنا څه کا
په بیړه به دعا څه شي کړونے خدائے دے
چه خدائے نه کا بیړے څه کا دعا څه کا
بخت به زه راو په زر نه دے چاپیل کړے
په دا کار کښے ناتوان څه کا توانا څه کا
اے رحمان پتنګ عذر شو چه وسوو
اوس د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

۴۳۴ ۳۵/۳۵ ۱۵

عاشقان د ناصحانو ویتا نه کا
مست هاتیان د مهوتانو پروا نه کا



واړه جور د دے دور مے قبول دے
که خدائے ما له خپله یاره جدا نه کا
چه د ګلو پریشاني شوه ورشګنده
غنچے سر په زانو کیښو خندا نه کا
وسیلاب ته د ډیوکي څه استاد دے
زړه چه زاري سترګے څرنګ ژړا نه کا
دنیا کل په احمقانو ده وډانه
دانا ځکه وابستګي د دنیا نه کا
خود پرست تر بت پرست په هرځوا ئے
سالک ځکه کار په خپله رضا نه کا
چه ئے زړه وی په هوا پورے تړلے
د حباب عمارت ځکه بقا نه کا
بے هنر دی چه څوک دین په دنیا پلوری
هنرمند سړے دا هسے سودا نه کا
که څوک وائي هوښیار کوم دے ولیه دا دے
چه بے خدایه نوره میته په چا نه کا
ګدائي که د مسکینۍ دا ئے ځلئے دے
هر بادشاه چه دلجوئي د ګدا نه کا
هر چه زړه ئے وی په یار باندے بایلولے
نوره میته په چا بے له اشنا نه کا
چه ترغوږ ئے وی ویتا د اشناشوے
هغه غوږ هرګز په نوره ویتا نه کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبه نه رسي د يار تر بلند بامه
چه د زړه غوږ روښن په ژړا نه کا
چه بیدل ئے په یوه نګاه رغیږي
څه انصاف دے چه دلبر ئے دوا نه کا
زه رحمان د هغه یار په جفا خوښ یم
که اغیار مے خدائے له میانه پیدا نه کا

۴۵۱ ۷ ۳۶/۳۶

څوئے يو ځله تاراج په جفا نه کا
يار له ياره سره مهر وفا نه کا
که ئے سر په بوسه ورکړم زه پوهیږم
چه قبول به دغه عجز زما نه کا
چه ځپله رضا تلے مادرزاد وي
هغه هیڅرے د نورو رضا نه کا
څو ئے ځپله مدعا حاصله نه شي
مهرویان په خوله د خضر سودا نه کا
که ئے سل ځله دعا کوم په عمر
ګوش وهوش د دعا کوئي په دعا نه کا
که اهونه اتشین پسے وکاږم
لکه سروه له خزانه پروا نه کا
که ارام غواړي رحمان په عاشقۍ کښے
دغه واړه ناروا کا روا نه کا



۴۶۷ ۷۹ ۳۷/۳۷

که سرے له ځپلے پوهے تقصیر نه کا
د خدائے کړه به څوک په پوهه تغییر نه کا
خواه ناخواه به د تقدیر شوي ورپیښ شي
که څوک هیڅرے نظر په تقدیر نه کا
د هغو چه بخت بیدار شه غم ئے نشته
که هیڅرے بیداري و شبګیر نه کا
دا له ځپلے کم فهمیه مونږه وایو
چه فلانا سړے تلاش وتدبیر نه کا
دلګیري او خوشحالي که په ځپل لاس وے
په ځپل لاس به ځپسر هیڅوک دلګیر نه کا
معرفت د خدائے څرګند دے په هر څه کښے
سترګے وغوړه چه څوک هومره نظیر نه کا
دا نفس په مثال برق صورت فانوس دے
برق به هیڅوک په فانوس کښے اسیر نه کا
د دنیا سړي صد واړه درماند دي
کوم بادشاه دے چه منت د وزیر نه کا
کوم واده کومه کوژدن ده په جهان کښے
چه فلک ئے واخر وته ویر نه کا
په خوله هر یو سړے اسم د پیر اخلي
یارے څه پکار چه نغوته د پیر نه کا



دغه نن د قیامت نه دي نور څه دي
چه د پلار ونیل په زویه تاثیر نه کا
هسے چارے له ناصحه واقع کیږي
چه له شرمه ئے هیڅ غل او کاسیر نه کا
په مرده پسے تکبیر وکا روان شي
هیڅ ګمان په ځان د هسے تکبیر نه کا
په دنیا پسے دریست عمر زهیریږي
ځان یو دم د خدائے دپاره زهیر نه کا
د ځیال دپاره تیر تر سر و مال شي
دلجوئي په یوه ټوک د فقیر نه کا
رحمان کرم دے چه ناړے د هجران اوري
و اشنا وته ګانه په خیر خیر نه کا

۴۸۰ ۳ ۳۸/۳۸

زړه مے بے ځپله نګاره ارام نه کا
کامراني راځنه غواړي ناکام نه کا
بے ناکامه زیست محال دے په جهان کښے
د کوم اس په غوله کښے وخل لغام نه کا
د اسمان ماڼي هم په قرار نه شوے
سالک څکه ځیال د قصر و د بام نه کا
ګاه ئے کښینوي په تخت ګاه په خاورو
زمانه رضا د هیچا مدام نه کا



په له سروے چه ازاد و خدائے پیدا کا
ترے ځکه وهیچا ته سلام نه کا
کوه و دشت هم د خزان له غمه زیږي
زرکه ځکه وچمن ته خرام نه کا
چا چه سر وي په سجده ویارته ایښے
دوباره له دے سجوده قیام نه کا
چه ئے کړه وي د یار په لورې لنډے
لکه بحر هسے دروي مقام نه کا
نشستن د عاشق نشته لکه شمع
څو صورت د عشق په اور کښے تمام نه کا
چه محظوظ دي په تش بوئي د مهرویانو
هغه فکر د بوسے د پیغام نه کا
چه لذت ئے د سرو شونډو وي موندلے
توره سینه د شرابو په جام نه کا
په هغو د لعلو لبو مے حرام دي
چه دا نور لذت ځپسر حرام نه کا
رحمان هسے وځپل یار ته بے محبت وے
لکه عذر و صاحب ته غلام نه کا

۴۸۷ ۷ ۳۹/۳۹

تر حد تیره شوه په یار پسے ژړا زما
نه ګروهیږي په ژړا زما اشنا زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



کہ مے هره وینا دُر او مرغلر شي
ستا دُ خولې لائقت نه لري وینا زما

په نارو به مابیدار کړې کہ خوب وړے وشے
یارے وبہِ راشہ وُوده شه دلربا زما

زه مکتوب شومہ پہ چټہ خوله خبرکرم
خاموشي زما تېرے کا تر غوغا زما

گیست دُ عشق په توده زمکہ اسان چیرے
مستدر بويه چه زيست کاپہ صحرا زما

دا یار نہ دے چه هجران لہ ماښہ بیل کړ
روح زما دے چه له تنه دے جدا زما

زه رحمان به خپلہ یاره هیڅ نه غواړم
کہ قبوله وی دُ خدائے پہ در دُعا زما

۴۹۵ ۸ ۳۹/۴۰

هرچا چه لیدلے نه وی یار زما
څه شو کہ بد وائي په کار زما

هرچا چه زما دلبر لیدلے دے
نه به کا انشاء الله انکار زما

سر زما او درگاه دُ هغه یار عزیز
به دے لاسه نشته بله لار زما

ما به عاشقیه نور هیڅ زده نه دی
هرچه دے هم دا دے واړه کار زما



هیڅوک دُ خدائے په خبله ازار نه کا
اے دلبره مهٔ اخله ازار زما

ستا دُ جدائیه په غمونو کښے
سینه دُ اوښیو درومي په رخسار زما

لوئے او هلک واړه ستا خبرے کا
بل گفتگوئے نشته په دیار زما

زه رحمان به لاف په عشق کښے څه وهم
خود په ځان څرگند کا انتظار زما

۵۰۶ ۱۱ ۳۰/۳۱

سل ځله کہ وڅوری ناصحان څیگر زما
بیل به څبلہ نه کا در دُ ستا او سر زما

ق تیر شه په دا طمع په درستا عمر زما
گوندے چیرے کیږی دے به قدم پسر زما

ق تا وے چه دُ عشق پیاله څو به ده ترشکرو
وسوه په هجران کښے دے پیالے ځیگر زما

ق سل جفا که وویم به ستر گو ستا له لاسه
ستا په جفا نه کیږی هرگز باور زما

صبر ستا په عشق کښے دا خبره څوک او زه څوک
نشته دُ دے چارے توان یو موئے قدر زما

ستا دُ محبت چار وانه وما نه عار دے
ولے خاوره نه شي په دا لار پشر زما



واړه معشوقے دُ عاشقانو خبر اخلی
بے له تا چه نه اخلے یو دم خبر زما

هیڅ اندوه مے نشته بے دُ ستا له جدائیه
نور اندوه به څه وی تر دغه بتر زما

خوب دُ کورو کلي په نارو زما برهم شه
څه چار ده چه نه شي ستا په زړه اثر زما

ق یا له ما رحمان سره جفا مه کړه دلبره
یا به تا را وښیه یو بل دلبر زما

درست جهان کہ واړه ما رحمان له دلبري شي
چرے دے دلبره به تا بل دلبر زما

۵۱۵ ۹ ۴۲/۴۳

هسے یاد یئے همیشه مدام زما
چه اوراد یئے په هر صبح و شام زما

هر کلام چه بے دُ ستا له یاده وکړم
سل توبے دی په هغه کلام زما

که بے تا دُ زړه ارام کړم په سل رنگه
نه شي نه شي به هیڅ رنگ ارام زما

ننگ و نام که ستا په مینه لرما دروی
خوار شه ستا تر مینے ننگ و نام زما

چه قائم شوم په مقام دُ عاشقیه
هیر شه دلے وته بل مقام زما



څو دُ عشق په خم خانه کے داخل نه کړ
پخته نه شه دغه عقل خام زما

ش دو وقت دے که مے آه و فریاد اورے
څو لا نه دے خاورے هر اندام زما

هزار جام و صراحي دے فلک مات کړه
څو به گرځي په دا دور جام زما

زه رحمان به دا ناکام کوم ترکومه
وایه کله به حاصل کړے کام زما

۵۲۵ ۳۲/۴۳

سر زما سامان زما ځار شه تر جانان زما
ځار شه تر جانان زما سر زما سامان زما

زیان زما نقصان زما واړه دُ یار هجر دے
واړه دُ یار هجر دے زیان زما نقصان زما

گل زما ریحان زما ستا رخسار او زلفے دی
ستا رخسار او زلفے دی گل زما ریحان زما

مشک زما زعفران زما ستا دُ کوڅے خاورے دی
ستا دُ کوڅے خاورے دی مشک زما زعفران زما

فکر زما توان زما ستا په غم کښے نه رسی
ستا په غم کښے نه رسی فکر زما توان زما

او زما افغان زما هیڅ په تا اثر نه کا
هیڅ په تا اثر نه کا او زما افغان زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۸

پیران د ماشیخان زما ستا په غم را نه رسي
ستا په غم را نه رسي پیران زما شیخان زما
زړه زما چشان زما بې تا هیڅ حال نه لري
بې تا هیڅ حال نه لري زړه زما چشمان زما
باغ زما بستان زما بې تا میوه نه نسي
بې تا میوه نه نسي باغ زما بستان زما
وصال زما هجران زما رحمانه واړه خیر دې
رحمانه واړه خیر دې وصال زما هجران زما

۵۳۲ ۷ ۴۴/۴۴

تور خوبان د ستا په خیر نه دي لیدلي ما
نه لیدلي نه په غوږو اوریدلي ما
هیڅ وفا د عاشقانو سره نه کا
دلبران د زمانه دي ازمایلي ما
چه مې ستا ونښکلي مخ وته نظر شه
نور بیا نه دي وبل مخ وته کتلي ما
د زړه غوټې مې ټیولې ستا غمونو
نور غمونه له خاطره دي ایستلي ما
چه مې کار د عاشقۍ په لاس اخستې دې
نور کارونه دي له لاسه اچولي ما
هم په دا مې نور غمونه له زړه وویست
چه په زړه کښې ستا غمونه دي کړلي ما

۴۹

زه رحمان بې یاره خوب وخندا نه کړم
خوب خندا بې یاره کله دي پسند لي ما

۵۴۲ ۱۰ ۴۵/۴۵

چه یې نقش په زړه خیال شي د اشنا
صدقه یې سره ومال شي د اشنا
پس له مرګه به یې ذبح په خیر رضا وي
چه اشنا په تیغ حلال شي د اشنا
په اسمان د اشنایۍ به یې مکان وي
چه زمین غوندې پایمال شي د اشنا
تر ابده به یې بخره ملالي وي
له هغه چه زړه ملال شي د اشنا ق
خوشحالي زما د زړه په هغه دم وي
په هر دم چه زړه خوشحال شي د اشنا
روح هغه ساعت داخل کښم په تن کښې
چه مې دخل په وصال شي د اشنا
نور د هیچا قیل وقال مې پکار نه دې
چه تر غوږ مې قیل وقال شي د اشنا
هم هغه یوه ګړۍ را باندې کال شي
چه یوه ګړۍ محال شي د اشنا
نه بل څوک زما طبیب بې اشنا شته دې
نه به بل څوک په مثال شي د اشنا

۵۰

د رحمان نظر په هیچا بند نه وي
چه نظر يې په جمال شي د اشنا

۵۵۱ ۹ ۴۶/۴۶

عاشقیه مې په زړه وکړې اثر بیا
بېلتانه مې لیبې بلې کړې په سر بیا
که دفتر د خپل قسمت مې په خپل لاس کړې
ما به ستا له غمه وران کړو دا دفتر بیا
ما به نوم د عاشقۍ اخستې نه وو
جدائیه راته جمع کړې لښکر بیا
پس له مرګه به یې بیا له تا قربان کړم
که صورت مې خدائې پیدا کړې په محشر بیا
د هجران محنت مې واړه له زړه هیر شه
چه مې ولیده په سترګو ستا بشر بیا
چه اسمان یې مخ پټ کړې په سحاب وو
خدائې وما وته ښکاره کړ هغه قمر بیا
چه رقیب راته ترلې په زنځیر وو
خپل حبیب راباندې پرانت هغه در بیا
په یوه نظر یې زړه را څخه یوړې
ترو لا ګوره که را وکا بل نظر بیا
په وصال یې منت بار وسه رحمانه
په صدف کښې دخل نه وي د ګوهر بیا

۵۱

۵۸۸ ۳۷ ۴۷/۴۷

هغه بیاموند سعادت په دا دنیا
چه یې بیاموند قناعت په دا دنیا
نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله
نه یوه ګړۍ طاعت په دا دنیا
یو نفس د خدائې په یاد و اولۍ تر دې
نه د درست جهان دولت په دا دنیا
په دنیا کښې لوی هغه عالمو وکړ
چه یې وکړ عبادت په دا دنیا
که نعمت دې خو طاعت او عبادت دې
ګنه نشته بل نعمت په دا دنیا
که محنت که مشقت دې خو د دین دې
پکار نه دې بل محنت په دا دنیا
بې له خدایه هر چه دي واړه فاني دي
که لذت دې که زینت په دا دنیا
که بادشاه دې اخر خاورو لره دروځي
څه عزت دې څه حرمت په دا دنیا
تر هغه به بل نادان په جهان نه وي
هر چه غواړي فراغت په دا دنیا
نه چه چند ګاهه فرصت په دنیا غواړې
چا موندلې دې فرصت په دا دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۲

عمارت په سرۂ ریګِ روان کاندی
هرچه کاندی عمارت په دا دنیا
ۂ مستانو تر لغزشه څه کم نه دے
ۂ سړی استقامت په دا دنیا
هر ژوندے چه ۂ مړوه په قبر ورشی
بس کا هومره نصیحت په دا دنیا
په روانو اوبو ورشه عمر ګوره
ډیر دے هومره اشارت په دا دنیا
دا پاخه پاخه سرایونه محلونه
خو به وران شی عاقبت په دا دنیا
وړے ستړګے د اسمان څه هسے نه دی
چه څوک پریږدی سلامت په دا دنیا
هرچه راشی همه واړه ځنے دروی
مسافر دے هرصورت په دا دنیا
ریاضت په قیامت نه شی مرد هغه دے
چه ئے وکړ ریاضت په دا دنیا
هم په دا خوی او خصلت به سبا پاڅی
خدائے څوک مه کړه بدخصلت په دا دنیا
هم هغه به ئے خرمن وی پس له مرګه
هرچه کاندی زراعت په دا دنیا
که هغه جهان په دا کښے لیده نه شی
نه ئے وینم علامت په دا دنیا

۵۳

په قیامت کښے به توبه وبله نه شی
مالیدلے دے قیامت په دا دنیا
امانت به د لحد په میان کښے پروت وی
هرچه وسی امانت په دا دنیا
نیک عمل حضور جنت دے طالع بویه
چه حاصل کا څوک جنت په دا دنیا
نیک کردار نیک عملونه نیک خویونه
هم جنت دے هم راحت په دا دنیا
ضدیت د سړی عمر په عذاب کا
پکار نه دے ضدیت په دا دنیا
لاس په سر په سینه پښے وهرچانه
هم دغه دے شرافت په دا دنیا
که بلنده مرتبه د چا په کار وی
لوئے مقام دے عدالت په دا دنیا
بل ارمان به له جهانه یو ورنه شی
مګر مهر و محبت په دا دنیا
ۂ هغه جهان سودا واړه دے ده
که څوک کاندی تجارت په دا دنیا
که طالع د سړی نه وی چار وتلے
هیڅ پټ نه دے حقیقت په دا دنیا
نیک له نیکو سره یو بد له بدو
که څوک غواړی ولایت په دا دنیا

۵۴

ولایت دے خدائے هغو لره ورکړے
چه ئے وکړ و سکونت په دا دنیا
که تمامه دنیا واړه سره یو شی
نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که څوک مرد دے نو هغه دے په دنیا کښے
هرچه نه لری حاجت په دا دنیا
چه رغبت ئے د جمله خطاؤ سر دے
څوک به څه کاندی رغبت په دا دنیا
په رحمان باندے دا عمر هسے تیرشه
لکه تیر شی یو ساعت په دا دنیا

۶۳۲ ۴۸/۴۸ ۵۴م

هوښیار مه ګڼه هوښیار د دے دنیا
بے وقوف دے وقوف دار د دے دنیا
روښنائی په هغو زړونو ده حرامه
چه پرے کښینی ګرد غبار د دے دنیا
پوچ ګوځ ده چه ئے اصل د دنیا کا
هر کلام او هر ګفتار د دے دنیا
د طفلانو په څیر واړه خټکبازی کا
هرچه کاندی کاروبار د دے دنیا
واړه ډکے خولے د پیو هلکان دی
کاردیده او پخته کار د دے دنیا

۵۵

همیشه به بے وقوف او بے شعور وی
چه مخمور وی په خمار د دے دنیا
د شرابو هم لا هومره مستی نه وی
لکه مست وی خمرخوار د دے دنیا
هر بیمار لره دارو په جهان شته دے
دارو نه لری بیمار د دے دنیا
د هر سوی علاج وشی په جهان کښے
مګر سوے په شرار د دے دنیا
لکه څوک چه سرو لمبو کښے د اور سوزی
هسے سوزی طلبګار د دے دنیا ق
هرچه اچوے و اور ته هغه سوزی
مور به نه شی طلبګار د دے دنیا
ګرفتار ئے همیشه په غم کښے ورپ وی
هیڅوک مه شه ګرفتار د دے دنیا
تل به پروت وی په ظلمت او به تورتم کښے
چه اسیر وی په کفار د دے دنیا
څه و بُت وته سجده څه و دنیا ته
بُت پرست دے پرستار د دے دنیا ق
په مسلمو کښے خاصه مسلم هغه دے
چه ئے وشلاوه زنار د دے دنیا
تن ئے پاتو شی بے سره سر ئے لاړ شی
سردار کله دے سردار د دے دنیا

زوپه لوښه یتیمان کا څښے دروځي
بے وفا دی مور او پلار ذ دے دنیا
همیشه به ئے پوښتن ذ غم پہ سروی
چه په سرئے وی دستار ذ دے دنیا
واړه غم دے که ئے پیرے یائے پلورے
تور څه نشته په بازار ذ دے دنیا
هسکی واړه ټکان دی ټیکی کاندی
فروشنده او خریدار ذ دے دنیا
په دنیا به میند نه کاندی هیڅوک
چه خبر وی په اسرار ذ دے دنیا
چه نظر ذ چا په دین او په ایمان وی
هغه نه کا انتظار د دے دنیا
چه ویریږی له کوهیه له ګرنګه
هغه نه دروځي په لارذ دے دنیا
هرسړی لره چه ورشی څښے دروځي
ما لیدلے دے رفتار ذ دے دنیا
اشنایان ئے همه واړه مکاران دی
څه ویسا دہ په مکار ذ دے دنیا
لوئے هلک ئے همه واړه اغیاران دی
یار دے څوک په دیار ذ دے دنیا
چه پیدا شی هسکی واړه فنا شی
راشه وګوره تاتار ذ دے دنیا



په یوه ګړی بهار بیائے خزان شی
بقا نه لری بهار ذ دے دنیا
که هزار هزار پښتیه ورته کیږدے
بے بنیاده دے دیوار ذ دے دنیا
که ذ اوسپنو حصار ترڅان چاپیر کړے
بنیښه وګڼه حصار ذ دے دنیا
لکه سیورے ذ افتاب په مخ کے ګرځي
نشته هیڅرے قرار ذ دے دنیا
هیڅ ګمان ذ بهتریه پرے ومکړه
کهتری دہ وار په وار ذ دے دنیا
بے مقراضه غوڅوی ذ سړی عمر
هم دا لیل او هم نهار ذ دے دنیا
پس له مرګه به حساب له سړی غوښت شی
په انداز او په مقدار ذ دے دنیا
عاقبت خو به یو موقه شی ذ خاورو
ګل عذار و ګل رخسار ذ دے دنیا
برابر به له ګدایه سره پاتی
شهزاده او شهریار ذ دے دنیا
پاس به داغ وی ذ لئیم په سینه باندے
هر درم و هر دینار ذ دے دنیا
ذ قانع تر قناعته صدقه شه
هم دنیا هم دنیا دار ذ دے دنیا



پس له مرګه به همه واړه مظلوم وی
ظالمان و ستمګار ذ دے دنیا
تر قیامت به دغه شل او دغه لس وی
پوره نه کړ هیڅ شمار ذ دے دنیا
چه ایام پرے ذ کفن ذ غسل ورشی
بے پردے شی پرده دار ذ دے دنیا
په تخته باندے بیرون شی له حجابه
شرمناک و شرمسار ذ دے دنیا
تر هرچا به پیغمبر څخه وه ویره
که څه قرب وے یا وقار ذ دے دنیا
یو فساد به ئے بیان په رحمان نه شی
فسادونه دی بسیار ذ دے دنیا

١١ ١/٢٩ ٦٣٣

# ب

زه په سل رنګه راغب ته په سل رنګه غائب
دا به څه رنګ شی دلبره چه زه مست یم ته تائب
که له جوره د فریاد کړم دا هم نه دی مناسب
که څه وایم نه مے رمی زه مغلوب یم ته غالب
څه سیالی برابری ده ذ مطلوب او ذ طالب
ذ ستا مهر محبت کړه خدائے په ما باندے واجب
درد و غم د هومره نه دے چه ئے وکښم په کاتب



جدائی ده ډیره سخته ذ ارواح او ذ قالب
چه مجنون په ځنګدن شه زه ئے پریښودم نائب
وصیت ئے راته وکړ په څو رنګه عجائب
چه روزی د شه رحمانه زما واړه مراتب

٣ ٢/٥٠ ٦٥٦

هسے مست یم ستا ذ شونډو په شراب
چه به نه وی بل دا هسے مست خراب
لاس ذ ستا دیښے اچوم و ګل ته
لکه بوټی ته لاس اچوی غرقاب
دا سرخی او سفیدی ذ ستا ذ مخ ده
که زما په مخ باران دے ذ خوناب
څه اثر به زما اوښے په تا کاندی
لا تازه شی اور په اوښیو ذ کباب
عاشقان د ستړګے روڼے کا په عشق کے
دا خوب نه دے دا منزل دے ذ سیلاب
ما چه خال ذ ستا ذ وروځو په میان ولیده
نه بل هسے رنګ امام شته نه محراب
نا پیری چه لیده نه شی سبب دا دے
مخ ذ ستا له شرمه نغاړی په حجاب
چه سبا شی ستا ترمخ پورے شرمیږی
څکه زیست په توره شپه کاندی مهتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



حجاب واخلہ مخ کړه توره د هغو خلقو
چه تحسین کا ستا په دور د افتاب
هسې نه چه زه دلبر وایم وتانه
خدائے دے تاله درکړے دا خطاب
ستا د مخ په ورق باندے خط وخال دی
د مصحف په صحیفو باندے اعراب
ستا د حسن حساب هیځ په رحمان نه شی
هم په دا چه بے حساب دے بے حساب
یو کتاب په سرو بن کښے چا ونه کړ
بے رحمان چه ئے کړے دے کتاب

٦٦٦ ٢ ٣/٥١

لاس مے وتړی د زلفو په طناب
بیا مے وپلوری د سترگو په قصاب
هسے آب ئے دے د دوو سترگو په تیغ کښے
چه بے سره په سر نه لری حباب
له فراقه چه ئے اوکرم سوک په سترگو
ق یو لستوڼے گرد باد وی بل گرداب
چه توسن د فلک زین کاندی له نازه
د هلال په خائے را ونیسی رکاب
په درگاه ئے دریوزه کاندی د حسن
کنډولے په لاس سپوږمیه هم افتاب



چه راپادے ئے سره شونډے سوئے پېزوان کړی
ترچشانو مے بهیږی سره شهاب
چه د مخ واب و تاب نه ئے نظر کړم
را ته هیڅ شی د گلونو اب و تاب
چه نسیم ئے د زلفینو راپیدا شی
د دست مے بوی کاندی په مشک او په گلاب
ما وے گوندے مخ ئے ووینم په خوب کښے
بارے چرے شی بے یاره د چا خواب
په غزل کښے څو دوه بیته انتخاب وی
د رحمان تمام غزل دے انتخاب

٦٧٨ ١٢ ٣/٥٢

هر مطرب چه خوږ ئے تاؤ کاد رباب
په دا تاؤ کښے زما زړه کاندی کباب
چه سامع ئے په نغمه په ترانه شم
دیوانه شم گرېوان څیرے مست خراب
هم ئے تار هم ئے گفتار هسے اثر کا
چه هیڅوک ئے نه طاقت لری نه تاب
یو ئے ساز بل ئے اواز وی د لبنتیو
دریم شعر پر آغاز کا انتخاب
څلورم ئے یو ساقی د ځنگه کښینی
چه مخ ئے نه افتاب وی نه مهتاب



دا څلور وارو فتنے په څلور کنجه
او پینځمه صراحی د میو ناب
شپږم وقت د نوبهار او د خوانیه
اووم شغل د بیاض او د کتاب
چه دا هومره افتونه سره قول شی
ترو څوک څرنگ ځنے کاندی اجتناب
چه دا هسے دلبران پر اثر نه کا
یا به دیو یا به دیوار وی یا دواب
ق مرد هغه چه تر سود تیر شی ثواب وکا
نه هغه چه ډیرئے سود وی لږ ثواب
راځرگند به شی پرهیز د پرهیزگارو
که قادر شی په شاهد او په شراب
زه رحمان له ریا زهده پناه غوارم
د ریا زهد عذاب دے هم عتاب

٦٨٦ ٨ ٥/٥٣

ورقونه لټوم د هر مکتوب
پکښے غوارم خال وخط د خپل مطلوب
یا تنور دے یا دکان د اسکرو
چه په عشق کښے تصور کړم خپل قلوب
په خندا خندا ځان لېوی واورته
خدائے څوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب



زه چه غم د مهرویانو را په زړه کړم
له دے غمه لاړ شی زړه راځنه دوب
گوره څه رنگ عشق اسان کړه وعاشق ته
دا مشکل مشقتونه د ایوب
عشق دے داچه معشوقه شوه وعاشق ته
بنه رخسار د مهرویانو په اسلوب
هغه څه پښتے له هجره له وصاله
چه پخپله هم محب شی هم محبوب
چه نظر ئے له صورته په معنو کښی
و رحمان وته یکسان شو زشت وخوب

٦٩٣ ٧ ٦/٥٤

چه نظر کړم په قسمت او په نصیب
را ته هیڅ شی خپل تلاش او خپل ترتیب
مگر خود پخپله خدائے د چا طبیب شی
گنه نشته په جهان کښے بل طبیب
راځرگند دی پسور وږده د رقیبانو
که خدائے نه کاندے خپل یار نما رقیب
چه خپل یار د چا رقیب شی ذلیل دا دے
لکه څوک چه په وطن کښے شی غریب
چه غریب شی په وطن کښے فرق ئے نه وی
که فرسنگ ئے وی ترمیانه که جریب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په عشق کښې هيڅ حاصل نه کړه بې غمه
هر چه وائي وايه بنه وائي اديب
دښمن هم د سري کله کله دوست شي
دوستي نه کا له رحمان سره حبيب

٧٠٥ ٤ ١/٥٥

# ت

افرين د عاشقانو په همت
چه په عشق کښې يک اندازه وي يک جهت
نه ئې هيچېرې تغير نه ئې تبديل وي
که تمام جهان پر وائي ملامت
که څوک سل نصيحتونه ورته کاندي
غوږ ئې نه وي د هيڅ يو په نصيحت
چه په يار پسې ترخان ترجهان تير شي
څوک کوې شي دا هسې مشقت
که تمام عمر ئې يار په ستړګو ناست وي
تمام عمر وربنکاريږي يو ساعت
که يو دم شي هغه يار ورڅخه لرې
هغه دم شي ورته عمر د قيامت
که دوزخ لره د يار په مينه درومي
دوزخ هم ورته جلوه کا د جنت
د عشق لار د توکل په پښو غوڅيږي
نه په پښو د رياضت و ديانت



په تدبير او په تلاش کله مونده شي
چه موقوف وي هغه کار په عنايت
د عاشق خاطر له ځيرو پاکيزه وي
د درياب په مخ کښې نه وي نجاست
حق حرمت د هغه يار په ما لازم دې
نه په يار باندې زما حق و حرمت
چه خدائې زره د مطلوب کا ځې کړ رحمانه
کا ځې پريوت د طالب په عبارت

٧١٦ ١١ ٢/٥٦

که مې وشي له دلبره ملاقات
يا به نه ځم له دې دره په حيات
پس له دې مې د استوګه خدائې نصيب کا
په دا در کښې که حيات وي که ممات
ځانې لري که زه ويار وته سجده کړم
هغه يار زما قبله دې د حاجات
د خپل يار تر لعلو ليو به ئې ځار کړم
که شکرې وي که قند وي که نبات
دا زما د يار جلوه ده چه ليده شي
لکه نمر په صومعه د سومنات
تر ما لا په دلبرانو وير مبين دي
چه خبرې کا د کشف و کرامات



د ريا له زاهدي زما توبه ده
چه ئې کاندي څوک په رسم او په عادات
په ورځ پند و نصيحت وائي و بل ته
په شپه ناست وي د مغان په خرابات
دين ئې دام وي د دنيا په لار کښې ږدې
پر زاړه وي وحشيان د مخلوقات
د هغو په لور ئې سترګې وي ختلې
چه په لاس ئې سرمايه وي يا زکوة
زه رحمان له هسې اهله پناه غواړم
هر چه لاف کا په خلاف د مقامات

٧٢٦ ١٠ ١/٥٧

# ث

يار يارې راسره نه که الغياث
نه ئې ترس شي نه ئې کړکه الغياث
سر و مال وايه زما و دل ارام ته
نه ارزيږي په کنځکه الغياث
په حملو حملو مې زړه وري نه پوهيږم
اپريدې ده که ختکه الغياث
بيلتانه ئې پېښور راته تنور کړ
له خيبره تر اټکه الغياث
څو چه راکاږي چوګان په مخ د زلفو
ګوې زما دا خراب زړه که الغياث



هيڅ سبب ئې ليده نه شي جفا کاندي
نه پوهيږم چه په څه که الغياث
په اخلاص او په راستي ورته ولاړيم
يار جفا هومره په څه که الغياث
سل خبرې که له صدقه ورته وکړم
يار يوه راسره نه که الغياث
چه مې ويني له رقيب سره خاندي
په ژړا مې ليمه سره که الغياث
زه رحمان مدام د يار په رضا درومم
يار په خپله رضا تله که الغياث

٧٢٢ ٧ ٢/٥٨

د وصال شپه مې بدله په بيلتون شوه الغياث
د قيامت خوارې را پېښه په ژوندون شوه الغياث
ما لا طمع د وصال د نعمتونو تر کوله
ناګهان کاسه نسکوره د ګردون شوه الغياث
هغه چار چه مې په لاس وه زه پرې نه وم پوهيده
اوس چه يوه شوم له اختياره مې بيرون شوه الغياث
د وصال په طمع طوق د جدائي شو راپه غاړه
هغه طمع چه زما وه اوس طاعون شوه الغياث
په حکمت په عقل پېښې د عشق څوک اخستې نه شي
په دا کار کښې ماته ملا د افلاطون شوه الغياث

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما رحمان دَ یار وصال په اسانئ موند لے نہ دے
زرد روئی مے سرخروئی په جگرخون شوہ القیاث

۹ ۳/۵۹ ۷۳۱

چه و شلے مے له تا دے دا حدیث
سرنامه دَ هر انشا دے دا حدیث
چه اغاز مے کړ په مدحه دَ خوبانو
خکه گنج بے بها دے دا حدیث
په ثنا دَ دلپسندو دلربا وُ
دل پسند و دل ربا دے دا حدیث
لکه باد دَ صبحدم چه غنچه وا کا
هسے رنگه دلکشا دے دا حدیث
چه اوصاف مے دَ سروشونډو پکښے راوړه
خوږ ترقند و ترحلوا دے دا حدیث
نه پوهیږم چه اوبه دی دَ حیاتو
که نفس دَ مسیحا دے دا حدیث
دغونډ ژبو شاعرانو دَ خولے نه دے
خکه هسے رنگ صفا دے دا حدیث
ستا و مخ ته که څوک شمس و قمر وائی
دروغ نه دی په رښتیا دے دا حدیث
که څوک وائی چه چاکړے دا حدیث دے
رحمان وائی چه زما دے دا حدیث



# ج

۸ ۱/۹۰ ۷۳۹

چه برهم کا عاشقی دَ چامزاج
حکیمان ئے درمانده شی په علاج
په اشنا پسے تل ژاړی په دوه سترګو
دَ اوبو په ځائے خوناب کاندی اخراج
دواړه لاس ئے وی له دواړه کونه وللی
دوب وی تل دَ عاشقیه په امواج
په هغو کښے چه څه بوی دَ عاشقی وی
پکښے نه وی بوی دَ رسم و دَ رواج
ابراهیم ادهم څه هسے نادان نه وو
چه نظر ئے یا په تخت وو یا په تاج
مجنون هسے رنگ میئن په لیلی نه وو
چه په نورو ئے موقوف وو احتیاج
لیونتوب دَ لیونیو تلولے نه دے
که ئے راج په خونه ورشی که تاراج
که ئے سر لکه منصور غوندے په دار شی
دغه دار دے و رحمان و ته معراج



# ح

۹ ۱/۹۱ ۷۵۸

ستا وصال دے راژوندے زما روح
ستا هجران دے راپرودے زما روح
ستا په مخ پسے ئے مخ ونیو راځی څه
له صورته دے و تلے زما روح
چه هرګز ملک الموت پر نه پوهیږی
هسے شان دے تا وګټلے زما روح
ځان مے هسے ستا په مینه پسے ورک کړ
چه هیڅ‌ها نه دے لیدلے زما روح
که وی هم په تا ئحهد وی که ئے خدائے کا
نه دے پیلے خوا نه قتلے زما روح
بلبل نه دے دا چه الوزی په ګلو
ستا په لور دے الوتلے زما روح
چه ئے خاوره کړ صورت دَ ستا په ورکښے
سر تر عرشه دے وکښلے زما روح
نه ئے پیژنے چه څه دے یا څه نه دے
دوړچا نه دے پیژندلے زما روح
زه رحمان له خپله ځانه خبر نه یم
چه په څه رنګ دے وکښلے زما روح



۸ ۲/۹۲ ۷۴۹

په طلب دَ مهرویانو سرګردان دے زما روح
لکه باد دَ ګل په بوی پسے پریشان دے زما روح
ستا دَ حسن و افتاب ته ځان سپاری په تبسم کښے
لکه صبح دَ ژړا په ځائے خندان دے زما روح
چه ئے ولیده دَ ستا دَ جمال عکس په خپل ځان کښے
هم په دا دَ ائینے په څیر حیران دے زما روح
ستا دَ مخ له ائینے له برکته زما جانه
همیشه لکه طوطا هسے ګویان دے زما روح
لکه رنګ دَ میونابو چه لیده شی په شیشه کښے
هسے رنګ په ضعیف تن کښے نمایان دے زما روح
منتظر دَ دَ وصال دَ ګلستان یم تل تر تله
سرتر پایه دَ شبنم په څیر چشمان دے زما روح
چه حاصل ئے له حسنه روښنائی شوه په طلب کښے
شپه او ورځ لکه افتاب په لار روان دے زما روح
ستا په زلفو په رخسار پسے رحمان یم بے وطن
مسافر دَ هندوستان و خراسان دے زما روح

# خ

۱۰ ۱/۹۴ ۷۷۹

ما سحر سبا لیدلے وو دَ چا مخ
چه مے درسته ورځ و نه لیده دَ ستا مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو څۀ زما و تا وته خدائےؐ هيځ کړ
ګنه هر يو اشنا ګوري ذ اشنا څۀ
ډير څو نه ذ جفا ډِ راڅرګند کړه
لا به کله راڅرګند کړے ذ وفا څۀ
څو ذ مرګ په تماچه اوښتے نه دے
اوښتو ته له تا مه ګيه زما څۀ
زه په تا پسے راغلے په دا څۀ يم
که ته نه وے ما به څه کول په دا څۀ
ما به څه لره په تا پسے ژړا کړه
که موندے شوے بل ذ ستا په ځير زيبا څۀ
ذ رقيب طمع مے نه وه ستا په در کښے
دا ډِ وښوو په جنت کښے ذ بلا څۀ
زه به څه رنګ ذ رقيب وڅ ته ګورم
کله اصل سنت ګوري ذ ترسا څۀ
ذ چکنا چکنی بيلتون په نيمه شپه وی
ستا زما په حال غماز شه ذ صبا څۀ
رحمان ستا په څۀ دا ورانه دنيا ګوري
خدائے به تا راڅرګند مه کړه ذ دنيا څۀ

۷۸۳ ۷ ۲/۹۴

کله شو لا کله خريدار يم ستا ذ څۀ
تير ترسرو مال په بازار يم ستا ذ څۀ



په ذ ستال مخ مے نور هيڅ په نه ګښے نشته
هسے رنګ نښلے په تاتار يم ستا ذ څۀ
هيڅ په سترګو نه وينم داخپل صورت چه ګوم ذے
دوب ترهسے حده په بازار يم ستا ذ څۀ
دود ذ اه وکاړم په بانه ذ تماکو
سوے لوغړن مدام په نار يم ستا ذ څۀ
نور وګرے واړه همګی ذ دنيا کار کا
زه هميشه غرق په انتظار يم ستا ذ څۀ
شکر چه ئے خلاص کړمه ذ خلقو له منته
سر په سجده پښے منت بار يم ستا ذ څۀ
هر و خوا چه دروم زه رحمان ذ زړه په سير
بل مطلب مے نشته طلبګار يم ستا ذ څۀ

۷۹۱ ۸ ۳/۹۵

چه پيدا شو ستا چشمان دا هسے شوخ
نور به نه وی مردمان دا هسے شوخ
لکه کږے ورو ځے کږے زلفے ستا دی
نه لرم شته نه ماران دا هسے شوخ
ډير غمونه شوخ شوخ شته دے په دنيا کښے
وے نه لکه هجران دا هسے شوخ
مګر ديو وی چه بے غم وی په هجران کښے
ګنه نه به وی انسان دا هسے شوخ



دا فتنه او فسادونه به وو چرے
که پيدا نه وے اسمان دا هسے شوخ
ذ اشنا له څيره زړه ذ اشنا څوی
افريده کړ خدائے جهان دا هسے شوخ
چه يوسفؑ به ذ دنيا په متاع پلوری
پيدا مه شه بل کاروان دا هسے شوخ
چه بوسه له ياره غواړی بے ادبه
خدائے ډِ نه کاندے رحمان دا هسے شوخ

د

۸۰۱ ۴ ۱/۹۶

باد شاهانو که قصرونه کړه اباد
ما ذ عشق عمارتونه کړه بنيا د
نوم ذ کوم يوه بادشاه هسے ياديږی
لکه نوم دے ذ مجنون او ذ فرهاد
عشق عاشق لره يو هسے پير استاد دے
چه به نه وی بل دا هسے پير استاد
دغه واړه کرامات ذ عاشقی دی
چه څوک قطب کا څوک غوث کا څوک اوتاد
ذ دنيا چارے همه واړه فانی دي
څوک به څه کا په دا چارو اعتماد
لکه سيورے چه ذ نمر په مخکښے ګرځی
نه استوګه چرته کاندی نه استاد



هيڅ وفائے ل هيچا سره و نه کړه
که جمشيد وو که بهمن وو که قباد
که جمشيد وو که بهمن وو که قباد وو
که نمرود وو که فرعون وو که شداد
رسولی ئے تر مراده هيڅوک نه دی
همه واړه هسے پاتو شو نامراد
نه چاختم نه دعا ورپسے وکړه
که ئے ال که ئے عيال وو که اولاد
زه رحمان ذ زمانے له جوره دروم
خپل صاحب لره په داد او په فرياد

۸۱۸ ۱۶ ۲/۹۷

زه که لاځم ذ وفا کوم هرچند
هغه يار مے باور نه کړه په سوګند
زه بے ياره هسے زيست کړم په جهان کښے
لکه زيست وی په مجمر کښے ذ سپند
ابروی ذ طالبانو خپل مطلوب وی
ابروی ذ غلامانو خپل خاوند
لکه يار مے سربلند دے په جهان کښے
په تاثير ئے هسے زه شوم سربلند
لکه يار مے چه څرګند دے په دا دور
زه هم هسے په دا دور شوم څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مې مدحه ډ خوبانو کړه اغازه
هر کلام مې دلپذیر شو دلپسند

لکه خوند لري زما خوږې خبرې
په شکرو کښې هم نشته هسې خوند

هغه قند چې خدائ زما په خوله کښې کیښوو
حلوایانو څخه نشته هسې قند

لکه زه چې سخندان و هنرمند یم
بل به نه وي سخندان و هنرمند

په اشعار کښې قوت ناک لکه مزرې یم
ولې نه یم ډ مزري په څېر ګزند

هم په مدحه به پوهیږم هم په هجوه
ولې نه یم په داچارو ویرخورسند

بې له عشقه که مې عیب که هنر دې
ما غوږ کړې دې له ځانه بل پیوند

زه عاشق یم سریکار مې دې له عشقه
نه خلیل نه داوُدزی یم نه مومند

چه و ما ته نصیحت کا څوک په عشق کښې
ګویا پلار ته نصیحت کاندي فرزند

هر سړې چه آئینه په لاس کښې خاندي
ګویا کاندي په څېل ځان پورې رشخند

رنګریزان ډ اول څیلې ویرې رنګ کا
بیا هاله ډ و رحمان ته واڼې پند



۸۳۸ ۲۰ ۳/۹۸

کړ قاصد ئې ډ مقصود
اواره کړه زیان و سود

هر چه دریښي په مخکښې
واړه وګڼه بهبود

هر چه دي سوا له خدایه
واړه وګڼه نابود

رضا پاسله و قضا ته
مدام خوښ وسه خوشنود

وهستي وته جلوه کا
لکه ابر هسې دود

ته وځان وته نظر کړه
چه قبول ئې که مردود

ندارچي ډ څپل صورت شه
چه مسلم ئې که جهود

امتي ډ ابراهیم شه
تابع مه شه ډ نمرود

ډ غفلت له خوبه پاڅه
څو به وسې خواب آلود

مقید او مشغول وسه
په دُعا او په درود

اسمان طوره په رکوع شه
زمین طوره په سجود

هر اشیا ډحق ثنا کا
په نغمه لکه داوُد

که بیدار شې خوبه اورې
په هر لوري دا سرود

که ایاز شې په بندګي کښې
نور به ناز کړې په محمود

هر اسباب ډ بنو ډ بدو
مهیّا دې هم موجود

که دانائ وید بیل کړه
فرموده و نا فرمود

څو سپند نه شي په اور کښې
نه وي خوند ډ بوي ډ عود

ځان له خپه پاکیزه کړه
لکه بحر نامعدود

هلاک څکه شه رحمانه
چه پاک نه شه دا وجود

رحمان بې ډ یار له ذکره
نه زده بل ګفت و شنود



۸۳۹ ۱۱ ۱/۹۹

# د

چې مې یار ولید په سیمه ډ اغیارګي
له غیرته مې لیده شوه په خونبارګي

زه په یار پسې له خلقه هسې بیل یم
لکه نشته ناپیدا په دا بازارګي

دغه حق ډ بلبلانو په جانب دې
خدائ د ته کا مبنګیوک په لاله زارګي

زه په وصال کښې هجران هسې بخښمه
لکه څوک چه خالي لاس وي په بازارګي

زړه مې بې خپله نګاره ارام نه کا
که هر څو ئې کړم په نقش او په نګارګي

په امید ډ زلفو وتبسم په دام کښې
رو هیلې وم ساده دل په هند و بارګي

ډ دیدن په ګدائي کښې مې تنګ نه شي
دروېزه کړم ډ بتانو په دربارګي

سخت سفر ډ عاشقي څوک او زه څوک
خدائ ناقلب پر راکړ کړم په دا لارګي

ډ وفا ډ ګلو پا لې یکښې نشته
کشکې مه وې ډ دې دهر په ګلزارګي

که څوا تراشائي پیلتون لیده شوې
هیڅ بنده ډ خدائ به نه وو په دا کارګي



زه رحمان ئې ډ فردوس له غم خلاص کړم
چه په ګلي په کوڅه شوم ډ څپل یارګي

# ر

۸۶۲ ۱۳ ۱/۷۸

دا څه مخ دې منور
چه هم شمس دې هم قمر

دا څه زلفې دي مشکینې
چه هم مشک دي هم عنبر

دا څه پیوسته ابروئې دي
چه هم نیش دي هم نشتر

دا څه سترګې دي قاتلې
چه هم سیف دې هم خنجر

دا څه شونډې دي میګونې
چه هم مې دي هم شکر

دا څه سپین سپیڅلي غابن دي
چه هم دُر دي هم ګوهر

دا څه سیب زنخدان دې
چه هم سیم دې هم ثمر

دا څه قد او څه قامت دې
چه هم ګل دې هم عرعر

دا څه ملا ده باریک وضعه
چه هم موئې دې هم کمر

دا څه زړه دې ډ خوبانو
چه هم موم دې هم حجر

دا څه یار دې نه پوهیږم
چه هم دل دې هم دلبر

دا څه بت دې زما ربه!
چه هم بت دې هم بشر

دا څه شعر دې رحمانه!
چه هم ګنج دې هم هنر

۸۷۹ ۱۷ ۲/۷۱

زه تیر شوې یم سرسر
په طلب ډ څپل دلبر

څو ژوندې یم په دنیا کښې
پرې به نه یږدم دغه در

ذ اشنا په طلب گرځم    وچې شونډې لیمه تر
یو قدم مې دے په بحر    بل قدم مې دے په بر
دواړه لاس مې وی نیولی    هم په شام هم په سحر
مناجات مې وی خدائے ته    که ئے وویښم بشر
همیشه له خپله بخته    گیله مند یم مرور
چه په ما ئے پیرزو نه کړ    ذ خوبانو یو نظر
هم ئے و نه ښو وماته    بې له عشقه بل هنر
عاشق مې خدائے رسوا کړه    په جهان کښې لکه نمر
نصیحت راباندې نه کا    لکه موږ ئے هومره اثر
واوره غوږ یاسه ناصحه    کوتاه وایم مختصر
په مولٰی مې د سوګند وی    هم په روح ذ پیغمبرؐ
جاروانه مې بیرته نشته    چه عالم شه واخبر
تر مئینه به ئے خار کړم    که مې سیم وی که مې زر
که مې سیم وی که مې زر وی    که مې دُر وی که گوهر
زه رحمان تر هر څه تیر یم    تیر به نه شم تر دلبر

۳/۷۲

په نظر ذ بې بصر    لکه شام هسې سحر
لکه شام هسې سحر    لکه سنگ هسې گوهر
لکه سنگ هسې گوهر    لکه خاورې هسې زر
لکه خاورې هسې زر    لکه خیر هسې شر
په نظر ئے معلومیږی    همه واړه برابر



که څوک بد ورسره وکا    تر بد یه وی بد تر
که څوک بد ورسره وکا    تر نیکیه وی بهتر
نه په بد وئیل زهیر وی    نه پر بد وی ذچا زبر
په صواب او په خطائے    نه دلیل وی نه نظر
نه اګاه په خپل بهبودی    نه اګاه په خپل ضرر
نه په عیب څه پوهیږی    نه پوهیږی په هنر
لکه رندن او کوڼ چه کوری    هسې هیڅ نه وی خبر
له طاعته له گناهه    څه خبر وی څناور
څناورو نو رڅه نه زده    یا ئے خوب وی یا ئے خور
دا خو نه ئے زما نفسه    چه د زه کړم کورو کر
تمام وړے له عقله    په دنیا چیچی او ستر
نه د فرض ذ خدائے ادا کړه    نه سنت ذ پیغمبرؐ
نه د مرګ په ژړا کښې یادوې    نه خواری ذ محشر
ووده پروت ئے داو نه زده    چه په خوا لرم سفر
په هر دم در څه دردی    که پوهیږې دا بشر
هغه تور ویښته د څه شو    چه هم مشک وو هم عنبر
هغه قد د مجنون بید شه    چه چنار وو هم ښبېر
ښی د درست زیر و زبر شه    زړه د نه شه لر و بر
تر پنځاه تر پنځه تیر شوې    نه لا څان یو لے پسر
نه د ترس شی نه د وېره    نه په زړه باندې اثر
بل به نه وی لکه ته ئې    هسې شوخ او څیګرور
په غفلت د عمر تیر کړ    نه رهرو شوې نه رهبر



عبادت د ذ ریا شه    لکه ډک په لاکو زر
لکه قلب نا سره مهر    پټ په زړو کښې مجر
لکه پټ وی په دانه کښې    سل اغزیه ذ شجر
لکه سحر چه برپائے کا    سحر کر و جادو گر
لکه تش صورت بې روحه    چه تصویر کا مصور
لکه تش کدو بې مغزه    میان خالی و ښی پرور
لکه زړې په میوه کښې    درون سنگ بیرون ثمر
لکه بې لاسه لستوڼے    سر تر پایه پائے تر سر
لکه ټګ او دغا باز وی    په مرغانو کښې دکر
لکه بې نمکه ناوړے    چه په سر کاندی میزر
تر میزر لاندے چاته زده    چه دختر وی که مادر
نه ئے حسن نه جمال وی    غولوی خلق په زیور
هائے له هسې فریبیانو    لکه زوړند چاوډ کمر
نیم په ژمکه کښې دننه    نیم بر خیره لکه غر
په دستار کښې ئے مسواک وی    تر بغل لاندے خنجر
په ایرو کښې پټ بڅرے    په وېښو کښې پټ ژور
په شپه وینه ذ مظلوم خوری    سبا کښیني په منبر
په زړه تور لکه تبی وی    په مخ سپین لکه قمر
ذ دنیا په طلب گرځی    خپسر بولی قلندر
کلمه په ژبه وائی    په زړه نه لری باور
په مثال ذ منافقو    نه مسلم وی نه کافر
نه مسلم وی نه کافر وی    نه ښځلا نه صرور



پریشان گرځی سرو هیله    کوڅے په کوڅے او در په در
همیشه رفت و آمد کا    ذ زردارو په گذر
په کوشه ذ دنیا دارو    گوره خورگی کا لکه خر
اورنګ زیب هم یو فقیر وو    چه توپه ئے وه په سر
و توپه وته ئے شاکره    چه قادر شه په افسر
خو ئے هومره فقیری وه    چه څه نه وو میسّر
چه فلک ئے یاری وکړه    نور ئے ملک کړ مسخّر
گوره څه چارے ئے وکړے    په عیال ذ خپل پدر
وار په وار ئے تر تیغ تیر کړ    ذ خرم تمام پسر
یو پسر ذ خرم څه وو    ډیر عالم ئے کړ ډېر
تمامی جهان ئے ونغرڅ    چه ئے لاس شه پاندې بر
په فریب فریب ئے خپل کړه    بیجاپور او باک نګر
بیجاپور باک نګر څه وو    لاجنبی او جیغباور
هم ئے هند په ډک واخست    هم کابل هم پښاور
بیا ئے ذکر شوه په زړه کښې    بادشاهی ذ هفت کشور
له حرصه ورته هیڅ شو    هم دارا هم اسکندرؑ
خیال ئے دا وو په خاطر کښې    چه به خپل کړم بحر و بر
بارے ورځ ور څخه لاړه    وقت پر راغے نماز دیگر
نه ئے مراد ذ زړه حاصل شه    نه ئے مخ کړ خپل ښهر
همګی شو څلے پاتو    که ئے ملک وو که لښکر
خالی لاس له دنیا ووت    لکه عین دروېزه ګر
له دنیا ئے هیڅ یو نه وړه    مګر شوئے یو څادر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوار حیران په زمکه پرېوت — بې بالین و بې بستر
نه پوزې شوه تر ذ لاندې — نه تر لاندې شه ټغر
ذ بېځې په څېر خفیف شه — چه ثقیل وو لکه غر
ذ سیلاب په مخکښې لاړ شه — لکه خس وی یا وزر
حق ئې پاتو په گردن شه — ذ سپاهٔ او ذ چاکر
اوس ئې زه په روح دعاگرم — که ئې خدائې کا بهره ور
حق تعالیٰ ئې په نصیب کړه — شیرین حوض ذ کوثر
ذجنت په خوشبوئ ئې — خدائې دماغ کړه معطّر
په دوست هند باندې ئې حق وو — هند یو شپه وه دې ئې نمر
ذ دې نمر په روښنائید — تمام هند وو منور
په رڼا ئې خلقو زیست کړ — نه څه خوف وو نه خطر
څو چه مخ ئې په غروب کړ — نور پیدا شه شور و شر
چې په نام ذ اورنگ زیب وو — وخوړ کاؤ صفه دفتر
اوس نوبت ذ شاه عالم دې — دور طور شه دگر
خدائې زده څه بازی شي پېښ — عاشوره شي که اختر
رنګارنګ بازۍ کاندې — دا اسمان دې بازیګر
کله تلخ شي لکه زهر — گه شیرین لکه شکر
څه چه وشو صفه وشو — لا به کیږی مقدر
ما خو نوم ذ اورنګ واخست — دا احوال دې ذ هرهر
هر سړې ذ خپلې خونې — هم بادشاه دې هم سرور
هر چه اصل ذ دنیا دی — واړه هسې دی اکثر
دا بیان دور و دراز وو — رحمان وکړ مختصر



۹۹۸ $\frac{۴}{۷۳}$ ۱۹

چه په زور ورسره نه ئې برابر
ذ هغو له ځنګه مه کښېنه زېه ور
زورآور اور او اوبه دی فهم وکړه
چه ډوب نه شې یا و نه سېځې بشر
زندګی که بې اوبو بې اوره نه شي
تل هم ئېښې هیڅ نه دی په ته ټر
خدائې ورمه وله سیلاب ذ چاپه خونه
که په قطع هم اوبه وی ذ کوثر
و ئې نه لګیږی اور په کور ذ هیچا
که رڼا ئې وی ذ شمس او ذ قمر
چې درست صورت خلیل شي په اغزیو
وخورمه شه ذ هغې وئې ثمر
ذ هغه دیوال په سیوری څوک کښې مه نه
چه ولاړ وی لکه زوړند چاوده کمر
چه په کیده وځرخیږی مخ ئې ورک شه
که ذ سرو زرو چاړه دی یا خنجر
نا کرده سودونه ډیر دی په دنیا کښې
سود هغه دی چه ذ خیر وی نه ذ شر
و اوبو ته اچوه نه شي ګمان خورو دې
کنه ډیر دی په دریاب کښې دُر گوهر



چه له ایه له حرمته سره نه وی
خدائې ورمه کړه وچا هسې سیم و زر
زور اور که رسوی وچا ته فیض
له دې فیض سره وګڼه ضرر
په یاری ذ زوراورو غلط مه شه
مګر دا چه ترده ته ئې زوراور
په هر کاه چه دې مغلوب وی نه غالب ئې
ترو هاله ئې قدمونه ږده په سر
یا خو دا چه که قدم ئې په در ږده ئې
دغه پسه ئې ځان وګڼه پدر
چه هنر ګڼې یاری ذ زوراورو
بول وکړم زه رحمان په دا هنر

۹۹۹ $\frac{۵}{۷۴}$ ۱۱

پورته بدر واګرځید شه شکسته نمر
شکسته پورته واړه مخ دې ذ دلبر
نمر سپوږمۍ ئې ذ پالنګ دپاسه رغړی
چه مې یار په بالښت وکوی سر
په سرو سپینو درو لعلو ئې غوږ ډک شي
چه مې غوږ کاندی ذ اوښیو په درور
چه ئې ووینم په مخ مې اوښې درومی
لکه موم چه په افتاب شي برابر



بل مذکور ئې مخین کوی ستر ګونه زوه
بې له دې ذکره چه الله اکبر
ضد دی اور او اوبه بې دیار له شونډو
چه هم اور دی هم اوبه دی ذ کوثر
په شرابو کښې خوند نشته ذ شکرو
ذ یار شونډې هم شراب دی هم شکر
که سل څله پټ ترشونډو لاندې خاندې
نه پټیږی اب ذ لعل او ذ ګوهر
دا څو مالره خدائې راکړ ګنه نشته
هسې بُت په بت خانه کښې ذ آزر
پس له دې به په نام ذ فرښتو بولم
هم په دا چه نشته دا رنګه بشر
که رحمان صاحب نظر یاد شي بیا نو
چه مدام ذ یار په مخ لری نظر

۱۰۰۹ $\frac{۶}{۷۵}$ ۰

هومره اوښې مې بهیږی په رخسار
چه غرقاب مې هم ګردوان دې هم کنار
هغه یارې هسې ناست ذ زړه په سر دې
لکه ئېښې چه چاګل وی په دستار
که څوک وائې چه مار کله په کټ خیږی
زه خوړلې یم په کټ ذ زلفو مار

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د یار بیمارے ستر ګے خدائے خوږ کړے
ګنه خوږ کله کولے شي بیمار
که په دار شم زه د یار له لاسه خوښ یم
سرو قد دے زما یار و زما دار
بس کا داچه زه په یار پسے غوځ غوځ یم
خدائے د نه کا لکه زه یم هسے یار
هومره جور لکه یار له ما سره کا
یاد ے نه دے هومره جور د اغیار
دلبری خو کوي کر هم په کوږو و کا
هغه وایه چه بے کوږو شي دلدار
چه د زوږو د تماشے بے پروا دي
شرو که زه د سړي یوسي څه په کار
په کرلو ان ئے تل د او بشیو باران وورې
نه ورکیږي د رحمان د زړه غبار

۱۰۱۹ ۱۰ $\frac{۷}{۷۶}$

چه د زړه پورے شي استوار
دا جهان د د نیکه دے که د پلار
نه چیل پلار او نیکه ګوره چه څه شو
هسے ستا دے په هغو پسے رفتار
تل د ید میږه د دوستي پټول دے پر تیریږي
کړے نه دے چا په پله باند ے قرار



هسے نه چه زه تنها و تا ته وایم
راغله لاړه ستا په طور صد هزار
دعوي مه کړه په ناحق به ئے خپل نه کړے
پردے ښهر پردے ملک پردے دیار
چه اسنوګه په پردي وطن کیږے کاندي
هغه نه لري هیڅ وک او اختیار
که هزار قسمه وخوري په معامله کښے
نه کا څوک په مسافر و اعتبار
چه په صبح شګفته شي په شام ریږي
څه امید دے په ګلونو د ګلزار
که د ورور که د عزیز وي که د یار وي
مه ئے ورور مه ئے عزیز ګڼه مه یار
چه پیدا شي هکلي واړه فنا شي
اے رحمانه دا جهان دے دائے کار

۱۰۳۵ ۹ $\frac{۸}{۷۷}$

څو جفا قبوله نه کړے د اغیار
و به نه وینے په سترګو مخ د یار
چه اول ئے خار د رقیب شي په پهلو کښے
غنچه هله شګفته شي په ګلزار
جنت چا په ریاضت موندلے نه دے
ولے بویه عو بندګي لره خپل کار



که موند د شوے خوشبوي په خوشخوي
پروت به نه وو د چندن د پاسه مار
اب تر لعلو د لاله د ګلو و پردے
بخت دے داچه څوک عزیز کاندي څوک خوار
هسے زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفے د خوبانو په رخسار

۱۰۳۶ ۱۱ $\frac{۹}{۷۸}$

څوک د راکاندي قسم په کردګار
که درم لرم په کور کښے یا دینار
زه دینار و درم نه لرم په کور کښے
ولے نور خلق مے بولي دنیا دار
هم په دا چه نه له څایه چرته خوځم
نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار
نه مے بنګه ملک لیدلے دے نه پوره
خبر نه یم په یمین او په یسار
اب و خور لکه آسیا په څائے را رسي
په خپل کور کښے مے سکون دے هم رفتار
لکه ونه مستقیم په خپل مقام یم
که خزان راپاندے راشي که بهار
توکل مے لاس و پښے کړے په نګریځو
چه په څائے ئے کښینولے یم قرار



چه زما په باب ئے کښلي دي رازقي
که راحت دے که زحمت دے وار په وار
چه هژده هزار قومونه ئے پیدا کړه
مربي مے دے هغه پروردګار
کار همه په اراده د خدائے موقوف دے
هیڅ موقوف نه دے زما په انتظار
غم به هیڅ مے و نه کا په دنیا کښے
که څه کیږي د رحمان په اختیار

۱۰۳۴ ۸ $\frac{۱۰}{۷۹}$

دغه یار دے دا اغیار — دغه ګل دے دغه خار
دغه ګل دے دغه خار دے — دا منصور دے دغه دار
دا رقیب دے دا حبیب دے — دغه ګنج دے دغه مار
دغه عقل دغه عشق دے — دغه غم دے دا غم خوار
دا هجران دے دا وصال دے — دا خزان دے دا بهار
دا طاعت دا معصیت دے — دغه نور دے دغه نار
دا عالم دے دا جاهل دے — دا خفته دے دا بیدار
دا رحمان دے دا جانان دے — دا طبیب دے دا بیمار

۱۰۵۱ ۷ $\frac{۱۱}{۸۰}$

هر چه نه وي خوار و زار — په طلب د خپل دلدار
تر پرونی صدقه شه — د هغه عاشق دستار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هزار حیف دے هزار حیف دے — هزار ځله لا صد هزار
چه عاشق په عاشقي کښې — نه حلال وي نه مردار
نه پتنگ د خپل څراغ وي — نه بلبل د خپل ګلزار
نه مجنون غوندے رسوا وي — نه منصور غوندے په دار

دوا یې نه کیږي رحمانه
یا به یار شي یا ویزار

۱۰۹۰ ۹ $\frac{۱۲}{۸۱}$

په بزرګۍ د هغه پاک پروردګار
موقوف مه شه په سري د سري کار
په سري چه د سري غرض موقوف شي
نور به ابد به حرمته شي روزګار
احتیاج هسے بلا ده په جهان کښې
چه پلار زوی کا د زوی زوی په پلار
که د پیر په خپل مرید باندے غرض وي
هیڅ یې نه وي په مرید باندے وقار
زمانه هسے بے مخه ده بے رویه
چه غالب کا په اسلام باندے کفار
په ساعت کښې شاه ګدا ئې کا ګدائے شه کا
دا فلک ځکه باله شي کږ رفتار
چه همه عمر یې تاج وي په سر ایښے
ور په سر کاندي ګیږه د خس وخار



چه قادر نه په درم نه په دینار وي
په هغو باندے ګنجونه کا انبار
زمانے د رحمان زړه دے کباب کړے
له احواله یې څوک نه دي خبردار

۱۰۹۹ ۹ $\frac{۱۳}{۸۲}$

که د عشق لاره اغزنه ده هرګور
د عاشق په پښو څپلۍ دي د اور
که دیدن د د ګلزار په انتظار شي
زما سترګے دي شبنم غوندے څلور
تیغ د او سپنے محتاج د نرم اب وي
قرب و حلم یو په سله وي تر زور
له لوځ له سرکښۍ زما توبه ده
خدائے څوک مه کړه د احسان په شیر شکور
خدائے زده ځه سودا به پیښه په بازار شي
د بازار خبره نه شي په خپل کور
دا همه واړه عاشق لره پیدا شوه
که تهمت که ملامت دے که پیغور
جفا جور ناز او کبر د خوبانو
ما په ځان دي قبول کړي لکه پور
راحت بے زحمته نه دے چاموندلے
غم ښادي دي د دے دهر خوراو ورور



رحمان هسے په خپل یار پسے غوځ غوځ یم
لکه غوځ په خپل اولاد وي پلار و مور

۱۰۹۰ ۲۱ $\frac{۱۴}{۸۳}$

پس له مرګه که څوک ارت خواړي خپل ګور
که حق وایم هومره ارت یې بویه کور
ترځان زیاته که چار خد په کار نه ده
ځان په لویشت کړه چه دځو دي وو پر ده پسو
چه جامه د چا کوتاه یا ووږده شي
ورکاوه شي هنرمند لره پیغور
هر سړے چه په حساب کښې تیرو بیر شي
ملامت پر وایه کیږي لور په لور
چه لائق د ملامت او د تهمت شي
ځائے لري که بے عزت شي هم سرتور
چه عزت حرمت یې نه وي په جهان کښې
هغه هسے ژوندون وسوزه په اور
بے عزت سړے به خوبي د هیچا نه وي
مګر هسے بے عزت وي ځنے نور
خپل مجلس یې له جمله مجلسه خوښ وي
په هر ځائے چه وبله وریښي تحسور
هر هم جنس له خپل هم جنسه سره جوړ وي
زیب کا هره کشیده په خپل انځور



نابینا په خپله سیمه کښې بینا وي
بینایان په پردي ملک شي کړ وکوړ
که ته نه یې بدکردار د بدکردار کا
کښیناسته له بدکردار سره پیغور
درست صورت د یوه ټوک په دړه دردمند شي
وران شي ښهر د یوه سړي په تور
چه یو غاښ په خوله کښې زوږند شي یا ووځي
درسته خوله پر بد نمایه شي هرګور
یو سړے چه په کور مه کښې د چا کرم شي
واړه کرم کا که پیښه وي که څلور
بدکردار زویه پیدا مه شه له موره
حبطه کاندي ناموس د پلار و مور
هر څوک خپله خوشحالي له خدایه غواړي
بارے نه شي دغه کار په زر و زور
خدائے په خپل قدرت څوک لوئے څوک کمک کړه
نه چه هر ښهر ډیلے شي یا لاهور
د ټنګو پورونه هر څوک وبله کاندي
بخت هیچا ورکړے نه دے وبله پور
د چا تاج په سر زرین خنجر تر ملا وي
د چا پنډ په سر په ملا تومبلے لور
څوک په لس د پاسه سوروي توغ د ورانده
څوک بریر کښې ګرځاوه شي په خره سور

اے رحمانه ذخدائے نوم به چا وانه خت
که ذخدائے چارے په پلار شوے یا په مور

۷ ۱۵/۸۴ ۱۰۹۷

هسے تله کاندي وګور ته یاران ژر ژر
لکه تله کا وخپل کور ته کاروان ژر ژر
هسے ژر ژر مرګ په مونږه شتاب کا
لکه لو ذ پاخه کښت کا دهقان ژر ژر
هسے ژر ژر دا دنیا وبله اوړي
لکه اوړي وبله ریګ روان ژر ژر
هسے ژر ژر صورتونه دي ماتیږي
لکه ریژي لاله زار په خزان ژر ژر
هسے ژر ژر دا شیرین عمر تیریږي
لکه بحر چه بهیږي روان ژر ژر
هسے ژر ژر اشنایان سره بیلیږي
ق لکه سا اخلي ستړي ستومان ژر ژر
ذ بنو خپل هم هسے ژر ژر نه وي
لکه دروي له جهانه رحمان ژر ژر

۱۰ ۱۶/۸۵ ۱۱۰۷

تل به نه وي شګفته ګلزار ذعمر
نه به جوړ وي همیشه بازار ذعمر



لکه سینه ذ ایاسینه په غورزي دروي
هسے یون دے په تلوار تلوار ذعمر
لکه برق چه مخ ځرګند کاندي بیا نه وي
هسے تیز دے په پلشکون رفتار ذعمر
سرکښي لري تر هسے حده پورے
چه نیوے نه شي هیڅوک مهار ذعمر
چه سمند ئے نه جلب لري نه واګے
خو به پریوځي عاقبت شهسوار ذعمر
په ساعت ذ سلوکالو یاري پرے کا
بے وفا دے هسے رنګے یار ذ عمر
خپل صورت به ذحباب په سترګو ګوري
که څوک وکاندي په زړه کښے شمار ذعمر
نه ووځم چرته لګوره نه سفر کړم
بے سفره مے غوځیږي لار ذ عمر
عاقبت به ذ اجل په مقراض غوځ شي
پیوسته به مدام نه وي تار ذعمر
بیا ئے وار په دا دنیا نشته رحمانه
په هر چا پاندے چه تیر شه وار ذعمر

۹ ۱/۸۶ ۱۱۱۶

ل

خراب دل مے ذ دلبرو هوا یوړ
ذ هوا له وریوچا زده چه چا یوړ



ګوټے ګوټے بیا نشته مے زړه واکاږي
نه وکوم یوه نه وایم چه تا یوړ
چه مے زړه لره ذ تورو زلفو خاځ غوښت
هغه زړه راځخه تورے بلا یوړ
ذ سیلاب په مخکښے کله ذ چا خوب شي
شیرین خوب راځخه ویرے ژړا یوړ
هغه عقل چه مے لاف ذخو رائي کړ
په یوه پیاله ذ میو مینا یوړ
هغه رخت چه مے ذ صبر ذسکون وو
هیڅ رانه کړه مهوشانو ویریا یوړ
څو ئے ورے فراغت له درست جهانه
ق هغه هومره ئے یوانځے له ما یوړ
که ئے یوړ رخست دل مے تر قربان شه
نا اشناؤ وړے نه دے اشنا یوړ
هیڅ ناحق پر شوي نه دي که حق وایم
معشوقو ذ رحمان زړه په رضا یوړ

۸ ۲/۸۷ ۱۱۲۴

ستا دے خواب الوده سترګو خواب راځخه یوړ
لبو ذ لذت ذ میو ناب راځخه یوړ
نه مے اوښے پاتو شو نه صبر په صورت کښے
ویرے به صبریه ذ مخ اب راځخه یوړ



زړه مے په نغمو نغمو سوے کړ مطربانو
عقل ساقیانو په شراب راځخه یوړ
یو ساقي بل یار دریم مطرب سره یو ځا ئے شو
زړه ئے له ګوګله په شتاب راځخه یوړ
څه شو که ئے یوړ خراب دل مے تر قربان شه
نورچا وړے نه دے خپل احباب راځخه یوړ
خط ذ تور حرفونه مخ ذ پاڼے ذ کتاب دي
شغل ذ کتاب ذ بل کتاب راځخه یوړ
هر اسباب چه ما سره ذ زهد ذ تقوي وو
واړه تا ذ حسن په اسباب راځخه یوړ
کړے ما رحمان په زړه کښے نقش ذ محراب وو
ستا ابرویو نقش ذ محراب راځخه یوړ

۴ ۱/۸۸ ۱۱۳۶

ز

لکه کاندي په کونترو نظر باز
هسے زه یم ذ دلبرو نظر باز
زه ذ نورچا ته نظر دراز نه کړم
بے هغو چه مو ئے مژګان لري دراز
بل پادشاه لره حال دے ملک ذ زړونو
مګر مخ ذ چا محمود شي خال ایاز
ستا ذ زنے تر سیب پورے رانکاریږي
نورے زنے ذ خوبانو لکه پیاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ تصویر له ګلو طمع دَبوی مه کړهٔ
بې وفا دی واړه ترڅکې دَ مجاز
هغه یار که په خپل ناز خوښ وخرم دے
زهٔ هم خوښ یم همیشه دَ یار په ناز
همیشه مې لاس نیولی وی دا خواست کړم
چه مدام دِ دَ یار ناز وی زما نیاز
که څوک اه و فریاد نهٔ کښی په عشق کښې
زهٔ په عشق کښې دغه کار ګڼم غماز
ښادی هرچرې دَ غم په اندازه وی
هسې غم دے دَ ښادیه پدانداز
نیستی واړه دَ هستی په دنبال ګرځی
نهٔ دوبیږی په اوبو کښې نش جهاز
دا قاعده ده لګه لوړ هومره دَ ځوړ وی
په صورت دے هم نشیب شی هم فراز
چه یکسان ګوری و شاهو وګدائ ته
هسې یار دے دَ رحمان غریب نواز

۸ ۲/۸۹ ۱۱۴۴

که بې ځایه زرګے نهٔ وکښې اواز
نهٔ صیاد ځنې خبر وو نهٔ شهباز
سکه له دے خبرے هسې معلومیږی
چه خپل صوت دے هر سړی لره غماز



دَ منصور و حال ته ګوره حال ئے څهٔ شهٔ
خدائے دِ فلش دَ هیچانهٔ کاندے پټ راز
دریغه دریغه که وروستے عقل وړه میے وے
دَ انجام خبرے نهٔ شی په اغاز
نیک عمل دَ عاملانو نیک فرزند دے
خدائے څوک مهٔ کړه شراب خوار و قمارباز
چه فرزند ئے شراب خوار و قمارباز شی
نور ئے کافی شی دَ پلار په خوند ساز
خدائے له هسے زلعو زاده امان وکړه
چه بې دین بې دیانت شی بې نمانځ
چه منکر پرے اعتراض کولے نهٔ شی
دا دِ شعر دے رحمانه که اعجاز

۷ ۳/۹۰ ۱۱۵۱

بد اختر به نیک اختر نهٔ شی هرګز
مرغ پیچ به درګوهر نهٔ شی هرګز
که مکان ئے په اسمان دے غزا وشوهٔ
ستاره به شمس قمر نهٔ شی هرګز
که ئے اصل له یوے زمکے دے څه شو
بید به سرو صنوبر نهٔ شی هرګز
که همه عمر باران وریاندے ووری
خس به ګل دَ پیغمبر نهٔ شی هرګز



له ناا هلو دَ وفا طمع و مه کړه
ګندهٔ تل به نیشکر نهٔ شی هرګز
که تور غر له ځایه خوځی و بخوځی
ولے نور به مقدر نهٔ شی هرګز
دَ رحمان په باب چه وشو هغه وشو
مکرّر به دا دفتر نهٔ شی هرګز

۹ ۱/۹ ۱۱۶۰

# س

تیر شه درست عمر زما په داهوس
که مے ویوښتے چه څوک ئے یا څه کس
یو پرسش دَ هغه یار ما لره بس کا
که څه کس دی خو یو او ئے ورلره بس
هزار حیف دے چه په هر نفس تر تیښتم
هغه لور ته چه مے تله دی هر نفس
چه ئے زهٔ په هر نفس له خدایه غوارم
هغه ګل که ویښم په ډیر پس
که یو خس وی په محتاجو تک او ګوری شی
خدائے دِ ندکا څوک محتاج دَ یو خس
هر مارغهٔ په خپله ځاله کښې همائے دے
که قارغهٔ که مینګیرک دے که ققنس
که شهباز لره سینه ده دَ تنځری
عنکبوت لره سینه ده دَ مګس



خو چه خاورو لره ورشی برابر شی
که چا غنده وی اغوستے یا اطلس
هم هغه ئے زړی چه خندوی ئے
نور څوک نشته دَ رحمان فریاد رس

۱۵ ۲/۹۴ ۱۱۷۵

وینه سپین سترګے تاریک غلبن کناس
نهٔ وکاږے دَ دنیا له چاره لاس
په هر طور چه ئے موګه پے دروګے
نهٔ په چپ لوری صرفه کړے نهٔ په راس
یو وینته دَ عقیدے د په تن نشته
سرترپایه هسې ډوب ئے په وسواس
خدائے رازق بولے او رزق ګڼې له کسبه
په دا شناخت و ځان ته وائے حق شناس
هسې رنګ په مذبذب صفت موصوف شوے
نهٔ پوهیږے مه چه ناس ئے که خناس
په دوی کښې به ورنه شے ترتوحید
که پیشوا کړے مهتر خضر مهتر الیاس
واړهٔ زهر قاتل نهٔ وے که پوهیږے
که سوا له خدایه نغرے هر انفاس
امر دا دے چه له نهی لاس کوتاه کړے
او که نهٔ وی خپسر وګڼه هواس

خیر دا دے چه له شره دجاروځې
پـه دا چاره کښې هیڅ نشته کوز اوپاس
که زما وېل دروغ یاکوز او پاس وی
نه پخپله پـه خپل زړه کښې وکړه قیاس
له سرېه غرض واړه سری هوش دے
نه چه پټ وی مس د زرو په لباس
څه په دا به عراق او ترکی نه شی
که د خره په سر سرانځې کړ د اس
د تشنه خو له اوبو سره مطلب وی
نه تش بے اوبه د سیم و زر و طاس
هر زاهد چه په ریا زهد تازیږی
د څربښت گمان نه کیږی په اماس
اے رحمانه که څه کار دے خو د دین دے
نور کاروند بے وفا دی بے اساس

۱۱۸۹ ۱۱ $\frac{۳}{۹۳}$

که څوک فخر کا په ننگ اوپه ناموس
دا په عشق کښې نه ارزیږی یو فلوس
که اغوستی ئے زری جامې څه شو
کښه یا مرغ زرین دے یا طاؤس
که ئے تاج وی په سر پښې غزا وشوه
په نظر زما هدهد دے یا خروس



نه ئے فهم فراست وی نه ئے علم
خالی نقش لکه عکس د معکوس
نه ئے مغز نه دانه وی په خرمن کښې
عبث هسے په سر لوڅی واړه بوس
د مجاز له اصله طمع د خیر مه کړه
هسې شر و شدت دے دا الوس
وداني ئے همه واړه ویرانۍ دی
راشه وګوره ماڼۍ د کیکاوس
که زما په ګفتګوی کښې زیات وکم دی
څوک دې ګیګا په دا بنهر کښې جاسوس
ساقی جام وباده راوړه چه بے خود شم
خدائے څوک مه کړه په خودیه کښې محبوس
که څوک وخواړی تمامه دنیا واړه
زما یار غوندے به نه وی بل عروس
رحمان حسن د یار وینم په پرده کښې
نه پټیږی نور د شمع په فانوس

۹ $\frac{۱}{۹۴}$ ۱۱۹۵

## ص

څه عجب بلند مقام دے د اخلاص
چه جهان واړه غلام دے د اخلاص
که له زمکې و اسمان ته خانه کرات دی
دا سفر په یوه ګام دے د اخلاص



چه خبر کا مخلصان له غیبه علمه
دا همه واړه الهام دے د اخلاص
د رواج او رسم عمر مدام نه وی
لکه عمر چه مدام دے د اخلاص
بے اخلاصه د اسلام حلاوت نشته
که اسلام دے خو اسلام دے د اخلاص
څه عجب دے که همائے ئے په دام نیلی
هر صیاد څخه چه دام دے د اخلاص
څه عجب دے که مستان وی ترچا پیره
هر ساقی څخه چه جام دے د اخلاص
پس له مرګه به دا مهر اخلاص نه وی
که اخلاص کړے نن هنګام دے د اخلاص
د رحمان کلام به دا سبب شیرین دے
چه ئے هر کلام کلام دے د اخلاص

۶ $\frac{۱}{۹۵}$ ۱۲۰۱

## ض

که ته نه کړے په بل چا باندے غرض
بل به هم نه کا په تا باندے غرض
که ګدائے د بل په خوئی غرض نه کړی
هیڅ به نه کا په ګدا باندے غرض
په ساحل کشتی د هیچا نه ډوبیږی
که څوک نه کا په دریا باندے غرض



خلوتیان په خپل خلوت کښې فراغت وی
د رسوا دے په رسوا باندے غرض
دا دنیا په احمقانو ده وداشه
دانا نه کا په دنیا باندے غرض
زه رحمان د عشق په درد کښې همېشه یم
چه مے نشته په دوا باندے غرض

۷ $\frac{۱}{۹۶}$ ۱۲۰۸

## ط

طمع مه کړه په دنیا کښې د نشاط
بیا به نه مومے نشاط په دا بساط
لکه راغلی بیا به هسے ځئے دروے
دا جهان دے د رهرویو یو رباط
تر هر کام لاندے کوهے دے ددے دهر
پښې بویه هر قدم په احتیاط
و دانا وته په دا جهان ښکاریږی
هم جنت او هم دوزخ او هم صراط
په عاشق به هیڅ وحشت د رقیب نه وو
که ئے نه کړے له خوبانو اختلاط
له کم اصله به دیانته بے نمازه
طمع مه کړه د نیکۍ د یو قیراط
غم د ترکو تر رحمان هسے چاپیر شه
لکه وسکښې جامه په چا خیاط

# ظ

١٢١٧ ٩ $\frac{1}{97}$

اومه کله دی پاڅه واڼی واعظ
هرچه واڼی وارۀ به واڼی واعظ
چه دے ما له ځیله یاره لرے باسی
نور به څه راته اومه واڼی واعظ
چاروانه زما له یاره ډیر مشکل دی
زیاتی څه له دوباره واڼی واعظ
په خوږو پښتو خبرو ئے غلط شوے
دا خواږه خواږه تراخه واڼی واعظ
څوک به څه باور د ده په نصیحت کا
چه له یاره چاروانه واڼی واعظ
یو ساعت مے بے له ناسته آرام نه شی
تل له بنګلیو پاڅیده واڼی واعظ ق
ځه بے عشقه بل یو کار کولے نه شم
ډیر له عشقه تښتیده واڼی واعظ
اعتبار ئے په نرمه په ګرمه مه کړه
دا تاوده تاوده ساړه واڼی واعظ
اروید و ئے د رحمان د وینل نه یم
بهتر دا دے چه نور نه واڼی واعظ



# ع

١٢٢٢ ٥ $\frac{1}{98}$

په تندی چه آتش بل کا مدام شمع
څکه بیاموی له خلقه اکرام شمع
په انوار د منور اهل ابصار شی
لا به کله شی ښکاره د انعام شمع
پتنګان ئے لور په لور په څرخیږی
څکه نه کوی په سوال کښے آرام شمع
وسیزه نه څان زما په شعله باندے
کړه پتنګ ته په رموز کښے کلام شمع
ستا مجلس د خاص الخاص صرافانو د
د رحمان په څیر نه موی هرعام شمع

# غ

١٢٢٧ ٥ $\frac{1}{99}$

هر یوګل د ستا د باغ روښن تر دے ترچراغ
روښن تر دے ترچراغ هر یوګل د ستا د باغ
ستا د باغ او د بن زاغ په نظر زما هما ئے دے
په نظر زما هما ئے دے ستا د باغ او د بن زاغ
د دردمنو په دماغ ستا د رخاور ے عنبر دی
ستا د رخاورے عنبر دی د دردمنو په دماغ
د عاشق د ټټر داغ په اسمان د عشق آفتاب دے
په اسمان د عشق آفتاب دے د عاشق د ټټر داغ



د رحمان د زړه فراغ نه شی نه شی بے خوبانو
نه شی نه شی بے خوبانو د رحمان د زړه فراغ

# ف

١٢٣٢ ١٥ $\frac{1}{100}$

اورنګ زیب و شاهجهان غوند ے اشراف
صدقه شه تر منصور غوند ے نداف
که ذتن په لوګو لوئے دے به ئے څه کړے
مه کړه خدائے چه کوه طور شی کوه قاف
بوالهوس د عاشقی ته هوس نه کا
دا دروغ دی چه زرهوز شی بوریا باف
د مکے په بزرګه کښے هیڅ شک نشته
ولے خرئے حاجی نه شی په طواف
که په سل دریابه غسل وځان ورکا
ګمان مه کړه چه بره بے شی پاک و صاف
کشتی هم چه ډیره ډکه شی ډوبیږی
د مسرف په ځان بلا شه خپل اسراف
صابرانو صبر پریښتو حریصان شو
نه څه عدل شته په چا کښے نه انصاف
دا څلور مذهب وارۀ سره یو دی
ما او تا پکښے پیدا کړ اختلاف
د هغه وارۀ ملکونو څښتن یو دے
که دوزخ دے که جنت دے که اعراف



شهیدان نه دی هغه خون فروشان دی
چه څوک ته خون بها نه کا معاف
د کاذب ژبه په خوله کښے وچه به ده
لکه توره د لرګیو په غلاف
د دیوال په سر به څو زغلی تر کومه
دروغژن چه په دروغه کاندی لاف
آب و تاب د ناسره مهر وی هو مره
څو نظر پرے شوی نه وی د صراف
د دنیا په دولت ناز مه کړه رحمانه
دا یو مو ئے دے په نظر د موشکاف
مدحه هجوه د حبیب او د رقیب کړم
رحمان نه زده بله هجوه نور اوصاف

# ق

١٢٥٩ ١٧ $\frac{1}{101}$

چه پائے بند شه د لیلی په اشتیاق
مجنون واچول و نورو ته طلاق
چه د میو د مطرب په خوند خبر شه
فراموش کړه صوفی نقل د اشراق
داځلی په مثال باغ مرګ ئے خزان دے
چه خزان پرے باندے راشی ق
جام د میو دے یا رقص د خوبانو
په هر ځائے چه وبله جمع شی عشاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نسیاؤ نظر نه کاندی بے نقدهٔ
که څوک حورے ورته ستائی یا براق
چه حاصل نے دَ دلبرو یکانګی شی
دَ دوئ خبرے نه کاندی مشتاق
حرکت له ځایه نه کا لکه شمع
که ئے اور دَ عشق بلیږی په تاراق
هسے خوبش وی دَ ښکلی یار په درد و غم کښے
نه به وائے چه بادشاه دے دَ آفاق
هسے محو وی دَ عشق په میو ناب کښے
چه خبر نه وی په وصل په فراق
چه روان ئے دَ سفر په لوید لار ته
راشه پریکړه له هرچا نه اشتیاق
که ظاهر په صورت وی په معنیٰ نه وی
لکه کښلے دَ لا لفظ په اوراق
څو ئے تن په کار و زار کښے فنا نه شی
نه جار باسی مړ اسونه دَ عراق
دَ عراق اسونه کار په اشارت کا
په وهل په کوتل کار دے دَ الاق
چه خدائے پوه کړو دَ ښو په ښکلیو پوه شو
چه پوه نه شو نه پوهیږی په شلاق
که ئے سرځی کړے مال ځی خدائے و ته کا
دَ طالب او دَ مطلوب ترمیان نفاق



دَ قسمت پاسے په لاس نیولے نلست یم
نه پوهیږم چه به جفت شی که به طاق
نه چه پند وائے ناصحه و رحمان ته
کشکے نور کړے هغه کیلی دَ میثاق

۳۶۶ ۷ ۲/۱۰۲

خدایه څه شه هغه ښکلے ښکلے خلق
په ظاهر په باطن سپین سپیځلے خلق
هیڅ خندا مے له دے خلقه سره نه شی
ژړوی مے هغه تللے تللے خلق
خبر نه یم چه وکومه خوا ته لاړ شه
لیدہ نه شی هغه ما لیدلے خلق
لګ نمر چه دَ اورو په څوکه دروځی
هسے دروځی په دنیا راغلے خلق
دریغه یو څلہ څو بیا په جهان راغے
له جهانه په ارمان و تلے خلق
هزار حیف دے چه په خاورو کښے لا پوشی
په چووه او په چندن لړلے خلق
رحمان هسے ګوښے خوند له خلقه بیا موند
چه هرګز نه دے دا خوند موندلے خلق



۱۲۸۰ ۱۴ ۱/۱۶۳

# ک

چه په زړه مے تورلحد شی دَ ښکلی خاک
بے مزه شی هم مے خوب هم مے خوراک
چه دَ خوب او دَ خوراک مزه شی ورکه
نور له مرګه برابر شی هغه ژواک
غلط وائی چه څوک عمر ورته وائی
هغه عمر چه تیریږی په پخساک
تن سپیره په خاورو وکه خوله بهتر یم
چه اُخر مے دا خوراک دے دا پوشاک
ځائے لری که ژوندے ځان په زمکه ښخ کړم
چه مے پس له مرګه ځائے دے په مغاک
ګویا شوے دے هغه چه شدنی دے
زه پخوا تر هلاکته یم هلاک
زړه چه روغ وی ګریوان کله غیراوه شی
له ګریوانه معلومیږی دَ زړه چاک
تن و ځائے جامه هاله یک بکار ده
چه وروسته شی دَ چا زړه له غیره پاک
سرے بویه چه دروَن بیرون ئے یو وی
نه هغه چه بیرون زر وی دروَن لاک
له سریه غرض واړه سری هوښ دے
که په سر کښے ئے طره وی یا مسواک



دَ دنیا چارے هسه واړه فانی دی
څوک یو دوه ورځے خوشحال وی څوک غمناک
په ساعت کښے څوک خوشحال کا څوک ملال کا
دا څویونه لرغونی دی دَ افلاک
رضا پاسله و قضا ته فراغت شه
اے رحمانه څه بنده او څه ئے واک
چه څه کاند ے واړه خدائے دے نور څوک نشته
رحمان څه دے څه ئے واک څه ئے ادراک

۱۲۸۸ ۸ ۲/۱۶۴

ماتوی مے خوله په شوک — خراشی مے زړه په نوک
که نارے وهم که ژاړم — پروا نه لری یو څوک
راشئ کوری منصفانو — دَ دلبرو دا سلوک
لکه ګل په لاس دَ طفل — زما زړه کړی شوک په شوک
دَ چشمانو په غمزه ئے — ژوبل ژوبل یم ټوک ټوک
په توسن دَ فلک سورشی — دستار کیږدی په سر څوک
هیڅ اثر ورباندے نه کا — دَ درد منو درد او دوک
اے رحمانه چه عاشق شی — ځان د ژاړی کوک په کوک

۱۲۹۸ ۱۰ ۳/۱۰۵

زړه مے تراشی دَ ښو په تیره نوک
ماتوی مے دوه دیرش غاښ واړه په شوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غمزو د تورو سترګو مے ورژلی
ژوبل ژوبل پروکے پروکے یم ټوک ټوک

که نارے وهم که خاورے په سر لوښم
ناروا شه که پروا لری یو څوک

لکه ګل چه څوک د طفل په لاس ورکا
هسے رنګ ئے زما زړه کړ شوک په شوک

که له ویره درده غمه مے زړه چوی
ورته هیڅ دی زما درد او زما ووک

درست جهان ئے په غم ووب کړ سر تر پایه
که ګدائے دے ددے دهر که ملوک

د اسمان په نیلی سور لکه اقتاب شی
د زربفتو دستار کیږدی په سر څوک

که انصاف لری په زړه کښے منصفانو
راشئ ګورئ د دلبرو دا سلوک

زه به ولے د خپل یار ثنا نه وایم
هر سحر سحر نارے وهی تل غوک

چه عاشق د دلبرانو په جمال شی
اے رحمانه ځان د ژاړی کوک په کوک

۳۰۶ ۸ ۳/۱۰۶

چه علاج کولے نه شی د قسمت څوک
ترو به څه وائی دچاته نصیحت څوک



هغه چاره چه موقوفه په تقدیر وی
کړے ئے نه شی په محنت په مشقت څوک

که نظر کا و قضاو و رضا ته
په هیچا باندے به نه کا ملامت څوک

د مطلوب جفا وفا واړه هنر دے
چه پوهیږی د حکماؤ په حکمت څوک

غم په ځان د چا پیرزو دے بارے څه کا
چه د خدائے په کړه کښے نه لری قدرت څوک

د ابلیس و ریاضت ته د نظر کا
چه غرور کا په طاعت په ریاضت څوک

علت لار شی عادت نه ځی له سریه
خدائے د نه کاندے په بده چار عادت څوک

زه رحمان د بیلتانه سیلاب یم وړے
که لاس راکائی د خدائے په محبت څوک

۳۲۳ ۱۷ ۵/۱۰۷

په بنا ئست زما د یار نه دی خبر څوک
که خبر شی پرے به نه پیدی دغه در څوک

چه دلے ئے بند توبه وبله نه شی
څه امید به له چا کاندی په محشر څوک

د دنیا چارے همه واړه فانی دی
تر ناحقه خاورے لوئی په خپل سر څوک



چه قبول شی په درګاه د مهرویانو
د هغو په څیر به نه وی بختور څوک

که زما د یار په مخ د چا نظر شی
وبه نه کا و بل مخ و ته نظر څوک

که هر څو دلبران ویږدی په جهان کښے
بل به نه وی زما یار غوندے دلبر څوک

د دیدن طاقت ئے هیچا څخه نشته
و افتاب ته کښے نه شی برابر څوک

عاشقی لویه پایه ده عجباً شه
دغه کار کولے نه شی هر څوک هر څوک

له هجرانه بله سخته بلا نشته
خدائے د نه کاندے زخمی په دا نشتر څوک

مخ به بل خوا ته هرګز و نه چاربامی
چه شی ستا په خواری سترګو ایتر څوک

وبه نه رسیږی تاته په اسانه
چه په غم ستا خاورے نه کاندی په سر څوک

ارمانونه به کوی زار زار به ژاړی
چه حاصل کوینه نه کاپه ششدر څوک

هومره توم د عاشقی وربانده مه پږده
چه د یار په غم کښے نه شی قلندر څوک

هغه نه کوی نظر وسیم و زر ته
چه په نور د خپل اشنا کاندی نظر څوک



په ګلونو د ګلزار به سیر کاندی
چه خوبونه کا د یار په خاکستر څوک

بے رهبره یوی به لار د هر چا ګران دے
دلته بویه چه پیدا کاندی رهبر څوک

چه بیلتون په سترګو وینی اشنائی کا
د رحمان په څیر به نه وی به هنر څوک

۳۳۷ ۳ ٦/۱۰۸

چه مشغول نه وی د ترکو په جمال څوک
نور به څه کا په دنیا کښے اشتغال څوک

د بل خط په عبارت به څه نظر کا
چه نظر کاندی د ستا په خط وخال څوک

نور خوبان د ستا تر مخ پوری دی هسے
لکه بل کا د اقتاب په مخ مثال څوک

چه عنقا شو اهل دل په دا دنیا کښے
ترو به څه وائی وچا و ته احوال څوک

که عاشق په عشق کښے ژاړی هیڅ ګرم نه دے
په دا هسے درد کښے نه لری مجال څوک

چه ئے قیل وقال له یاره سره وشی
نور له چا سره به څه کا قیل وقال څوک

چه په اصل کښے خدائے نه دے پیدا کړے
ترو به څه غواړی د ستا د مخ مثال څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرخروئي د هر سري په جګرخون ده
نه صفه چه ئې په سرکانړي سورشال څوک
مخ روڼي ده د هرچا په ښچلو اوښيو
په دا نه شي چه ئې مږي په رومال څوک
بې ښه خوي به مخ روڼي د هيچا نه شي
که هرڅو ئې پاکيزه کړي په رومال څوک
سړے بويه چه په نيک عمل نازيږي
نه چه ناز کا د دنيا په ملک ومال څوک
د دنيا چارے فاني دي مرد هغه دے
چه نظر کا په حرام او په حلال څوک
هرچه کر کا د وريښو غنم غواړي
له خاطره د بيرون کا دغه خيال څوک
که ئې شعر د رحمان مومند ترغوږ شي
غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

۲ ۷/۱۰۹ ۱۳۳۹

ق

که په بخت کم بخته نه وے سوخته دل څوک
بے حضور به نه تا وے بيليدل څوک
وديدن ته ئے د هرچا رضا کيږي
ولے حکم ئے بے تا نه لري بل څوک
که ئې لاس د خدائے په چارو رسيدلے
بے مقصوده به يو دم نه سهيدل څوک



دا همه زما شاميت دے چه رارسي
ګنه ته او د چا زړونه بدول څوک
د ديدن په طمع وغليدم بندي شوم
ګنه زه او د هجران خواري زغمل څوک
زه لارغه د ستا په مينه کښې شهره يم
نه چه ش ګاندې خبريږي پردي خيل څوک
ما دا يو سر دے د ستا شکرانه کړے
که د سر ما غزه مے خوري په داکيل څوک
په هيڅ رنګ به د له مينے منکر نه شم
هرشان قصد چه مے کوي په قتول څوک
که مے زړه ستا مينے نه وي راپرود لے
په رضا له سره کله تيريدل څوک
که اثر د محبت ورسره نه وے
روغ صورت داهومره زړه زهيريدل څوک
که په مينه د ليلئ مبتلا نه وے
خوار مجنون بيدي بيديا غوره ځنګل څوک
مينه هره بلا کا په عاشقانو
ګنه زه غريب رحمان هرمره وژل څوک

۱۰ ۱/۱۱۰ ۳۵۹

ک

زغره واغوندۀ ملا وتړه په جنګ
دغه پسه معرکه کوه د ننګ



وبے ننګ وته د ننګ خبرے مه کړه
يا ځان وګنه په خپلو ويښو رنګ
ننګيالے چه يو ځل مخ په هغه لورکا
نور هيڅ نه وينې کوهے وي که ګرنګ
هيڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي
چه چراغ په نظرکښيوځي د پتنګ
د بلبلو وچمن وته پرواز وي
د اورپښتي و اتش وته غورځنګ
که جهان وبے هنرو ته فراخ دے
يو لحد دے هنرمندو لره تنګ
هغه ښهر جوهري لره زندان وي
چه يکسان وي پکښې لعل ومرداسنګ
اسمان زمکه دواړه ژامے د نهنګ دي
څه به زيست کا څوک په خوله کښې د نهنګ
په ښادي ئے هيڅ ښاد مه شه که دانے
غم ښادي دي د دے دهر څنګ په څنګ
که رحمان د هغو تللو وصال غواړي
تير به نه کا په دا دور کښې يو درنګ

۷ ۱/۱۱۱ ۱۳۶۶

ل

هيڅ مے نه کړه په دا عمر کښې حاصل
هسے پاتو شوم مردود و ناقابل



ما لا يوي هم د وصال موندلے نه دے
تش په توره مے خدائے توم کړ د واصل
هسے ډوب يم د ګناه په ګرداب نو
چه په سترګو مے و نه ليده ساحل
له وطنه مے په هر زمان وباسي
راپسے کړه حاکمانو محاصل
که بلا ده که جفا ده که وفا ده
دا همه واړه په ما کړه خدائے نازل
د دنيا په پليتي مے ځان پليت کړ
حيف دے دا چه نه عالم شوم نه عامل
توره ږيره مے شوه سپينه زه حيران يم
چه رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل

۶ ۳/۱۱۲ ۳۷۲

ښه مے په سر دے ستا د مخ د مينے کل
بيا مے تورليمه دي ستا د زلفو تورسنبل
نه چه اٰئينه په لاس کښې واخلے حيرانيږے
زه له کومه راوړم صبوري او تحمل
ګرځه په چمن کښې ګل وګه په ښکولو
خدائے زده چه ښکلو نه وړے که زړونه په ګل
هم مے مشک ليدلي هم عنبره دي په جهان کښې
شاباش شاباش ستا د زلفو په کاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به ستا د مخ په شير گلشن وي چاليدلے
نه به وي زما په شير اهونه د بلبل
هسې تغافل کا ستا په جور په جفا کښې
خلق حيرانيږي د رحمان په تغافل

۱۳ ۳/۱۱۳ ۳۹۵

مه غوږ باسه د نااهلو قيل وقال
بکار نه دے قيل وقال د بدسگال
يا به فخر په خپل اهل وپه نسب کا
يا به فخر کا په آل و په عيال
يا به ذکر د لذت او د زينت کا
يا به فکر کا د مال او د منال
يا به هسې پوچ گوئي کاندي اغازه
چه مضمون ئې نه مردار وي نه حلال
د دانا او د نادان صحبت دے هسې
لکه گډ شي وبله لعل او کوټي لال
لکه لعل او کوټي لال چه وبله گډ شي
يا صحبت شي د عيسیٰ او د دجال
هغه عمر چه تيريږي بے هم جنسه
تړو به شه وي د هغه عمر احوال
د دنيا چارے فاني دي مړه هغه دے
چه خبر شي په حرام او په حلال



اباسيند لا څه مجال لري په تله کښې
د دنيا د چارو هيڅ نه وي مجال
د دنيا چارے نه په مثل خواب وخيال دي
څوک به څه کا اعتماد په خواب وخيال
لکه مال و ملک په خوب کښې ورځرگند شي
څو چه ويښ شي نه ئې ملک وي نه ئې مال
لکه ځگ چه د اوبو په سر ليده شي
که ئې واخلے هيڅ درنه شي په چنگال
لکه دود چه غرونه غرونه ځرگنديږي
تار په تار شي په يوه نري شمال
لکه يخ چه د ساړه په زور شي جمع
هيڅ ئې نه وي د افتاب په مخ مجال
په يوه ساعت باران باشين اسمان شي
لکه اير د پسرلي د پشکال
په يوه ساعت ئې سارکا بيائے وران کا
خاورے خټے دي په لاس کښې د کلال
د مجاز په معشوقو کښې وفا نشته
ما هزار ځله وکتلے دے دا فال
اعتماد ئې په بنادي او په غم مه کړه
نه ئې هجر په قرار دے نه وصال
کاله تورکوډے په مخ باندے راکيښ شي
کاله راکيښ شي په مخ باندے رومال



لکه غوټۍ د مالگے کيږده په اوبو کښې
زه هم هسې سرزده شوم په مثال
چه د مرگ وتاخت وياخت وته نظر کړم
صورت ويم د ميږي په څير پايمال
خراب زړه مے بهي غواړي بلا دا شوه
چه کهي رامعلوميږي کال په کال
که وصال مے د يار بيامونډ هالسيال يم
کنه اوس څو زه رحمان يم د چا سيال

۱۲ ۴/۱۱۴ ۱۴۰۷

چه له تازه پوشيده لري چشمان خپل
څه به وينې مظلومان او مقتولان خپل
چه بتکلف راته په قهر قهر کاندي
دا لا وګڼې په ما باندے احسان خپل
گفتگوئے په اشارت کاندي له نازه
که ئې اسم د چا اخلي په زبان خپل
په گريوان باندے چه تک وځي غوټيه
عاشق کښيباسي لاسونه په گريوان خپل
خوبدارے ئے له حيرته بے شعور شي
چه د حسن رخت ځرگندکا په دکان خپل
چه خپل مخ په ائينه کښې ورځرگند شي
خود بخپله سرفرو کاندي په شان خپل



چه ئې څوک وعاشقۍ وته هوس کا
گويا لوبے کا په دين او په ايمان خپل
هيڅ صرفه د چا په سر او په مال نه کا
ماليدلي دي په خپله ظالمان خپل
دا مقام دے د هغو رنگه عالمو
ق چه هيڅ نه ويني په سترگو سود او زيان خپل
مجنون ملک د عاشقيه هله بيامونډ
چه په اور باندے ئې وسه ځان وماں خپل
افرين د عاشقانو په همت شه
ق چه ورتير تر سر و مال دي په جانان خپل
هيڅ د سترگو غړولو خوند ئې نه دي
چه رحمان په سترگو نه ويني جانان خپل

۷ ۵/۱۱۵ ۱۴۱۴

بيلتانه د هسې خوار کړ زما دل
چه له ځانه ئې ويزار کړ زما دل
لاس وپښے د خلقو ټول دعا غواړي
هيڅ هسې منت يار کړ زما دل
عاشقي دومره داغونه دي پرے پښي
چه تمام ئې لا له زار کړ زما دل
بے سببه ازار اخستن بنه نه دي
تا په څه سبب ازار کړ زما دل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ذ زلفو په کمند سره د واکیبنی
په بلا د گرفتار کړ زما زړه
ستا چشمانو په کښې هسې مقام ونیو
چه له غیرو د بیزار کړ زما زړه
زه رحمان ذ عاشقیه منت بار یم
چه مین ئې په دلدار کړ زما زړه

۱۴۴۳ ۳۰ ۱/۱۱۹

## م

چه له مرگه بې پروا یې په هر دم
دغه هسې غم د هیر دے په کوم غم
نور همه واړه غموت به د هیر شي
که یو ځل دربانده درشي دا ماتم
چه زخمي ئې سبا نه موي په بیعه
مفت موندہ شي ئن ساعت هغه مرهم
ذ مرهمو تیاري درلره یو بیه
څو لا نه ئې ذ اجل په تیغ کرم
چه ذ تن له سرایه دروځې توښه واخله
تر دا سرائے په هورته نشته سرائه دوئم
ذ دے هسې لارے تله څه اسان نه دي
مشکلات دي په هر دم په هر قدم
که د ویره شي له ظلمه له ستمه
نه هم مه کړه په هیچا بانده ستم



که امید لرے له رحمه له کرمه
ستا هم بویه په هرچا بانده کرم
له هرچا سره چه کړے هغه به مومے
ذ هیڅ تخم میوه نه دروئي برهم
اجر واړه ذ عمل په اندازه دے
دغه دواړه سره یو دي هم درهم
اوس ذ ستا رضا نیکي کړے که بدي کړے
نیک و بد د دواړه کښوے شي په قلم
خدائے ذ رزق په زیرمه مه هیروه کلکه
تر سري ذ سري رزق دے مقدم
که کښې چه په حرص سره به زیات شي
زیات به نه شي ذ یوه ستنې تر سوم
که هزار رنگه تلاش وتدبیر وکړے
ذ قسمت شوي به نه کړے زیات وکم
ډیر هوا او حرص مه کوه خدائے یاد کړه
دے کافي دے ذ عرب او ذ عجم
په تا فرض عبادت ذ خپل خپښتن دے
نه لښکرے خزانے ملک و حشم
ټوک روټي یوه شړه درلره بس کا
نور همه واړه اسراف دے مسلم
له خوراکه غرض قوت لایموت دے
نه چه غوښه غوړي وریژے یا غنم



له پوشاکه غرض خپسر پټول دي
نه اطلس وسقلات تاج و علم
پس له مرگه به ذ هورے هم ځانه وي
څه پوهیږ ے که به مار وي یا لړم
که حرص دربانده زورشي مرگ درياد کړه
دا علاج دے دغه رنځ لره محکم
ذ لحد ذ تاريکي علاج به څه کړے
چه دلے وته ویریږے په تورتم
غفلت هیڅ مناسب نه دے ذ سپین ږیرو
خوب روا نه دے په وقت ذ صبحدم
مار چه سوړے لره ورشي کوږ سم شي
نه ذ گور په غاړه راغلے نه شوے سم
خم قامت ذ دنیا کار کړے عمر واړه
او په دوه رکعته نفل نه شوے خم
ځان پڅوا تر هغه وژاړه که مرد ئې
چه په تا بانده ژړا کا نور عالم
نور عالم چه په تا ژاړي انصاف وکړه
بې انصافه ته په څه یې خوش خرم
که زه نه وایم نه ځپله ستر گه وا کړه
کور د چورشه نه چارپائے ئې که آدم
که زما نغوږے عبد الرحمان په خدائے کړه
بیا د هم ذ خدائے په نام وي ستا قسم



اے رحمانه لګه نه چه په خدائے کرم یې
بل به نه وي په جهان کښې هسې کرم

۱۴۵۱ ۷ ۲/۱۱۷

که د ے ونمانځي ساقي په یوه جام
تر دا هورته به نور څه وي احترام
بس دے ما لره دا فیض ذ شرابو
چه پرېنه پریو ئېځم دا دلق ازرق فام
مے خواري که په عالم کښې بدنامي ده
ما تر پیښو دے لاندے کړے ننگ ونام
په میزان کښې یو سر لعل وي بل سر کاڼي
مساوي ده عاشقي په خاص وعام
عاشقان ذ سپین رخسار ذ تورو زلفو
څه پروا لري ذ کفر و ذ اسلام
په مجنون بانده قلم راغلے نه دے
که حلال په ځکښې ورشي که حرام
حلال عشق دے په رحمان بانده راغلے
په حلالو کښې مدام وي احترام

۱۴۵۷ ۶ ۳/۱۱۸

هسې زه یم ستا په غم کښې بې آرام
چه به نه وي بل یو ماغوندے بدنام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذ محمود و سلطنت وته نظر کړه
چه غلام کړ خپلے مینے ذ غلام
ذ نیکانو مدعا خو نیک عمل دے
ساعت نه گوری که صبح وی که شام
چه ذ زړه حضوری نه وی په لمانځه کښے
پکار نه دے مقتدی وی که امام
چه مجنون غوندے په مینه کښے صادق وی
رحمان وایم په هغه باندے سلام
هم نغمے کاندی هم رقص کا هم خاندی
ذ رحمان په شعر ترکے ذ باگرام

۱۴۷۶ ۴ ۳/۱۹

په لیمه کښے مے مدام — گرځی عکس ذ گلفام
نور ذ سترگو مے گلگون شوه — په ارزو ذ گل اندام
بے ذ سترگو له خونابه — نه باده لرم نه جام
په طلب ذ دل ارام کښے — ما ونه لیده ارام
زنخدان ئے غلائے کوهے کړ — ورپریوځم په سر کام
که ئے خال غلام ذ مخ دے — زه غلام یم ذ غلام
که په عشق کښے ناکام ویږدے — دا ناکام دے زما کام
خوښ یم زه په عاشقی کښے — که نیک نام یم که بدنام
په یاری کښے مے قبول دے — ملامت ذ خاص و عام
ذ دعا په عوض غواړم — ذ خپل یاره ځولے دشنام



ترینګخلو به ئے ځار کړم — دغه خپل دعا سلام
تلخ گفتار ئے راته خوږ وی — ترکشمش و تر بادام
هم هغه مے مسیحا دے — چه ئے راکاندی پیغام
مخ ذ یار ماه تمام دے — رحمان ولیده تمام

۱۴۷۷ ۹ ۵/۱۲۰

ذ هجران له ویره غمه ولے نه مرم
له دے هسے رنگ ماتمه ولے نه مرم
چه یو یار له بله یاره لرے باسی
ذ دے دور له ستمه ولے نه مرم
چه هرهر سحر زما په ژړا خاندی
له دے هسے صبح دمه ولے نه مرم
یار چه یار په سترگو نه وینی نو مرگ دے
ترو زه بے خپله صنمه ولے نه مرم
چه په لږه گرمی شا کاندی و گل ته
له دے بے وفا شبنمه ولے نه مرم
چه ذ مرگ خواری په خوا لرم رحمانه
لا څوا ترو دغه دمه ولے نه مرم

۱۴۸۷ ۱۰ ۶/۸۱

که په سر ذ هغه یار ذ لاسه سنگ خورم
خدائے دے نه کا چه به بله خواشخنگ خورم



عاشقی او ننگ و نام دی و بله لرے
څو به عمر واړه غم ذ نام و ننگ خورم
خدائے و ما و ته شیرین تر نیشکر کړ
که ذ یار له لاسه غشے ذ خدنگ خورم
ذ اشنا ذ بیلتانه په کار و زار کښے
همیشه په تندی توره ذ فیرنگ خورم
نوکری ذ معشوقو کوم په عشق کښے
مهینے نه ذ بهلول نه ذ اورنگ خورم
شین لوگے مے په سر چتر دو نهه تخت دے
گرد غبار ذ خپل دولت لکه ملنگ خورم
هم په دا چه له خودیه شم بے خوده
ذ هجران په غم کښے لپے لپے بنگ خورم
لکه څوک چه نعمتونه ذ دنیا خوری
زه ذ یار ذ جفا زهر په دا رنگ خورم
واړه زهر شی زما تر ستونی دروی
بے له یاره که همه لاچی لونگ خورم
زه رحمان به څو ژوندے په جهان گرځم
چه په بلو لمبو څرخ لکه پتنگ خورم

۱۴۹۶ ۹ ۷/۱۲۲

صبح و شام مے لاس نیولی وی دعا کړم
خواست له خدایه ستا ذ مهر و وفا کړم



هیڅ دروغ رشتیا مے نه زده که باور کړے
ستا ذ یاره هم دروغ کړم هم رښتیا کړم
واړه ته ئے خندول که ژړول کړے
زه په خپله نه خندا کړم نه ژړا کړم
که ته نه ئے راته وایه بارے څوک دے
زه دا هسے رنگ سرتور پښے پیل چا کړم
خوب خندا ذ بیلتانه په زمکه نشته
څه ارام به په دا دشت کربلا کړم
هره ورځ چه مے تیریږی ستا په غم کښے
زه په هره ورځ پوهیږم چه غزا کړم
یو وینسته مے ذ صورت کوږ شوے نه دے
هسے رنگ وپت پنهم په زړه ادا کړم
زړه که یو وی څو وتا دے ما ورکړے
مگر نورو لره نور زړونه پیدا کړم
چه مے واغوست سروپائے ذ عاشقیه
زه رحمان دے سروپائے به سروپا کړم

۱۵۰۱ ۸/۱۲۳

زه دا هسے دیوانه و مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهیږم چه دا چاره په ما څوک کړه
لیونے ذ خپل نگاه په افسون چا کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ستر‌ګې کوم باڼه کومه غمزه ده
ووب شهید غوندې په خاک او په خون چاکړم
توان توفیق د فتنو هیڅ راځنې نشته
په فتنو د تورو ستر‌ګو مفتون چاکړم
رحمان هیڅ له ځیله ځانه خبر نه یم
چه دا هسې رنګ محزون و زبون چاکړم

۱۵۰۸ ۷ $\frac{۹}{۲۴}$

ق

سرې پکار نه دې چه ئې ستا تر سر قربان کړم
زر راځنې نشته چه ئې ستا په پښو ویران کړم
کار د عاشقیه اول ډیر را ته اسان وو
اوس هسې حیران یم چه دا کار به په څه شان کړم
ډیرو خلقو لاڼې ستا د ښېښه دی وهلې
څوک هسې مه شه لکه زه چه ئې په ځان کړم
نه لري مرهم د عاشق زخم بې تسلیمه
دا هسې درد نه دې چه ئې دفع په درمان کړم
نه کا هیڅ دښمن په دښمنانو هسې چارې
ستا په عاشقۍ کښې لکه زه چه ئې په ځان کړم
ولې کافر نه وی مسلمان به شی که خدائې کا
هر چا ته چه حسن لطافت د ستا بیان کړم
وړاندې دی که وروستو آخر هسې معلومیږی
ستا له بې رحمۍ به زه رحمان لاس په ګریوان کړم



۱۵۱۷ ۹ $\frac{۱۰}{۲۵}$

د ستا درد به په هزار درمان ورنه کړم
دا نسته به دغه سود په زیان ورنه کړم
که څوک را کاندی دنیا او عقبیٰ دواړه
عاشقي به د په این و آن ورنه کړم
که مې چرې لاس د ستا په بوسه برشي
دا نعمت به د جنت په خوان ورنه کړم
څو مې تیغ په پهلو نه دې بلوڅیدلې
ستا پهلو به و رقیب اسان ورنه کړم
که یو ځل مې ستا زلفې په لاس کښیوځي
یو وینته به د په درست جهان ورنه کړم
څو و نه وینم ستا ستر‌ګې که ئې خدائې کا
عزرائیل لره به صومره ځان ورنه کړم
معشوقې د عاشقانو دین ایمان دی
زه به چا لره خپل دین ایمان ورنه کړم
ستا تر زلفو پورې نورې زلفې څه دی
په خاشاک به د چمن ریحان ورنه کړم
په رحمان د هغو لبو مې حرام دی
څو د خپلو وینو جام تاوان ورنه کړم



۱۵۲۴ ۷ $\frac{۱۱}{۱۲۹}$

دا یو څه رنګه ژوندون دې نه پوهیږم
خواب دې خیال دې که افسون دې نه پوهیږم
جام د میو چه د ځان په وینو مومم
ترو زلال که جګرخون دې نه پوهیږم
د پتنګ او د بلبل تر میان حیران یم
مخ د اور دې که ګلګون دې نه پوهیږم
په شانه سره د تار د زلفو بیل شه
که غوڅ شوې مې تارون دې نه پوهیږم
عشق په هسې رنګ مقام باندې قائم کړم
چې وصال دې که بیلتون دې نه پوهیږم
د خپل زړه وعلامت و ته حیران یم
چه موسٰی دې که قارون دې نه پوهیږم
د رحمان څهره ئې زیړه تر کونګو کړه
خدائې زده عشق دې که طاعون دې نه پوهیږم

۱۵۳۱ ۷ $\frac{۳}{۱۲۷}$

بیا د نوی شراب څښلی دی پوهیږم
په رخسار د ګل کرلی دی پوهیږم
که هزار ځله لاس سره کړې په نکریځو
تا زما په وینو ولی دی پوهیږم



معرکه زما د مرګ نه ده نور څه ده
رقیبان چه تا بللی دی پوهیږم
څه حاجت دې چه و خط په مُلا لولم
چه زما په باب د کښلی دی پوهیږم
چه رقیب او تا غوږ وته وبله ورورږه
ما هغه ساعت ژړلی دی پوهیږم
ته خپل جور و جفا څه ولې وما ته
ما صنه واره لیدلی دی پوهیږم
رقیبان څکه تیرې په رحمان کاندی
تا په خوا پورې نیولی دی پوهیږم

۱۵۳۹ ۸ $\frac{۱۳}{۴۸}$

په یوه غمزه د ستر‌ګو ئې فنا شوم
سر تر پایه بې بنیاده بې بقا شوم
ما د یار له غمه دم وهلی نه دې
که مې دم وهلی نه دې هم رسوا شوم
تنهائی مې یوه تومنه شوه په عشق کښې
هاله ځاځکې د شبنم وم اوس دریا شوم
زه د یار وغږ ته کورم یار وما ته
چه داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کښې ئې ګدائې وم کند په غاړه
په وصال کښې ئې بیاځان او امرا شوم

په خپل کلي په خپل کور کښې مې غربت دې
په صدف کښې یتیم دُرغونډې یکتا شوم
ستوري راځئ یو ره مستو سترګو
رحمان ځکه په وګړي کښې رسوا شوم
بادشاهي دُ ګدایانو په دُعا شي
زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

۱۵۴۶ ۱۴/۱۲۹ ۷

تر هغه حده په هورته بد سرې شوم
چه دُ درست جهان په سترګو کښې الغرې شوم
دنیا داره وبله زیست و روزګار کاندي
خو یو زه په دغه بار کښې کوږ لړګې شوم
تمامي جهان لمن راټمنه نغاړي
سپین لږوکي مې اغوستي تور کودې شوم
هیڅ حاجت دُ هنر نشته و نصیب ته
غزا وشوه که مومن یا دو یږې شوم
دُ نوح زوئې هم یو دُ نیک نیکه نمسې وو
ګنه زه هم یو دُ نیک نیکه نمسې شوم
کل وسواس له احتیاط پیدا کیږي
زه له ډیرې هوښیارۍ لیونې شوم
اوس عطا دُ ادمیت راپانډې وشوه
چه رحمان دُ هغه یار دُ کوڅې سپې شوم



۱۵۵۹ ۱۵/۱۳۰ ۱۳

په بد خوی له بد خواهانو بې پروا یم
په نرمي لکه اوبه دُ اور سزا یم
دُ خپل ځان له خاکسارۍ سربلند شوم
لکه ګرد هسې شهسوار دُ هر هوا یم
کمینه هسې کامل کړم چې زه دروم
لکه زمکه درست جهان راسره بیا یم
و هرچاته په خپل شکل ځرګندیږم
ائینه غوندې بې رویه بې ریا یم
دراز عمر مې حاصل شه له راستیه
لکه سرو مدام سبزه تازه پایم
هم په دا سپینو چامو چه معلومیږم
لکه ابر هم ګوهر یم هم دریا یم
قناعت مې ترخرقې لاندې اطلس دې
پټ دُ درست جهان بادشاه ظاهر ګدا یم
دُ غنچې په څیر په سل ژبه خاموش یم
لکه بوټي هسې په پټه خوله ګویا یم
په ژړا مې دُ خپل یار دیدن حاصل کړ
دُ شبنم په څیر دُ ګل سره یکتا یم
ما چه خپل معراج دُ دار دُ پاسه ولید
دُ منصور په څیر رښتیا په وینا یم



دُ منصور او زما هومره تفاوت دې
چه نارې ئې کړې په جهر زه خفیا یم
له عیانه هیڅ حاجت دُ بیان نشته
زه رحمان په خوله څه وایم چه وایم
که چالار دُ عاشقۍ وي ورکه کړې
زه رحمان دُ ګمراهانو رهنما یم

۱۵۷۱ ۱۶/۱۳۱ ۲

زه له دې جهانه تلوني په شتاب یم
لکه پانړه دُ خزان پښه په رکاب یم
که هزار ابادانۍ کړم په جهان کښې
غرض دا چه نهایت خانه خراب یم
که مې اصل دُ حیاتو له اوبو دې
بیا هم دا چه دُ اوبو په سر حباب یم
دا جهان قصاب خانه کړو خدائې ومانه
چاړې پسته ولاړ په غوله دُ قصاب یم
چه دُ خدائې له معرفته خبر نه شوم
معلومیږي چه یا دیو یم یا دواب یم
که صورت مې دُ سړي دې بدنه ګڼم کړم
په معنی کښې دُ چارپایو په حساب یم
لکه بت چه په رڼو سترګو ووده وي
هسې زه په بیدارۍ کښې ویده خواب یم



په طاعت په عبادت مې زړه یخ نه کړ
همیشه دُ معصیت په اور کباب یم
سر دُ خدائې و عبادت ته و ښکته نه شم
مدام ډوب دُ ګناهونو په ګرداب یم
چه و خپلو ګناهونو ته نظر کړم
سزاوار دُ هر عذاب دُ هر عتاب یم
لکه څوک چه په خره سوروي څنې تورووي
زه هم هسې تر خپل ځانه پورې په آب یم
غزا وشوه که ګفتار لرم په ژبه
زه رحمان چه کردار نه لرم کذاب یم

۱۵۸۵ ۱۷/۱۳۲ ۱۴

که هزار ځله تیږدې دُ زړه په یاد یم
زه چه یار په سترګو نه وینم ناښاد یم
که یار سل ځله وعده دُ وصال وکا
زه له ډیرې تلوسې بې اعتقاد یم
په جفا او په وفا ئې لا رغه نه شي
پرحذر دُ نازپرور په قرار داد یم
دُ بې نیازو په نیاز څه امید دُ کړو دې
زه پرون سلطان خسرو وم نن فرهاد یم
که ټول عمر مې یار په غیږ کښې پروت وي
زه ټول عمر له هجره په فریاد یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو زمان مے دَ زړه مراد مونده نه دے
پیدا کړے خدائے په اصل کښے نامرادیم
دَ وصال په یوه کال مګر برپائے شم
دَ هجرۃ په عجب هسے بے بنیاد یم
په وصال کښے مے دَ هجر طمع نه وه
حق حیران متفکر په دا فساد یم
چه ئے نوره نتیجه نشته بے غمه
حق حیران دَ عاشقۍ په دغه داد یم
که دَ یار له لاسه اور راباندے بل وی
لکه شمع مستقیم په خپل استاد یم
بے مینه قراری راباندے زوره وی
شپه او ورځ په حرکت کښے لکه باد یم
بے له عشقه چه مے پرے شه ذېوزئے
ګنهه نور له جنګی قیده ازاد یم
که مے پیری که مے پلوری چاره نشته
زه رحمان دَ ښاغسته و خانه زاد یم
دا خواب رحمان عقد کا چه مرزا وے
ق زه غرګند دَ محبت په ښه بنیاد یم

۱۵۹۵ ۱۸/۱۳۲ ۱۰

که مے څوک په فقیری شمیری فقیریم
که مے څوک په امیری شمیری امیریم



دَ دلبرو صدقے لروئے غوارم
هسے نه چه په دنیا پسے زهیریم
دَ خرقے خدمت مشکل دے اوکه نه وی
زه هردم و دغه چارے و ته خیریم
هم پند الحلم هم پند وایم و هر چاته
زه دَ ځینو یم مرید دَ ځینو پیریم
په هجران کښے دَ یار خیال راسره مل دے
په زندان کښے دَ یوسفؑ سره اسیریم
په خنداکښے مے ژړا ده لکه شمع
له عالمه پټ پنهم دَ ځان په ویریم
ازادی تر دا په هورته نوره څه ده
چه بندی دَ یار دَ زلفو په زنځیریم
خوشحالی تر دا په هورته بله کومه
چه مدام په خپل اشنا پسے زهیریم
چه همیش په غوږ تعرے دَ هجران اورم
رحمان څکه دَ خپل یار و مخ ته څیریم
خوشحالا او دولتا مے غلامان دی
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیریم

۱۶۴ ۱۹/۳۴ ۹

زه دَ یار په درد و غم کښے غرقاب خوبن یم
په دا درد کښے بے طاقته بے تاب خوبن یم



که دوبیږم په اوبو یا په اور سوزم
دَ سرو شونډو په اتش او په اب خوبن یم
چه دَ یار دَ خط و خال نښے پکښے وی
زوړند سر په موتاله دَ کتاب خوبن یم
تر دا پوچه ګفتګو په چه ئے اورم
په نغمه په ترانه دَ رباب خوبن یم
دَ ریا تر ناقبوله عبادته
دَ ساقي په میو مست و خراب خوبن یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی
له دے هسے بیداریه په خواب خوبن یم
خاموشی که هرڅو لویه مرتبه ده
زه له یار سره په سوال و ځواب خوبن یم
دَ طوبیٰ دَ ونے سیورے مے خوبن نه دے
ستا دَ مخ په لمبو سوے کباب خوبن یم
دَ یار ویرے غمخواری یم عاجز کړے
رحمان څکه په خوردن دَ شراب خوبن یم

۳۶۲۴ ۲۰/۱۳۵ ۱۸

زه دَ یار په درد و غم کښے شادمان یم
لکه ګل دَ پریشانۍ په وقت خندان یم
دَ یار غم زما ښادی ده سرتر پایه
ق لکه شمع په سوختن سره روښان یم



زه چه ورک په کمینی لکه ذره شوم
ق دَ خورشید په څیر څرګند په درست جهان یم
دَ طلب سرګردانی زما بزرګی شوه
ق دَ تمام جهان په سر لکه اسمان یم
له راستیه شاه ګدائے راباندے یو شو
ق مروت دَ هیچا نه کړمه میزان یم
نه زما ویبکی نه نظر مه کړه
خدائے ساتلے لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه دَ ځنګل په میوه پوره
په ویرانه ویرانۍ کښے آبادان یم
یو وینسته مے دَ صورت بے عشقه نه دے
څوکیدار په هر نفس دَ خپل کاروان یم
دَ وصال مرغه دَ اوښیو دانو راګیر
لکه لعل و دُر په غاړه دَ خوبان یم
دَ کاملے عقیدے له برکته
دَ دوئے په غاړه تاست شاه جهان یم
روښنائی مے په طلب کښے شوه حاصله
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم
دَ اشنا دَ ورېدو زلفو صفت څو کړم
پلے سر په لوید لار دَ هندوستان یم
بے مینه مے هیڅ حال دَ صورت نشته
لکه بے مال او متاعه تش دکان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډ هوس بلبل ویسا راباندے نه کا
په مقلسه جامه ونه ډ خزان یم
و یارانو وته خاک تر تلی لاندے
ډ دے نورجهان په سرلکه اسمان یم
چه ډ یار په مینه سرومال بښندمه
خلقو داوری هغه زه عبدالرحمان یم
خپل جانان ے هسے رنګه وی په زړه کښے
نه پوهیږم چه رحمان یم که جانان یم
په هردم کښے نوے نوے تماشا کا
زه رحمان ډ خدائے وکړو وته حیران یم

۱۹۳۷ ۱۵ ۲۱/۱۳۶

ژوبل ژوبل ډ سترګانو په نګاه یم
تردا لا په دا غوښیږم چه پناه یم
چه یوسفؑ غوندے هزار کښے پرانه دی
بندیوان ډ هغه سیم ذقن په چاه یم
چه ے قد و قامت نه وینم په سترګو
عندلیب په سرډ سروے ډ خپل اه یم
ډ سپین مخ ډ تورو زلفو له رغبته
منت بار ډ هر سفید ډ هر سیاه یم
لکه څوک چه په خرهٔ سورروی مخ ے توروی
زه هم هسے تر خپل خدائے پورے روسیاه یم



ډ رقیب خبرے وړم ډ یار ډ یاره
دعا ګوئے هم ډ نیک خواه هم ډ بد خواه یم
بے له عشقه که مے عیب که مے هنر دے
نه خبر په عبادت نه په ګناه یم
بتاخ ډ زلفو ے په څپد خدائے داتیت کړ
ګنه زه ډ یار تر قد پورے کوتاه یم
ځان هرګوره ناګاه راخرګندیږی
له هغه ورځے را هسے چه اګاه یم
بے صبری ډ یار په وصل کښے مجبورکړم
ډ پسرلی په مرغزار کښے وچ ګیاه یم
له اوله تیتر ووهم بیا اه کړم
په نارو نارو خروس ډ صبحګاه یم
په جذبو جذبو ے راکښوم وځان ته
هغه یار ے کهربا دے زه ے کاه یم
لکه یار ډ وے پوخ شی هغه ریږی
زه هم هسے یار ترے سوبراه یم
اوس ے ځائے په دا جهان کښے پاتو نه شه
خوځیدلے تر چهل و تر پنجاه یم
ډ رقیب علاج اسان دے بلا دا شوه
زه رحمان له خپله یاره تاویباه یم



۱۹۳۹ ۳ ۲۲/۱۳۷

زه یو دم ډ ستاله غمه بے غم نه یم
بے غم ستاله ذکره فکره یو دم نه یم
هر زیارت لره چه درومم مراد مے ته ے
څه زائر ډ بت خانے ډ حرم نه یم
ستا ډ در په تورو خاورو باندے خوښ یم
بے تاخوښ په تماشا ډ ارم نه یم
چه ډ ستا په تماشا یم خبر شوے
نور خبر په تماشا ډ عالم نه یم
بے ډ ستا له زیبا مخه و بل مخ ته
منتظر ډ یوے سترګے تر سوم نه یم
که ډ ستا ډ ښکلی مخ عاشقان ډیر دی
زه په داړو کښے اول یم دویم نه یم
که له غمه و ونه مرم هاله وایه
چه یا دیو یم یا دولب یم ادم نه یم
زړه ے ستا په غمزه غوخ دے غزا وشوه
که په لاسو په پښو روغ یم کړم نه یم
سم قامت لکه الف یم په راستی کښے
لکه غشے څه فساد لره سم نه یم
خم ډ زلفو یم محراب ډ کړو وروځو
څه ډ مار او ډ لړم په څیر خم نه یم



که مے کم و بیش له لاسه واقع کیږی
یم سرے شکم لړم بے شکم نه یم
زه رحمان ډ بیلتانه له لاسه ژاړم
واقعه ده ډیره سخته هیڅ کرم نه یم

# ن

۱۹۶۳ ۳ ۱/۱۳۸

هسے تیز دروی دوران — ګویا برق دے دا جهان
ډ اسیا په څیر ګردش کا — په زمین باندے اسمان
ککری دی ډ سړیو — چه ورېږی تر دا میان
پیدا کیږی فنا کیږی — نه ے سرشته نه سامان
نه ے سرشته نه سامان شته — نه ے حد شته نه پایان
څنے وول وهی ښادی کا — څنے ویر کا ډ خپل ځان
څنے شمع غوندے ژاړی — څنے ګل غوندے خندان
که ے ګورے یو بازار دے — که ے ګورے یو زندان
که ے ګورے یو ګلشن دے — که ے ګورے یو زندان
که ے ګورے یو ګلزار دے — که ے ګورے یو بیابان
یوه هسے تماشا ده — چه ے هیڅ نه شی بیان
کیفیت ے موندہ نه شی — په دلیل او په برهان
چه ے کومه خوا رفتن دے — یا ے چرته دے مکان
خدائے عالم دے په دا علم — هیڅ خبر نه دے رحمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٦٨٣ ٣/١٣٩ ٢١

خان سلطان ؤ دے جهان — اخر د روی خوار حیران
ؤ قضا په خیل شر لی — په مثال ؤ بندیوان
شیرین ځان ورځخه دروی — نه ئے زورشی نه ئے توان
که بندی مال وملک و بې — هیڅ رنګ نه موی امان
نه ئے مل نه ئے حامی وی — درد ئے ورشی په ځان
درمانده ورته ولاړ وی — وزیران او وکیلان
هیڅ دارو ئے کړے نه شی — کوز کوز ګوری حکیمان
بادشاهی ئے پاتو کیږی — زړه ئے چوی په ویرارمان
چه ئے روح له تندیل شی — خور پر ژاړی فرزندان
په ساعت وربانده ژاړی — اخر صبر کا خواران
بیا ئے غسل لره واخلی — په تخته باندے عریان
په جامو ئے هوسیږی — مرده شوے وغاسلان
چه له قبره ئے باز کښت کا — مال ئے یوځی میراثیان
په مسند ئے دعوی کاندی — هم دوستان هم دښمنان
سهیلیه ئے تالا کا — هغه خپل مصاحبان
نام نښان ئے هسے ورک شی — لکه عین بے نښان
نه ئے نقش پاتو کیږی — نه ئے اسم په زبان
دا دنیا آب روان ده — نه شی نقش په آب روان
که هزار اباد ئی کا — نهایت خانه ویران
لکه باد هسے په تیر شی — هغه دور ؤ دوران
دا بیان دور و دراز وو — کوتاه قطع کړ رحمان



١٦٩٠ ٣/١٤٠ ٦

چرته ؤ یار شونډے چرته غم ؤ دل وچای
چرته کوتی لال او چرته لعل ؤ بدخشان
پاک و منزه دے عشق ؤ نفس له خاصیته
چرته چاه ؤ زنکیډے چرته چاه ؤ زنخدان
لی تفاوت نه دے ؤ رندی ؤ زاهد یه
چرته حلمی جونه چرته کوندے پیمان
وارۀ بے وقوف دی چه څوک دین په دنیا لوری
چرته پیغمه ورځ چرته عمر جاودان
خارشه ؤ هوا و حرص خیال تر قناعته
چرته ملک ؤ مصر چرته دیهم غلامان
نه شی ؤ ملنګو ؤ خانانو سره کلی
چرته عزیز خان چرته ملنګ عبد الرحمان

١٦٩٩ ٤/١٤١ ٥

فراموش مے دے ؤ ستا په مینه ځان
ځان لا څه دے بلکه عیش جاودان
لکه زه چه ستا ؤ در په خاورو خوښ یم
هومره عیش طرب نه لری شاهان
لکه زه چه ستا ؤ غم پتروته اخلم
هومره پتر اخستے نه شی پالوان



هسے بے سر و سامان یم ستا په عشق کښے
چه اګاه نه یم په سر او په سامان
هسے بے شرابو مست یم ستا په مینه
چه خبر نه یم په زمکه په اسمان
دا به څرنګ شی چه ته ؤ کال وعده کړے
په ما نه تیریږی بے تا یو زمان
تمامی عمر ؤ ستا په طلب ورک یم
لټوم د په هر ښهر په بیابان
طفلان هم په یو دوه کاله سخندان شی
رحمان زوړ شه ولے نه شه سخندان
چه له دروے ئے شرے ګناه ئے کوم دے
ډیر دے ستا په غم میاں عبد الرحمان

١٧١١ ٥/١٤٢ ٣

څو به شمیرم درد غمونه ؤ هجران
هومره ډیر شو لکه شګے د بیابان
ؤ سری ؤ دښمنیه توان مے نه وو
خدائے راپیښه دښمنی کره ؤ اسمان
لکه څوک چه ؤ اوښ بار په میږی کیږدی
هسے زه یم ترغما غم پورے ناتوان
لکه غم چه ؤ … به ما وریږی
یاد به نه وی د چا هسے رنګ باران



ؤ ما غم به ؤ هغه سری په شمار وی
چه شمیرلی ئے ویښته وی ؤ خپل ځان
که څوک وائی حال ؤ څه دے په هجران کښے
په خاطر ؤ تصور کا دو زخیان
ناقرار زړه مے ؤ یار په هوا والوت
تش صورت مے په ځائے پاتو شه پریشان
ؤ یار یاد مے زړه په غیږ سترګو یو وړ
لکه بت په دیوال کښے یم حیران
ما وے زړه ؤ مومن عرش دے خبر نه وم
چه په عشق زما دا عرش کاندی ویران
عاشقی ئے تر هغه حده بے هوش کړم
چه نه هوش لرم نه سر و نه سامان
لور ؤ لورو ؤ تهمت په غوږ و ویښت شم
ملامت را باندے وائی درست جهان
چه دا حال ورباندے نه وی ورغلط
په ویل به څه کوهیری ؤ رحمان

١٧١٩ ٦/١٤٢ ٥

ورکه عاشقی شه هم ئے نوم هم ئے نښان
زه ئے هسے خوار کړم لکه خاورے ؤ بیابان
زه ؤ عشق په کار کښے تیر تر سر یم بارے څه کړم
دریغه که په سر ئے دا مشکل کا خدائے اسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېوتم د عشق په اُدم خوړو ګرداپونو
نه په وړاندې تلې شم نه په بېرته ګرځېدان
رنځ د عاشقيه چه ظاهر کړم و طبيب ته
هيڅ وئيلې نه شي طبيبان وحکيمان
راشه عاشقي مه کړه رحمانه او که نه وي
تل به پړ او رناست يې که بادشاه يې د جهان

۱۷۲۸ ۱۲ $\frac{۷}{۱۴۴}$

که تر ولېنه بادشاهان او سلطانان
هيڅ نيمګړې په چا نه شه دا جهان
که هزار هزار فنا شي په هر دم کښې
بيا پيدا شي په هر دم کښې هزاران
د رفتن و امدن حساب يې نشته
لکه بحر چه بهيږي بې پايان
يو د بل په غم نه نرم وي نه ګرم
هم هغه زده چه يې وريږي په ځان
پيغمبر غوندې صاحب تر دنيا تېر شه
دا دنيا يې وړانه نه شوه په هجران
چه دا هسې عالم لاندې شه تر خاورو
د چا ياد دي ما او تا غوندې سګان
که غلبيل کړم د تمامې دنيا خاورې
بيا به نه مومم دارا او شاه جهان



پوئي د نام او د نښان يې پاتو نه شه
چه دعوې يې کړې د نام او د نښان
که دروغ وايم ته ورشه نظر وکړه
د خپل پلار او د نيکه په ګورستان
چه يې ته په دواړو سترګو کښېلولې
ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان
چه مدام يې په قربان قربان بللې
اوس دي غېږ د ربانده وکا چه قربان
د رحمان و سوزان شعر ته حيران يم
چه يې اور بل شوې نه دې په ديوان

۱۷۵۱ ۲۳ $\frac{۸}{۱۴۵}$

ته چه هسې کاه يې ترش کاه يې خندان
له عاشق سره کينه کړې که احسان
له احواله د چا هيڅ نه زده چه څه کړې
کله جور کله غرور کړې عيان
رنځ راحت د عاشقانو واړه ته يې
دا دروغ دي چه وصال دې يا هجران
هغه شوندې چه خوږې دي تر شکرو
له بنکنځلو يې عار نه کا عاشقان
رجوعات د ښائسته و چا ته نه وي
هرګز نه وي سرکوزي د سرو شان



دغه هسې رنګ ښائست لکه چه ستا دې
نشته دا رنګ ښائست د هيڅ انسان
قصد تر هسې حده ولې کړې کل رنځې
چه له ډيره نازه وژنې عاشقان
د سرې صورت څه روغ دکاني شه دې
نشته کافي څخه ستا د جور توان
و هر کار و ته چه ستا قوت رسيږي
هلته نه رسي قوت د درست جهان
ستا له جوره زهره نه لري چه اه کا
که کشور د عاشقانو شي ويران
خوار حيران لکه عاشق دې ستا له دره
خدای دې هيڅوک هسې نه کا خوار حيران
لکه ډير دي د وصال د راحتونه
دغه هسې د فرقت د سخت زندان
د رخسار لمبې د واړه د خورشيد دي
چه يې درست جهان له نوره دې تابان
له هوسه د هر ګل کره خندا شوه
چه يې وليد ستا د حسن ګلستان
کله وي چه نصيحت کا و عاشق ته
که له حسنه د آګاه شي زاهدان
رنګ و روئې د رنګ و روئې لري د ګلو
تورې څڼې د ښاخونه د ريحان



سپاهي د نوي خط د هسې زيب کا
لکه کښلي واړه توري د قران
و کوهي و ته لغزش که کل خطر دې
کل غيرت دې کوهې ستا د زنخدان
که د درو تجلي ده ډيره ډيره
در تاريک شي چه ظاهر شي ستا دندان
نه سلطان د ښائسته و يې دلبره
دا نور واړه ښائسته د غلامان
که دا نور ښائسته ستوري و ملکيږي
ته خورشيد غوندې صورت لرې روښان
له هر چا چه اوريده شي دغه واقي
چه ښائست د ذره نه لري نقصان
ترو وئيل د رحمان څکه در و لعل شو
چه د ستا د لعلو شونډو شه ګويان

۱۷۸۰

ډېر ياران وو د ګل خان د جمال خان
په کار نه شه يو په وقت د زلستان
د همه واړو يارانو مخ د تور شي
که به څوک وېله ياري کا په دا شان
چه يو يار په سيوري ناست وي بل په اور کښې
و هغو ته به څوک څه وائي ياران

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ تعریف به نه پڅ ژبه دا و نه شي
صد رحمت شه په یاریه د محل خان
تر دا هور نه د یاریه شرط نورڅه دے
چه په اور کښې دواړه وسوزي یکسان
چه له الله له اولاده سره وسول
خدائے دِ نه کا څوک دا هسے مظلومان
چه په اور کښې یو د بل دپاره سوزي
ما لیدلي نه وو هسې مخلصان
د نمرود چارے مے ولیدے په سترګو
چه ئے اچول و اور ته مرسلان
څه رنګ شوخ وو هغه او هم هغه خلق
چه ئے مر نه کړ د اوښیو په باران
الغیاث دے الغیاث دے الغیاث دے
چه انسان کا هسې ظلم په انسان
وَ دے زمکے او اسمان و ته عجب یم
چه نه زمکه په تارو شوه نه اسمان
هم دے لویو لویو غرونو ته حیران یم
چه و نه لوېښته له ویخه سرغلطان
له دے څیله سپیه نفسه مے زړه پد شه
چه اوبه څښي یا خواره خوري په جهان
عالم وائي چه قیامت به په جمعه وي
ولید ما په یک شنبه په دا دوران



سربندونه ګویا دشت کربلا وو
چه سیلاب شه د سرو وینو پر روان
هزار حیف دے چه دا هسے رنګے چارے
واقع کیږي د دنیا په سود و زیان
په عیشي او په جال کښې ګناه نه وه
دا مکرونه وو د نفس او د شیطان
عزیزانو به په څه وبله وژله
دا همه واړه تقدیر دے د سبحان
هسې نه چه دا ئے وکړه نور به نه کړه
چه ئے زړه شي هغه کاندي پادشاهان
شاه عالم اعظم وګوره چه ئے څسا کړ
په خونونو واړه ملک د هندوستان
و دارا او اورنګ زیب وته حیران یم
چه ئے څه چارے واقع شوے ترمیان
د حسن حسین غزا دِ څوک په یاد کا
چه همه واړه په تیغ شو شهیدان
دوه غاښي اوښه ئے وینو رغړولے
هسې بے حسابه خلق شه طوفان
هر چه اهل د دنیا دي حال ئے دا دے
که سړي دي که پیري که حیوان
آدم زاد په مخ د زمکے وبله وژني
په دریاب کښې وبله غوټه خوري ماهیان



لکه غوټے چه ماهیان خوري په دریاب کښې
په هوا کښې هم دغه کاندي مرغان
خزنده و پرنده دي د دے دهر
همه واړه یو تربل هشت وکړیوان
مرداري د دے دنیا خو هم دغه ده
ځکه بیرته ځنے ګرځي درویشان
مکاري د زمانے څه هومره نه ده
چه رحمان ئے کا وچا وته بیان

۱۷۹۳ ۱۰/۱۹۷ ۳

که یخوا تر اشنائیه وے بیلتون
ما به نه وو له چا کړے بیوستون
چه مے یار په سترګو ولید ما ګمان کړ
چه هم دا ساعت مے بیاموند ه ژوندون
په نیکړي داو خبر د فلک نه وم
چه به بیا شي پسته راڅخه ستون
نن ساعت چه له دے حاله خبردار شوم
سکه تر نن ورځے بهتره وه پرون
هر زبون چه په ما راشي شکریت کا
عاشقي تر هسے حده کړم زبون
اوس که لاس پر بله مړم هیڅ سود نشته
هغه چار چه مے له لاسه شوه بیرون



لکه نمر په څلورم اسمان ځلیږي
محبت ئے له حجابه کړم بیرون
چا چه رخه له بنه څخه راکوله
اوس د سور په نیلي ګرځي د ګردون
په دا هسې حال کښې څرنګه صبوري شي
چه دښمن د کامراني کا ته محزون
که په صبر سره تور کاڼے لعل کیږي
لعل ئے مه کړه په دا هسې شوا څون
د دنیا هوس په ما باندے حرام شه
د هوسي هسې کړم شپه په میږه تون
دریغه یو ځله هغه زما په حال شوے
چه وما ته لولوي صبر و سکون
و رحمان ته ځان هغه ګري اسمان شي
چه د ستا په غم کښې ناست وي سرنګون

۱۸۰۲ ۱۱/۲۴۸ ۹

دنیادار د دنیا کار کا زه د دین
خواشین زما په ملک دی خوشه چین
هیڅ کم نه دے ترسپین مخیو دلبرانو
بلکه به دے زما دا شعر نسکین
مراد له تورو سپینو واړه دلبري ده
موقوف نه دے دغه کار په توراوسپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه رنگین رنگین مضمون پر کښلے نه دی
څه پکار دے د بیاض کاغذ رنګین
چه خدائے چاله مرتبه د سلیمان ورکا
هیڅ پوره نیمګړے نه دے په نګین
خوند په خوله دے نه په ژبه په خواږه دے
اب و خور که د چا تلخ دے که شیرین
غرض خوب دے که په خس وی که په خاورو
څه حاجت دے په بستر او په بالین
مصری توره هم په بدغلاف کښے زنګ شی
خدائے څوک مه کړه د بدانو هم نشین
څه عجب که په ورځ مهر په شپه ماه شی
د رحمان اشنا چنان دے هم چنین

۱۸۱۱ ۹ ۱/۱۴۹

و

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو
د اسمان لاسونه شنه شو تر څملکلو
هومره غم د بیلتانه راباندے راغے
چه حساب ئے نه په خوله شی نه په کښلو
هغه سترګے چه نرګس وے هم بادام وے
تیرے تورے شوے زما په قتلولو
هغه شونډے چه شیرینے وے ترقنده
ما هیڅ فیض تر بیانه موند بے بنګنځلو



دا کاږه کاږه باڼه او کږے وروځے
نور څه نه کا بے کږو کږو وهلو
په شپه توکے د عاشق په ویښو سرے کا
سبا پورے کا نکریځے په منګلو
دا زما د قاتل لاس دے چه لیده شی
که تر باغ و تلے بناخ دے د سروکلو
دریغه مرګ ئے په دنیا کښے نیمه خواشوے
بناسته غنچے ئے پرے په پیتے د ګلو
هے بند شه په کمند د تورو زلفو
چه حیران یم د رحمان په خلاصولو

۱۸۲۵ ۱۴ ۲/۱۵۰

تا چه رنګ د میو ورکړ و لبانو
اور د پورے کړ په کور د میخوارانو
چه د جوړه کړه لیندۍ د کږو وروځو
خوب د زوږ کړ د حرم په غزالانو
چه د لسم د زنځیر په زلفو کښینو
معطر د کړ دماغ د دیوانګانو
په رخسار چه د د خط غبار ګرځنده شه
سربلنده شوه فرقه د خاکسارانو
کاږه غشی واړه بیرته ئی له شینے
زه ادا کړم ستا کږو کږو مژګانو



د پیزوان دغمے د زیب کا په لبانو
دواړه زلفے د چوری د ملنګانو
چه زما د یار ترمینځه جدائی کا
کاڼے پریوتے په خونه د بدانو
که مے چرے خواست د خدائے په درقبلیږی
سوال به زه د عمر کړم د مهوشانو
سور پیزوان د په سرو شونډو دهسے زیب کا
لکه جیم په قلم بنکلے کاتبانو
تور اوربل د لکه مار په جبین پروت دے
شینکے خال د محاصل په رنځورانو
دا چکوه چکوی چه ژاړی ګرم خونه دی
په ارمان ئے ځبله بیل کړه رقیبانو
ستا د خولے له حقیقته صوفی څه زده
له دے رازه څوک خبر دی بے رندانو
دواړه لیچے د وکښلے مصری تورے
درپوهیږم سر به پریکړے د خوارانو
ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوزی
لکه شمع په زیارت د شهیدانو

۱۸۳۵ ۱۰ ۳/۱۵۱

چه کوتلی وی په تیغ ستا د چشمانو
سرحلقه وی د جمله و شهیدانو



ستا وصال د سرپریکړیو دے دلبره
ژوندی نه موندی جنت بے مرده کانو
د پیری سیورے عاقل لره ضرردے
دا مقام دے د سرتورو دیوانګانو
په سرپوش محل کښے نور د افتاب نه وی
دا دولت دے نازل شوے په بے کیانو
هم په دا زما له سترګو وینے څاڅی
چه د نقش په کښے رنګ دے د لبانو
مشکین خال د په سرو لبو هسے زیب کا
لکه مهر په مخزن د در مرجانو
دواړه لب د بناسته تر سرو یاقوتو
شرموله ده پرلی د ستا دندانو
دوه رخساره د دوه سیب د سمرقند دی
بر سینه د دوه نارنج د رنځورانو
د لیلی د کوځے سپے په مجنون پیښ شو
په بار بار ئے بنکلوه په دوه عینانو
ما سوا له یاره هرچه دی رحمانه
واړه کفر دے په دین د عاشقانو

۱۸۴۳ ۸ ۴/۱۵۲

که هرڅو په صحرا سرشوم هم په کلیو
بیا مے نه موند هیڅ خبر د هغو تللیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر اشنا چې مخ پنهان کا نه ئې موم
که ئې غوارم شپه و ورځ په سورو پکیو
خدائے زده کومه خوا ته لاړه حال ئې څه دے
خبر نه یم د کړنگ له پریوتلیو
له دے غمه مے زړه څوی که څوک خبری
لږ په ما هم خبر وکړی خدائے ساتلیو
پس له دے به چرته دروهئ خاے موکوم دے
راته وایئ د دنیا په سرائے راغلیو
له ناپوهه خلقه نه کیږی پښتنه
زه وتاسو وته وایم پوهید لیو
گوندے ستاسے په مخ زه هم وپاندے شم
لاس د خدائے و در ته ونسئ پسندلیو
خبر نه یم چې په باب مے کښلی څه دی
زه رحمان په اندیښنه یم له دے کښلیو

۱۸۵۱ — ۸ ۵/۱۵۳

تور لیمه مے د فراق په ژړا سپین شو
دوباره د زړه په وینو کښے رنگین شو
ما وے زه به لا دیدن کړم د یارانو
خبر نه وم چې یاران په کوچ تعین شو
چا پتنگ غوندے ځان پاسلوه چراغ ته
څوک ژوندی لکه بلبل په اتشین شو



و مرده وُ نه د مرگ خواری شوے پیښے
او ژوندی په زندگی کښے اندوهگین شو
د قضا سپاهیانو هسے لاس په تاخت کړه
چې پائمال هزار خسرو هزار شیرین شو
چې قدم ئې په اسمان ښیو له نازه
هغه هسے ناز پرور زیر زمین شو
چې مدام ئې په سنجاب دیباسه خوب کړ
وس په زمکه بے بستر و بے بالین شو
د رحمان خاطر به ولے پریشان نه وی
چې پریشان ورڅخه جمع هم نشین شو

۱۸۹۵ — ۴ ۶/۱۵۴

هیڅوک مه شه گرفتار د تورو زلفو
مه اسیر شه په کفار د تورو زلفو
هم په شان د تورو زلفو به پریشان وی
هرچه کاندی انتظار د تورو زلفو
د محشر په عالم کله قراری وی
څوک به څه غواړی قرار د تورو زلفو
ولے صبح د قیامت دمیده نه شی
ورځ به نه شی شپ تار د تورو زلفو
مگر شمع د سپین مخ شی باندے بله
گنه نشته بل انوار د تورو زلفو



تار په تار کا د عاشق د خاطر خونه
چې حلقے شی تار په تار د تورو زلفو
چې تمام جهان ئې ښتے وی په دام کښے
څوک به څه کاندی انکار د تورو زلفو
زه له کوم یوه کمنده سر وکاږم
کمندونه دی هزار د تورو زلفو
هومره زړونه ئې پیښلی په هر تار دی
چې تسبیح کړ خدائے زنار د تورو زلفو
په تندی د محتسب کا دره ماته
چې پر راشی دره دار د تورو زلفو
ملک د هند او د حبش ئې واړه زیر کړ
چې پیدا شه شهریار د تورو زلفو
ښامارانو غوندے کړی په گنجونو
نه شی هیڅ په زړه کښے وار د تورو زلفو
که بل مار چیچل په لاسو یا په پښو کا
په زړه خوله لگوی مار د تورو زلفو
د رحمان تر قلم مشک او عنبر ووری
چې آغاز ئې کړه اشعار د تورو زلفو

۱۸۷۵ — ۱۰ ۷/۱۵۵

اوښے نه لری حساب زما د سترگو
بے حسابه شه سیلاب زما د سترگو



سیاهی ئې همه واړه سفیدی شوه
هسے پریولے شه کتاب زما د سترگو
که مے سره دی که مے سپین دی که مے تور دی
اوښیو یوور هر اسباب زما د سترگو
چې رخسار د هغه یار راڅخه پټ شه
حبطه شه آب و تاب زما د سترگو
چې گداز ئې په دا گرمو اوښیونه شه
مگر کاځے دے حباب زما د سترگو
که نور خلق د افتاب په رڼا زیست کا
مخ د ترکو دے افتاب زما د سترگو
ما ئې خیال لره ابلق د سترگو زین کړ
قدم نه ږدی په رکاب زما د سترگو
چې مے نقش په زړه سرے شوندے د یار شوے
کان د لعلو شه گرداب زما د سترگو
لکه تښتی وحشیان له مردمانو
هسے وتښتیده خواب زما د سترگو
ما رحمان چې سترگے روښے په چل یار کړے
وس محال شه اجتناب زما د سترگو

۱۸۹۱ — ۹ ۸/۱۵۶

که نظر کا څوک په کار د درویشانو
خود به ووینی وقار د درویشانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه لاره به ورځني وخدائے ته
که څوک يون کاندی په لار د درويشانو
هر ګفتار به ئے د خدائے په در قبول وی
چه قبول ئے وی ګفتار د درويشانو
هسے ګرم بازار بل په جهان نشته
لکه ګرم دے بازار د درويشانو
په يوه قدم تر عرشه پورے رسی
ما ليدلے دے رفتار د درويشانو
صومره خلق ئے طواف کا پس له مرګه
چه بازار وی په مزار د درويشانو
بادشاهان د دے دنيا واړه پراته دی
لکه خاورے په دربار د درويشانو
هر بهار لره خزان په جهان شته دے
خزان نه لری بهار د درويشانو
د جنت د باغ ګلونه به ئے هير شی
که څوک ووينی ګلزار د درويشانو
چه دنيا ئے کړه د خدائے دپاره ترکه
صد رحمت شه په روزګار د درويشانو
د قارون وحال ته ګوره حال ئے څه شه
واشه مه کوه انکار د درويشانو
په هرچا چه د غضب لينده کا غرقه
خطا نه درومی ګوزار د درويشانو



که د زره سترګے بيناوی و به وينی
لکه نمر هسے انوار د درويشانو
که د زړه وی چه د زنګ شی د زړه لرے
راشه وګوره ديدار د درويشانو
که مراد دنياوی اخروی غواړے
هرګز مه پريږده جوار د درويشانو
ورست ديوان د رحمان څار تر دا غزل شه
چه بيان ئے کړ کردار د درويشانو

۱۸۹۸ ۷ ۱/۱۵۷

ه

| | |
|---|---|
| د دلبرو په درګاه | نه حرمت لرم نه جاه |
| غوټوی مے د زړه ولے | د چشمانو په نګاه |
| صومره قدر مے هم نشته | لکه قدر د ګياه |
| يو نظر راباندے نه کا | از برائے عند الله |
| هيڅ له ځانه خبر نه يم | چه ئے څه لرم ګناه |
| که له غمه ئے سر پټ کړم | بل سر نه لرم پناه |
| د رحمان په څير و مه شه | حال احوال دچا تباه |

۱۹۰۸ ۱۶ ۲/۱۵۸

| | |
|---|---|
| ته شهائے شکر لبه | ګل رخساره سيم غبغبه |
| په نادرو کښے نادره | په عجبو کښے عجبه |
| په جمله ومعشوقو کښے | بوالعجبه منتخبه |



| | |
|---|---|
| بے زيوره دلفريبه | بے ترتيبه مرتبه |
| دغه داد الهی دے | بے تلاشه بے طلبه |
| آب حيات حيات بيا مومند | ستا د لبو له سببه |
| مخ د سپين تر سپين صباحه | زلفے تورے تر تور شبه |
| ستا د مخ عرق دانه و | زينت راشيو له کوکبه |
| د ښائست مخے د نشته | تر مشرقه تر مغربه |
| د وصال مونده د ګران دی | مګر مهر شی له ربه |
| چه د رب مهر پر وشی | هغه خلاص شی له غضبه |
| دا دولت د خدائے په داد دے | مونده نه شی له نسبه |
| عشق څه هسے علم نه دے | چه حصليږی له مکتبه |
| مکتب حل د مذهب وائی | عشق سوا دے له مذهبه |
| د عاشق مذهب هم دا دے | چه دم نه وی بے مطلبه |
| ستا د حسن په تعريف کښے | رحمان ګنګ دے له ادبه |

۱۹۲۹ ۱۵ ۳/۱۵۹

| | |
|---|---|
| په ورځ ناست ئے بے طلبه | په شپه خوب کړے بے ادبه |
| لاس د وخاته له دواړو | هم له روژه هم له شبه |
| نه ملے شوے نه هورے شوے | ترمياں ورک شوے مذبذبه |
| عبادت د په ريا شه | په مذهب کښے بے مذهبه |
| مدام بند ئے په سبب کښے | بے خبر له مسببه |
| واړه ځي شلوهے شاربے | خبر نه شوے له مطلبه |
| ته ووده وربانده ناست ئے | اس د يون کا بے جلبه |



| | |
|---|---|
| تن د تش په توره وسه | اس د داغ کړه بے منصبه |
| د راکب چه وک پرده شی | سود ئے څه وی له مرکبه |
| له ژوندیو سره ناسته | له مرده و مرکبه |
| هلک لوئے شوے په اوبو کښے | اوبه نه پيژنے کبه |
| لکه کاڼے يا کودرے | په درياب کښے تشنه لبه |
| نا اشناه خپسرا کاد يوے | دا خبره ده عجيبه |
| مراد له زهده معرفت دے | نه تش ځان وژله اقربه |
| د رحمان شراب له عشقه | نه له ګورو له عنبه |

۱۹۳۸ ۹ ۴/۱۶۰

په هر زره چه د يار مينه شی غالبه
بله مينه ئے هيڅ نه وی متاسبه
نورے واړه مرتبے به ورته هيڅ شی
که خبر شی څوک له هسے مراتبه
لا نقت ئے هر وګړی څخه نشته
عاشقی يوه پايه ده عجائبه
د طلب له کوتاهيه ويره وکړه
که هر څو د لار کوتاهه ده طالبه
عشق ځرګنده خزانه ده خوار هغه شه
چه ځرګنده خزانه شوه تر غائبه
واړه خط د مهرويانو تر خط نشته
که هزار کتابتونه کړے کاتبه

هېڅ نه مه پېژنه له فرضو له واجبو
په حقو چه عاشقي کړه خدائے واجبه
عاشقان تر سرو مال و يار ته تېر دي
خدائے دې دا طائفه نه کاندي کاذبه
زه رحمان د خپل صاحب په رضا زيست کړم
څه په کار دے بنده بې خپله صاحبه

۱۹۴۸ ۱۰ ۵/۱۹

چه ئې وليده ستا حُسن بې حسابه
لا دې قصده تاؤ پيدا شه له آفتابه
په ارزو د د نرګس سترګې ځوړ شوے
غنچه سره د زړه په وينو شوه غرقابه
ستا په غم مے سترګې سرې سرې داغ شوې
يا څپې دي سياه پوښه سره طنابه
که د زلفې په پېچ پېچ و تاب شوه بتاني
وبيته ئې طاقت لري د اور له تابه
زه چه خدائے د ستا له غم سره آشنا کړم
خوشحالي مے نور نايابه شوه نا يابه
سترګې مے د فراق په ژړا شته شول
د سبزې اثرے پلټېده له آبه
ماه خورشيد د په بنا شتپورے شرمېږي
ځکه ځې پټه کوي تر کوه قابه



زه د پېژنم په اصل کښې خاکي يم
خان به څو ښندې په کوته له ترابه
څو د خيال د آشنا ګوټې په ليمه کښې
خبر زده کړه ته د اوښيو له سيلابه
د رحمان بخت به هالا له خوبه وېښ شي
که ته سترګې ورته پورته کړې له خوابه

۱۹۵۹ ۱۱ ۶/۱۴۲

ورځ د تېره په شوخۍ کړه شپه له خوابه
خدائے به کله ياد وې خانه خرابه
په شتاب شتاب د تله دي کړه وهېږي
غافل مه شه د دې عمر له شتابه
دلته دم و قدم دواړه په حساب دي
پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه
راستو لې خدائے حساب دے په کتاب کښې
خبر زده کړه له حسابه له کتابه
ق څو په دا جهان اوبه له تنه نه شے
په قيامت به د سينه نه شي سيرابه
ق اندرون به د له اوره هسې ډک شي
چه ښي ډک شوے له شراب وله کبابه
ته دا خپل نيک و بد وتله په خپله
چه ثواب د څو تېر دے که له عذابه



په هغه جهان به څرنګه ځواب وکړے
چه په دا جهان عاجز ئې له ځوابه
چه آفتاب يوه نيزه شي تر و به څه کړې ته
چه ښې سيوري لره تښتې له آفتابه
د کاغذ په کشتۍ سير کوے رحمانه
دا کشتۍ به د مرګه کاندي غرقابه
په آزار د چا راضي مه شه رحمانه
که خلاص په قيامت غواړې له عذابه

۱۹۷۳ ۱۳ ۷/۱۴۳

ما د دهر غم وهلے دے په لته
د پيالے د صراحۍ له برکته
که اوبه دي د حياتو په ظلمت کښې
ساده روڼو وما واکړے بے ظلمته
هغه يار چه وما جام د مېو راکړ
د دښمنو ويره مې ووځه بې شدته
بې خوديه د دنيا له غمه خلاص کړم
لاړے بيا مونده بېرون له شش جهته
د دښمن له دښمنيه مے خندا شي
لکه شمع د مقراض له څصو مسته
بې خبري مے کل په خبر دي شيرکي
د مزري په خوله کښې ناست يم فراغته



مر بهتر دے نه هغه چه څوک بې پت شي
په ياري کښې د خدائے نه کا څوک بې پته
دا ستي چه په اور سوزي مراد مندا دي
چه په اور کښې سوځه به يم نه بې پته
خدائے حال د سري ياد شي چه دردمند شي
که نه ده دردمندي تر عبادته
خود پرست د خپل وجود په تياره ورشي
ق د مستانو لار به خدائے نه کا غلطه
بې ديدنه که فردوس وي پکار نه دے
ق باغ څوک څه کا بې د يار له وصاله
د دنيا شادي به واړه آخر غم شي
ق دغه مل د چا مل نه دے تر مدته
خدائے نبي به د روزي نه شي رحمانه
ق څو خلاص نه شے د دنيا له محبته
زه رحمان په سل حلقو د زلفو بند يم
لا د ياسه يو پېزوان شه بله تته

۱۹۷۹ ۹ ۸/۱۴۴

ق
چه ځلې نه ستا د کښو شه په کوته
په تحقيق توره بلا تېروي سرته
چه په توره شپه به توره بلا سر شي
د ژوندون امید به څه وي وهغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د زلفو د زنځیر هسې حلقې دي
چه د اور شعلې ئې خیژي تر هر وته
و هرچا وته چه دا بلا شي پېښه
په ژوندون به ئې څهره نه شي ثابته
ستا بلا به عاشقان اخلي د لېره
په هاتیانو ویبا څوک کا بې مهوته
ما رحمان چه څوک چار باسي ستا له مینې
ګویا عین نصیحت واڼي ووده ته

۶ ۹/۱۹۵ ۱۹۸۵

تا چه په دا نورو سترګو وکاته وماته
زړه د زما تور کړ له دے نوره مخلوقاته
ما خو چه نه ولیدے هغه ساعت مے ووے
نوره به مے مینه د زړه نه شي له تا ماته
شیخ و زاهدان چه نصیحت وماته واڼي
نه دي خبر شوي ستا د مخ له محسناته
څه وشو که زه انګشت نمائے شوم ستا په مینه
لا تر ما ئه خویش ئې و قاضي او و ملاته
مرمه زه په دا چه ما چار باسي هغه خلق
بیا و په دیدن ترما وړو هم زغلي وخواته
زه رحمان چه ووینم یار وایم خدایه خیر کړے
ګوره شاپیرۍ ده د بني آدم له ذاته



۷ ۱۰/۱۹۶ ۱۹۹۲

تا څو زده زما د زړه له احتیاجه
تر و ما څه پوښتې چه څه غواړے محتاجه
د طالب مطلوب روش به ما درویښو
که ته نه وے خبردار له دے رواجه
یار که یار تر حال په خوله نه وائی څه شو
و حکیم ته پټ څرګند وی له مزاجه
که زما له حاله ما پوښتے حال دا دے
چه بې تا مے ورځ تیره تر شب داجه
اشنائی به ما په کوم قوت کوله
که خبر وے ستا د هجر له تاراجه
که له سلو به یو خواست زما قبلیږی
خدائے د هیڅوک رنځور نه کا بې علاجه
په رحمان بلا پېښے که زهیر یږی
ته مشغول اوسه له خپله تخت و تاجه

۹ ۱۱/۱۹۷ ۲۰۰۱

چه خبر شوم د ساقي د جام له راحه
لګه مړے ملاقي شوم له ارواحه
زه چه زلفې د یار ووینم په خوب کښے
په شپه مښک رابانده ووری تر صباحه



سیا زیرے د وصال په مهجور کاندي
د هیواد خبر موندہ شي له سیاحه
که روا کا خون خوردن د عاشقانو
څوک وبه شي د خوبانو له صلاحه
هر ساقي چه جام د عشق لري په لاس کښے
دا پیاله ئې په مستانو ده مباحه
مخ بې مینې که څوک ستائي ستایه نه شي
د ممدوح له قدره چا زده بے مداحه
د جمله مشکلات قلف به نه شي لرے
که د فتح کنجي ورکاندے فتاحه
مرتبه د عاشقي واړه په عشق ده
نه له زهده له تسبیحه له صلاحه
د دنیا ناوے په عقد کښے دین غواړي
اے رحمانه خان ئې ژغوره له نکاحه

۶ ۱۲/۱۹۸ ۲۰۰۷

څه شو که خاموش یم ستا د عشق له لاسه
ستا زما له مینې خلقه واړه خبر ده
هیڅوک د په خوله د عاشقیه لاف نه کا
کله هم پټیږي وچې شونډے ګونه زړه ده
اصل د دنیا واړه نامرد دی رنګ ئې ورک شه
خدائے د ملاقات د هیچا نه کا له نامرده



کله به دردانو لره زړه د چا ورد روي د
زه به صدقه کړم سل بې درده تر اهل درده
بے د ستا د عشق د شهیدانو له خاکدانه
کله زرغونیږی سره لاله له هره ګرده
یو خوشحال یو کم سل خشک تور په طبیعت کښے
خارشه د رحمان سره بنی له یوه فرده

۸ ۱۳/۱۹۹ ۲۰۱۵

ګوره بیا به څوک ادا کا په زړه غوټ‌‌یږه
چه دا هسے مسته دروهی مخ بربنډه
ته چه کل د اشنائی له باغه غواړے
خبر زده کړه د هجران له خار وخنډه
طالبان که مرور دی هم پخلا دي
بې مطلوبه د چا نه رسی دا هنډه
ما رستم د دهر ولیده په سترګو
د خپل یار له جوره ژاړي لکه کونډه
د عاشق د لاغرۍ سبب دا دے
چه فرقه د معشوقو شوه په زړه ټنډه
زه به حورے د جنت بې یاره څه کړم
خدائے د سروه د چا نه کاندے ارهنډه
سخت ساعت د بېلتانه مے به هیره نه شي
که را ځکه شي د تور لحد ګور هنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه رحمان دَ هغه حُسن دعاګوی یم
چه جرګه دَ عاشقانو وی پر پښو لا

۲۰۳۴ ۹ ۱۴/۱۷۰

ستا په عشق کښې دروغژن یم سرترسره
چه له غمه دِ ژوند ے کړخم دلبره
زه به ستا له لاسه کله شو لا مړ وم
وے دم دَ خدائے په لاس دے نازپروره
جدائي به مے یو دم قبوله نه کړه
که چا مرګ او بیلتون ښنے وے په غوره
شام سحر زما دَ ستا زلفے رخسار دی
صبح مے مه ښیه له شامه له سحره
چه خبر به په وصال او په هجران شوم
خبر نه یم له فردوسه له سقره
بے دَ ستا له مخه ورځ رایاندے شپه ده
روښنائي دَ ورځے چرته وی بے نمره
هسے بے سر وسامان به هیڅوک نه شی
لکه زه چه بے سامانه یم بے سره
یو هنر مے منظور ستا په نظر نه دے
که زه وکړم ستا په عشق کښے سل هنره
هیڅ اثر دَ رحمان اوښے په یار نه کا
خدائے دِ اوښے دَ چا نه کا بے اثره



۲۰۳۰ ۹ ۱۵/۱۷۱

ما چه جور و جفا بیاموندہ له یاره
دَ وفا طمع به څه کړم له اغیاره
له دښمنو به دَ ښادی امید څوک څه کا
چه دَ دوست دَ لاسه غم شی ورد و کاره
دل آزار که جفا کا مانه ترنه شی
حیف خوداے چه دلسوز شی دل آزاره
دا کله هم ډیره ډیره له هغو شی
هرچه طمع تر دَ بنو کیږی بسیاره
طالبان خو تر مطلوبه پورے پړه دی
خدائے دِ تا بے وفا نه کا وفاداره
که له دیره حیا نه ګوره وچا ته
څه خو مټ کړه دَ رحمان دَ زړه دیاره

۲۰۴۲ ۲ ۱۶/۱۷۲

ستا په عشق کښے هسے خلاص یم له شعوره
چه یوه خبره نه لرم منظوره
طبیبان وائی چه صبر و دارو دی
خدائے فرقه زمونږ پیدا کړه ناصبوره
توره هرچیرے ترلے په دښمن شی
یاره ستا سترګے دوستان وژنی په توره



معشوقے دَ زمانے شوے سره تولے
دَ زړه خونه مے نے ولوټله چوره
زه تنها په ضرور نه یم ستا له غمه
پیدا شوے عاشقی ده له ضروره
هرے شپے لره ورځ شته دے په جهان کښے
زما عمر جدائیه کړ بے نوره
مهرویان وفا له هیچا سره نه کا
دا خبره په عالم کښے ده مشهوره
چه خبر شی واره ګوتے په غاښ نسی
په هجران کښے خبر مه شه له مهجوره
دَ رقیب له بدو سترګو دِ خان ژغوری
هرعاشق چه بهره مند وی له حضوره
هومره توان وتوفیق نه کړم په بخت کښے
چه تائب کا ما له فسقه له فجوره
په نظر دَ مدعیانو تورکودے دے
که نے ګنیوم دَ کټ دپاسه حوره
دَ رحمان دَ سترګو نم به هاله وچ شی
که وچ شوے دَ چا نم وی له ناسوره

۲۰۵۶ ۱۴ ۱۷/۱۷۳

نه رسیږی ستا وحُسن و ته حوره
څه به رسی و میرمنے ته مزدوره



ستا و قد او و قامت ته نه رسیږی
که نښتر که سپاری وی که کجوره
تر قامت پورے دِ سروه ده سرکوزے
تر صورت پورے دِ شمع ده بے نوره
هرسرے چه دِ وحُسن ته نظر کا
بناپیری نے په نظر وی ناسطوره
تا چه مے دَ خیلو شونډو وربه خوله کړه
طائفه دِ دَ صوفیانو کړه مخموره
اوس ته وایه چه په څه رنګه دِ ستا یم
زه خو ستا په مینه لاړ یم له شعوره
دا جذبه دَ عاشقی نه ده نور څه ده
ګنه کله څوک وتے شی له دستوره
اوس به زه دَ شب خیزیه څه منت کړم
چه څهره دِ کړه په خوب کښے راحضوره
که سل ځله زوبه غوره وی تر لونګو
صدقه شه ناقابل زوبه تر لوره
چه په ننګ او په ناموس تر لونګو وی
خدائے دِ مور کاندے په هسے زویو بوره
ننګیالی تربرونه ښه دی او که نه وی
ننګیالی ترله هم ښه ده تر تربوره
خوبروی بے دلبریه پکار نه ده
لکه ونه بے میوے په پانو ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دَغلوځې لباس وکا غزا وشوره
شهد نه دی چا موندلی له زنبوره
په رحمان دَ بناښت وُ قدر ډیره ے
دَ طبیب له قدره چا زده بے رنځوره

۷ ۱۸/۱۷۴ ۲۰۶۳

ی

زه دِ پرے یستم له خپله زوره شوره
په څو کران ئے ته دَ عشق ناتاره زوره
که دَ ځان وینے ے تل دَ ځان خوراک وی
خدائے ے مه کړه دَ زړه مینه له تانوره
چه دَ ستاله اشنائی له عهده ووځم
رب ے مه کړه په دا شانے دعوی سپوره
چه په تله دَ سر ومال ورځئے نه ځے
عجب شان لرے دَ عشق عظیمه توره
په زورل دِ ډیره نفع راته رسی
څو دِ زړه څو دِ رضا هومره ے زوره
ربه روی دَ ستا دَ دوست ے دے دروړے
دَ بیلتانه دَ سخت ساعته ے وژغوره
که گذر په قبرستان زما دَ یار شی
سر به هسک کړم زه رحمان ورته له گوره



۸ ۱۹/۱۷۵ ۲۰۷۱

زه عار نه لرم په عشق کښے له پیغوره
بے پروا یم دَ ستی په څیر له اوره
ږدی په خوله دَ سمندر مهر دَ مومو
څوک چه مامنع کوی دَ عشق له شوره
بے هجرانه زما نوره خواری نشته
وے نشته تر دا بله خواری نوره
لکه ته چه خدائے هرگوره بناښت کړے
زه ئے هم هسے بے صبره کړم هرگوره
چه په تور او سپین ے اروی داڅوک دے
که ته نه ئے په مخ سپینه په زړه توره
دَ رقیب له بده خویه به څه وایم
لا چه یار ورسره مل شی هاله گوره
چه ئے پوره دَ مرگ ترپوره لابد ترده ے
هے توبه دَ بیلتانه له بده پوره
عاشقی سرے مجنون کاندی رحمانه
گنه څوک په هوښیاری ووځی له گوره

۱۱ ۲۰/۱۷۶ ۲۰۸۲

چه په وقت دَ ځنکدن وکاږے ډیره
ترو نن وے هسے ناست ئے بے تدبیره



هر سرے چه کاندَ دغم په مخ کښے وینی
له هغه غمه لا نن گرځی دلگیره
چه سبا ارمانوے پند دَ پیرانو
وے نن دَ پیر طلب نه کړے بے پیره
دَ یار یاد به دِ ځائے څه رنگ په زړه شی
چه دِ غیر لرے نه شی له ضمیره
چه دَ څوک په طلب گرځے خدائے دِ هیر دے
فقیران دا هسے چرے وی فقیره
دغه غم دِ خدائے بدل کړه په بنادیه
زهیر مه شے په اشنا پسے زهیره
که هر څو بناښته ډیر دی په جهان کښے
و هر چا ته خپل اشنا دے بے نظیره
هر سرے دَ هغه مخ په زړا گرځی
چه ئے خونه دَ خاطر وی پر منیره
تمام عمر ئے په اور او په اوبه وی
عاشقان دَ لعلو لبو له تاثیره
که په مرگ که په ژوندون وی خدائے دِ نه کا
دَ رحمان خلاصے دَ زلفو له زنځیره
زه رحمان دَ ازادی په تالاش گرځم
بارے نه دَ تورو زلفو له زنځیره



۸ ۲۱/۱۷۷ ۲۰۹۰

خو به وران شے دَ دنیا بازاره تاړه
هر نفس دَ بیلتانه په تاخت تاړه
لا غنچے په باغ کښے سترگے سپړے نه وے
چه خزان ئے دَ زړه خونه کړه ویجاړه
هسے باد پر دَ فنا له لوریه والوت
دَ لاله قوله ئے پرے یسته له ناړه
بوه هسے بے سوزی ے شوه په بخره
چه سردی ئے لا پشره ده ترساړه
څه بزرگی به ئے دَ باز دَ همائے نه شی
سر زباتی ذکر که سل رنگ کاخراړه
که زر سل کاله ئے تیر شی په اوبو کښے
په نرمی به سرمه نه شی وچه تاړه
تر دا هسے عمره نه عمر بهتر دے
هرچه حال دَ ځنکدن وی عمر واړه
تر خلاصی څخے بندی بنه ئے رحمانه
که دَ یار دَ زلفو څیل دِ شی په غاړه

۱۱ ۲۲/۱۷۸ ۲۱۰۱

کیږه وتره په پری سره کلکه
دَ روتیه طمع مه کړه له فلکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرسائل چه سوال د نان کا له اسمانه
گویا غواړي په کچکول کښې اوړمکه
له اسمانه چه څوک طمع د وفا کا
دغه طمع یې طاعون ګڼه بې شکه
له بارانه سره هسې پڼلی ووري
چه هر زخم یې بتر وي تر ټوپکه
که په چا یې شفقت مرحمت وشي
ظلم جور یې بتر وي تر اوزبکه
موړ به نه شي هیځ سړی بې قناعته
که یې خونه وي په سیم وپه زر ډکه
بیا به نه مومي کمال بې کمینیه
که خیمه لې وي د عرش د پاسه لکه
که جهان په نورعالم باندې فراخ دې
په تنګ چشم باندې تنګ شه تر ځپکه
د دې دهر په یارانو کښې اب نشته
که یې غواړې تر سما و تر سمکه
تر ښه اوښې د عاشق اب ونمک دی
خدائې دې نه کا څوک بې اب بې نمکه
دا درازې اندېښنې مه کړه رحمانه
د دنیا چارې په تله دی تر دمکه



۲۱۰۹ ۲۳/۱۷۹ ۸

چه یې خونه د سیلاب په مخ شوه لکه
د حباب تماشه ګوره تر دمکه
هیڅ پکار نه ده ویسا د پاڼ په سیوري
که تر لاندې وي د اوسپنو کوډیکه
دا د لاندې به هم واړه چیت پیت شي
مګر سر وي چا وکښلې تر فلکه
چه په اصل خدائې نسکوردې پیدا کړې
څوک به څه خوري د سپهر له بڼانکه
چه دښمن یې دوست نمائې وي اړولې
د هغو احتیاط بویه له کومکه
راشه واچوه د نفس وخولې ته خاورې
څو یې نه ده خوله د ګور په خاورو ډکه
هرچه ډکه یې د ګور په خاورو خوله شي
په هغو باندې حرام ده نوره څکه
که نورڅوک ومبارکی کا وبله نورې
و رحمان ته د خپل یار وی ومبارکه

۲۱۲۴ ۲۴/۱۸۰ ۱۵

ته ناحق په ما کینه کړې کینه ناکه
په کینه به ائینه نه کړې څپیاکه



څوک بې وجې چاته تورې توبرې اخلي
خپل عمل دې چه دنیا یې کړه هلاکه
چه خندا یې د بلبل په اوسرد کړه
خدائې د ګل ګریوان پارې کړسینه چاکه
ځکه سینې شوې اول دحباب سترګې
چه له بغضه په دریاب چوی تپاکه
که تن زمکه کړې زړه تخم باران اوښې
لکه نخل سر به وکاږې له خاکه
بالادست به شې هاله په نورو ونو
که تعلیم د زیردستی واخلې له تاکه
بیا به نه مومې د ترکو واک او حکم
څو ونه ووځې د جهان له جنجاله واکه
د هغه جهان ژوندون به هغه مومي
چه لاس وکاږي د دې جهان له ژواکه
ته چه ژغورې سر ومال په عاشقی کښې
عاشقي دا هسې چرې ده کاواکه
چه دا هسې بزرګ میلمه و کورته بیا یې
اول غولې پاکیزه کړه له خاشاکه
په دوی کښې به ورنه شې تر توحید
څو ضمیر دې خالي نه شي له اشراکه
دا همه واړه حجاب دې چه لیده شي
نور د حسن بالاتردې له افلاکه



په ظاهرلباس غلط د دنیامه شه د
میان یې ګوره چه چغزی ده که میاکه
اولیاء په جهان څکه څرګند نه دي
چه پاک ژوي خپسرنغاړي له ناپاکه
هیڅ وفا یې له هیچا سره ونه کړه
ترو رحمان به څه مانه کالہ افلاکه

۲۱۳۶ ۲۵/۱۸۱ ۳

که په هجر کښې څوک ما پښتی له حاله
حال څو دا دې چه ناتوان یم بې مجاله
زه چه نه شوم تیرېدې له دیوځسه
مینې تیر کړم هم تر سره هم تر ماله
د حجت لرم نه عذر بې چاره یم
چه یې زړه هغه راکاندي نونهاله
چه مې لاس د مهرویانو پیچاوی کړه
لاس مې ووانه له آله له عیاله
زه د یار په دیدن څکه شتاق کړم
چه د عمر بقا نه وینم تر کاله
چه ترحسنه ترجماله یې ځارنه شوم
شرمنده یم د خوبانو ترجماله
ته و ما ته نصیحت مه کړه ناصحه
عشق بې نیاز دې له ثوابه له وباله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بے دَ خپل اشنا دَ حسن لہ تعریفہ
هیڅ مے مہ پښتہ لہ نورہ قیل وقالہ
ما دَ عشق پہ درس کښے نورڅہ لوستی نہ دی
بے لہ زلفو بے لہ خطہ بے لہ خالہ
پہ دنیا پہ آخرت مے دِ خدائے نہ کا
بے نصیب دَ مهرویانو لہ وصالہ
زہ رحمان بہ دَ یار وصف تمام نہ کړم
کہ مے هر ویښتہ ژبان شی پہ زرکالہ
کہ یار سر پہ دیدن غواړی مہ جاروزہ
دغہ حکم رحمان کړے دے دلالہ

۲۱۴۴ ۳۶/۱۸۳ ۸

څو ترمیانہ ورانہ نہ کړے دَ تن پولہ
وُبہ نہ رسے ترخدایہ تر رسُولہ
خدائے وتا تہ دین دنیا پہ غوره کښیښوہ
تا دنیا کړه پہ دا دواړو کښے قبولہ
تر حرص پہ هورتہ بلہ بلا نشتہ
دا بلا دَ ستا پہ خونہ شوه نزولہ
یو ساعت دَ خدائے پہ ذکر مشغول نہ شوے
تمام عمر دَ خپل ځان پہ غم مشغولہ
چہ باقی زندګانی پہ فانی پلورے
ځان پہ کوم دانش دانا بولے مجهولہ



لہ خالقہ روګردان شوے و مخلوق تہ
بیا و ځان تہ عاقل وائے نامعقولہ
نصیحت لکہ هلک دربانده ترخہ شہ
دَ دنیا پہ شیرینئ پسے ملولہ
چہ رحمان غوندے خورسند نہ شے پہ نزل کښے
خلاص بہ نہ شے پہ هیڅ رنګ دَ زړه لہ تولہ

۲۱۵۳ ۳۷/۱۸۳ ۹

څو بہ صبر پہ جفا دَ یار کومہ
څو بہ موم دَ نمر و مخ تہ کړخومہ
عاشقی او صبوری سره دروغ دی
زه بہ دا لاف پہ دروغ څرنګ وهمہ
تہ وما تہ نصیحت مہ کړه ناصحہ
زه دا خپل تخم نخپل ځان لره کرمہ
ما خو ژده چہ مینہ اوږده خدائے مین کړم
دا ښتہ خپر و اور تہ اچومہ
سر رشتہ مے خدائے هم دَ یار پہ لاس کړه
پہ هر لورے چہ را کاږی پسے ځمہ
دَ اشنا دَ مینے لاس زما ګریوان دے
زه پہ دا معاملہ کښے عذر نہ لرمہ
عاشقانو باندے حق دَ معشوقو دے
حق بہ ولے پہ باطلو بدلومہ



ما چہ مینہ دَ یار فرضہ پہ خپل ځان کړه
ترو لہ فرضو غاړه څرنګہ غړومہ
دا هم ژوند دے چہ یار نہ وینم پہ سترګو
زه رحمان پہ جهان سترګے غړومہ

۲۱۶۱ ۳۸/۱۸۴ ۸

خبر نہ یم چہ ئے راواستوم لہ کومہ
بیا ئے کومہ خوا تہ استوی چہ درومہ
لکہ ړوند چہ لاس دَ بل پہ اوږه کیږدی
هیڅ ژوره لوړه نہ وی ورمعلومہ
خدائے را پیښہ نری لار کړه نالیدلے
لکہ ورانہ ماشوړه هسے سرګومہ
خراب زړه مے تورو زلفو تہ هوس کړ
ولے کښیوت دَ مرغہ پہ ځیر پہ لومہ
هسے کوږ دے عاشقی را باندے وکړے
چہ سنګین خاطرے نرم شہ ترمومہ
چہ ئے هیڅ لہ خدایہ ترس و ویره نشی
الغیاث دے دَ دلبرو تر رسومہ
کلہ راکاندی شراب دَ لعلو لبو
کلہ جام دَ زهرو راکاندی چہ شومہ
تہ چہ ځان طالب شمیرے دَ مطلوبانو
اے رحمانہ تروکہ سیال ئے بیائے مومہ



۲۱۶۹ ۳۹/۱۸۵ ۸

کہ ستاخپلہ سیاه روئی نہ وی دښمنہ
آئینہ زما دَ زړه نہ ده نخچنہ
تہ چہ ماتہ پہ نظر دَ عیب کورے
دغہ واړه عیب ستا دے عیب ژنہ
خپل صورت پہ آئینہ کښے هرڅوک وینی
کہ څهره دَ چا صفا وی کہ رښمنہ
چوڅاړے دَ حلال خور پہ نامړولی
لہ ښوخلقو بدګوئی نہ ده ممکنہ
تہ چہ بد لہ بلہ وائے زه وئیریږم
چرے خپلہ بدی نہ کړے معینہ
تر هغہ بہ ورو مے عیب ستا څرګند شی
وهرچا وتہ چہ کړے دَ چاغندنہ
هر رنګ تخم چہ کړے هغہ بہ اخلے
خپلہ خپلہ میوه نسی هره ونہ
کہ لہ خپلہ عیبہ ځان ژغورے رحمانہ
دَ هیچا لہ عیبہ مہ کوه پښتنہ

۲۱۸۰ ۳۰/۱۸۶ ۱۱

ډیر عمر مے تیر کړ بیهوده پہ زمانہ
نور دِ زما سر وی او دَ ترکو استانہ

هیڅ مې حاصل نه شو په شیخۍ او په تقوي کښې
پس له دې مې وار دې هر چه شي په میخانه
شیخ او شیخي ورد و وظیفه او ذکر فکر
زه او ساقي جام و باده چنګ و ترانه
زه و زاهدانو ته حیران یم دوي و ما ته
دیوانه په دوی میخندد دوی په دیوانه
ګنج د دُرو خبر شه د عاشق تر خاطرګي اوښکو
نه خروار د عقل نه د عشق یوه دانه
تیغ د یار له لاسه په مرین د عاشقانو
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
خدائے لره به ورشم په سودا د یاره محمد
بل مقصد مې نشته په کعبه په بت خانه
زه له ډیرې مینې په تش بوی د یار شیدا شوم
تل د لوندو ختو لره اوبه وي بهانه
زهد کا زاهد که د یوه جنت د پاره
سر بښندلے نه شي په اور بل د جانانه
ګوره د منصور هسې په دار نه شي رحمانه
مه کړه دا د عشق خبرې ډیرې مستانه
بلد نښانه د عاشق نشته رحمانه
بې نام و نښان شه که دې غواړې نښانه



۸ ۳۱/۱۸۷ ۲۱۸۸

ي

شمع د دلبر سترګې عاشق پر پروانه
ځان پر ځپل جلیا کا شي ئې خونه ویرانه
مطر پد معنئ کښې د دلبر د مینې بحر
شه صدف د سترګو وارو پُر په دردانه
غم مې د زړه وینې تر چشمانو ابیرون کړې
اوښې نه وي وینې ولې شوې دا بانه
زړه په دې له سترګو سپند د اوښیو بهوي
وي ممې د وصل موج و هي په اب خانه
شو چشمه د سترګو ستا د غم په وینو صاف
ځکه مې هیش اوښې بهیږي روانه
خیر د دیدن و خوار عاشق ته ارزاني کړه
ته دلبر غني یې د ځپل مخ په خزانه
اوښیو د فراق درباندې زور وکړ رحمانه
هیڅ پروا دې نشي بې پروا هستانه
عقل د رحمان ئې په جفا سره مسلوب کړ
مه کړه مه کړه مه کړه هسې بدې یارانه

۸ ۳۲/۱۸۸ ۲۱۹۶

دریغه ولید دې یو ځل هغه محبوبه
چه دراز لري مژګان دراز قد ونه



دراز قد دراز مژګان درازې زلفې
وړې شونډې وړه خوله واړه غاښونه
د اسمان شمس و قمر به تر قربان کړم
هم د ځمکې په سر واړه ستوره ګلونه
چه ئې ووینم په مخ مې او ښې دروي
د پسرلي له مخه وورې باراتونه
که یو ځله ئې مخ ووینم په سترګو
ما به زړه کښې قبول کړي دي نذرونه
د هجران په شپه سور کټ راته سور اورشي
یو زمان مې باندې نه لګي ارخونه
تورې زلفې دې په سپینو ننګو خالګې
ښاماران دي د چندن یو په ښاخونه
که خدائے غم د جدائۍ پراسان کړ
و رحمان وته اسان دي نور غمونه

۷ ۳۳/۱۸۹ ۲۲۰۸

که له مخه یوه ځوا کا حجابونه
خدائے به ورکا و خوبانو ثوابونه
کله وي چه یو په رنګ د مخ یار شي
که هزار شي په اسمان کښې افتابونه
په ګرداب د زنخدان ئې هسې غرق یم
هیڅوک مه شه غرق په هسې ګردابونه



لکه زه چه ئې له غمه په عذاب یم
خدائے د نه بردي په چاهسې عذابونه
ګفتګوئے مې هیڅ اثر ورباندې نه کا
که له غمه ئې تصنیف کړم کتابونه
په یوه ځواب مې رد کا هزار سوالله
هسې کاندي د سوالونو ځوابونه
هیڅ پایاب د فن فریب ئې موندلے نه شي
ځوک به ځه غواړي د بحر پایابونه
که لږ سترګې و بله کېږدم راته وائي
په یادي کښې عالم نه کاندي خوبونه
مال و ملک ئې همه واړه اوبه یو سي
له هغو سترګو چه دروي سیلابونه
د ابروګو و محراب ته ئې حیران یم
څه نسبت لري بتان او محرابونه
ما هاله له پارسائیه وو لاس ولي
چه په لاس کړه مطربانو ربابونه
ارغواني جامې ئې واغوستې رحمانه
بیا ئې جوړ کړه ستا د قتل اسبابونه

۸ ۳۴/۱۹۰ ۲۲۱۶

ژوندي کاندي د دنیا کارو بارونه
په مړو پریوځي ته د خاورو انبارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک سر تور پښې پېله خاورو لړه دروي
چا کابره دي په سر پټې دستارونه
بښه توبښه د سګ وروړو سره نه شي
بلکه يو ځبله اخلي ازار وته
د يوے دانے له ښاخه پيدا کېږي
په چمن کښے هم ګلونه هم خارونه
هومره خلق هره ورځ له دنيا دروي
چه ئے نه په چا حساب شي نه شمارونه
يو يو وارد ےپه هر چا باندے تېرشوے
هميشه په هيچا نه وي دا وارونه
ډېر تودوکي بازارګي ے ترسر تېر دي
څوک د نه کا په ما قېنځ و بازارونه
جدائي د اشنايانو هر دم کاندي
په رحمان باندے د تورو ګوزارونه

۲۲۴۳ ۳۵/۱۹۱ ۷

راکوي د بے درد په پيغورونه
بلوي مے په تندي باندے اورونه
نور څه نشته واړه خوښے دي د زړونو
چه ورڅلے شي د ترکو په قورونه
هرګاه ئے په وکښه د زړونو شيردے
هميشه را باندے ازمائي زورونه



خدائے د تور د تورو سترګو چاته نه کا
عالمونه ئے وركېږي په تورونه
يو د حسن اور ئے بل کړ په جهان کښے
په دا اور باندے ئے وسوه ډېر کورونه
زه د يار په مينه غل کړم رقيبانو
ګنه نور ئے کوم راپورے وو پورونه
د رحمان د عاشقيه هسے غږ شئه
چه برپائے شو په هر ښهر کښے شورونه

۲۲۳۱ ۳۶/۹۲ ۸

په خاطر ے غلبه شوه ستا غمونه
لږ د خدائے دپاره کېږده قدمونه
څه خو قياس زما د ډېرو اوښيو وکړه
چه مے چړے وو په تن کښے دا زيمونه
هرچه ستا په دم ژوندي دي نه رخېږي
که بے تا په ځان يوکي هزار دمونه
که هزار هزار دمونه په ځان يو کا
نور به نه کا په دمونو قلمونه
له قسمته خلاصيده د هيچا نشته
که داخل شي د مکے په حرمونه
سرے کله په کوشش ترځايه رسي
څو د خدائے له لاسته نه وي کرمونه



چه توانګر د قناعت په خزانه شي
نور به څه کاندي دينار او درمونه
قسم وخوري له خوبانو بيا ئے مات کا
څه باور دے د رحمان په قسمونه

۲۲۴۲ ۳۷/۱۹۳ ۱۱

زه به نوره نه کړم په بتانو باندے مينه
کشکے څوک مے کښلي توري وران کا له جبينه
زه به نوره نه کړم په خوبانو باندے مينه
مينه د خوبانو وچوي د صورت وينه
خدائے زما په برخه عاشقي کړه له ازله
خوښ يم په دا بخره که ترخه ده که شيرينه
زهر دي که قند دي هم څښه خوله څرګند دي
نه موي څوک خوند د بل دخوے له انګبينه
راشه نجومي زما دپاره فال وکوره
تلے يار به کله له سفره راشينه
بښه توبښه مے نه شي په تش داو د کور او کلي
مرد بويه چه واخلي د غم پېټے له غمګينه
زمک هغه سوزي هرچه اور ورباندے بل وي
روغه خلقه شوه د رنځورو تماش بينه
نور عالم به څه کړم زه مرين د هغه کس يم
هرچه وما را کا يو پيغام له نازنينه



څو به څوک په سترګو غروم له هسے غږ
څو مے به تل وينځه د زړه خاتمي له اسنينه
سر د رحمان دروهي د هجران په تېرا توره
ته ئے نګهبان شے يا الله العلمينه
اور د جدائيه په رحمان دے لګيدلے
وقت دے که مدد کړے يا ميران محي الدينه

۲۲۵۲ ۳۸/۱۹۴ ۱۰

يادوے په خوله مکه او مدينه
نسکور پروت يے د عورتے په سينه
زوړند سر لکه غنچه مراقبه کړے
پټ د نقش د زړه رخت دے رنګينه
د اطلسو قبا غوارے نه ئے موے
له ناکامه د خرقه کړه پشمينه
عبادت د څو تيرے تر معصيت کړ
څه خو وښه وځان ته اښينه
کينه يده ده بے شک جنګ حرام دے
نه له نفس او له شيطان سره کينه
د مردانو کار له نفسه سره جنګ دے
نه زنان غونډے له نقش و نګينه
تر ناپاکو نارينه و ده بهتره
پاک دامنه پرهيزګاره ارتينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذ دیندارے ارتینے تر یوے کوښے
صدقه شه سل بې دینه ناریښه
نیکوکار سړے بهتر وی که خوردسال وی
تر سپین بدیریه بدکرداره دیریښه
بدکردار که صدساله وی و رحمان ته
څرګندیږی لکه طفل شبینه

۲۳۵۹ ۳۹/۱۹۵ ۷

ق

اے ذ نوس او ذ حرص په هوالیوه
په ظاهر صورت فرښته په معنی دیوه
شدادی خصلت دِ ونیوه ذ ظلم
خبر نه شوے ذ مسکین ذ زړه له غریوه
تا چه ځان ذ مرغونے په دود تریخ کړ
په دے خوی به برابر نه شے له سیوه
فر وجود به دِ په څه رنګه حصلیږی
چه دِ لیک ذ یار له دره دوه ودرے وه
په ظاهر صورت تندرست په روح رنځوره
دریغه وسوے تر روغ پوست لاندے مځ نیوه
ذ نیستی له مکافاته هسے خلاص شه
چه هستی ئے ذ فنا په مځ ایرے وه
نیمه شپه ووده ئے پاڅوه له خوبه
و رحمان وته ښخپله په نارے وه



۲۲۶۷ ۴۰/۱۹۶ ۸

چه په نور څه پورے زړه تړے بے خدایه
څه وزده چه دا په ځانے کړے که بے ځایه
دا خو نشته چه به تل ترتله پاتے
که بیا پاتے خو ترسلو کالو پایه
که دِ سل کاله شی عمر خو به تیرشی
دغه پسه به بیا څه کړے راته وایه
سم ذ لاسه چارے نه شی مردهغه دے
چه بیدار وی وغلیم وته له ورایه
ته په اصل کښے سړے ئے څاروے نه ئے
ذ چارپایو چارے مه کوه دوپایه
مرتبه به دِ ذ څچ او ذ میږی شی
زړه په غوښو په غوړ مه تړه همایه
موړ به نه شے په حرص بے قناعته
اے په تخت ذ اورنګ زیب ناسته ګدایه
وراندے سرائے لره توښه تړه رحمانه
خو سفر دِ کړے نه دے له دے سرایه

۲۲۷۷ ۴۱/۱۹۷ ۱۰

که ذ عقل څه اثر لرے و سرته
لاس په سرمه شه ذ هرګیدی ودرته



په نظر ذ هغو خاورے سره زرکیږی
هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
بے منته جام ذ زهر وڅښلے ښه دے
نه هغه چه منت بار وی وکوثرته
ذ یوسف له حاله زده کړه دغه پسه
وایه حال ذ زمانے و برادر ته
دے فلک وچاته هیځ بخښلی نه دی
چه ئے نه دی راپرودلی ځنے بیرته
ذ خروار دعوی ئے وکړه ممکنه
که ئے پور وی ذیوے جودانے درته
که له خدایه د وخلقو وته مځ شی
له فردوسه به دِ مځ شی و سقرته
همیشه به درپه در ګورځے رټلے
ذ استوګے ځائے به نه مومے هیڅرته
اے رحمانه کړونے وګوره چه څوک دے
له درګاهه ئے سرمه اخله بل درته
ذ دے سست بدن منت به رحمان باندے
چه له خپله دره تلے نه شی بل درته

۲۲۸۵ ۴۲/۱۹۸ ۸

چه نظر کړم ذ خوبانو و رخسارته
حق حیران ذ خدائے په کړه شم و دے کارته



له دهشته ئے ربیار وړه دوے نه شم
خدائے زده څه به ئے وئیلی وی ربیارته
خلوتیان لکه پرده پکښے څرګیږی
غوږ ئے نه خیژی ذ حسن و بازار ته
ته چه ما پښتے ذ یار له حقیقته
څوک ذ یار خبرے کاندی و اغیارته
درد و غم ذ عاشقی څه هومره نه دے
چه ئے عقل ذ چا رسی و مقدارته
زه او یار چه سره ځیل غونه شمار کړه
یار و ما ته حیرانیږی زه و یار ته
ذ دنیا چارے همه واړه په وار شی
ما ذ یار غمونه نه پریږدی و وارته
رحمان هسے وزګار چرے دے له عشقه
چه غوږ ونسی ناصح غوندے وزګارته

۲۲۹۲ ۴۳/۱۹۹ ۷

مځ ته دِ که نمر وایم ذ نمر زلفے تار تار نشته
قد دِ که په سرو یولم ذ سرو بیوں رفتار نشته
هر څوک چه دِ ګل ذ اتشین رخسار ته وائی
یوځ وائی ذ اور په مځ کښے وقرذ ګلزار نشته
زلفے دِ ناحقه څوک سنبل بولی دلبره
ولے چه ذ مشکو سره هیڅ ذ ګیاه کار نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماچه غږ په غوږ وستا د سپینو اورید لے دے
هسے رنګ بلبله په چمن کښے خوش ګفتار نشته
ستا دیدن هغه کا چه ئے سر په تنه نه وی
ولے چه د سر د ښښتن هورے وته لار نشته
دا خو خدائے دے چه ئے ستا زنخدان
په ونه د سروے پورے هرګز د میوے بار نشته
یار به د رقیب په لوری خدائے نه کړه رحمانه
ځکه چه د سپیو د ښکو سره روزګار نشته

۲۳۰۳ ۴۴/۲۰۰ ۱۱

ستا په مخ کښے څه حساب د جمال نشته
ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
نه د سر او د مال ویره په ما مه بوده
ویره ما څخه د سر او د مال نشته
زه په دا سبب له ویرے سره ریږدم
چه ستا ویره د ثواب د وبال نشته
که وعده د یوے چارے یو ساعت کړے
د هغې چارے امید مے په کال نشته
محتاج که راته وګورے دلبره
په کاته کښے د ثواب دے وبال نشته
د شهید وحال نه ګوره حال ئے څه دے
بے تا هسے حال زما دے بل حال نشته



روښنائی مے د چشمانو ستا دیدن دے
په دا کور کښے بل چراغ او مشال نشته
په جوشیار زما د سترګو سروه ته ئے
په دا نهر باندے غیر نهال نشته
مخ د بے خطه بے خاله هسے زیب کا
چه ئے هیڅ حاجت په خط او په خال نشته
د افتاب په مخ کښے هره ورځ زوال دے
ستا د حسن په افتاب کښے زوال نشته
ستا په یادو رحمان هسے رنګ مشغول وی
چه په زړه کښے ئے هیڅ غم د وصال نشته

۲۳۰۴ ۴۵/۲۰۱ ۱۱

که څوک لاس له سوده وکاږی زیان نشته
په ملنګ باندے قلنګ او تاوان نشته
د وفا خریدار د بله خوا نه دروځی
دا متاع د زمانے په دوکان نشته
جدائی له اشنائیه پیدا کیږی
نا اشنا لره هیڅ غم د هجران نشته
مکر خان وخدائے ته پاسلی په امان شی
ګنه بله خوا د هیچا امان نشته
هغه یار به زه وکومه خوا ته غواړم
چه ئے هیچرے منزل و مکان نشته



دلبران که هر څو ویر دی په جهان کښے
زما یار غوندے دلبر په جهان نشته
چه هم قد لری هم زلفے هم سرے شونډے
دغه هسے رنګ افتاب په اسمان نشته
عشق عاشق لره یو هسے ګلستان دے
چه د باغ و ته ئے لار د خزان نشته
عاشقان په عشق کښے وارہ سلطانان دی
په دا ښهر کښے نیستګار او ناتوان نشته
که مجنون غوندے په عشق کښے څوک صادق شی
د لیلی په دروازه کښے دربان نشته
دانایان به د رحمان په قال پوهیږی
دلته کار د هیڅ نااهل و نادان نشته

۲۳۲۳ ۴۶/۲۰۲ ۹

ق

په دنیا کښے مخ د یار دے نورڅه نشته
هرچه دے دیدار د یار دے نورڅه نشته
چه وهجر و وصال ته ئے نظر کړم
یو دوزخ دے بل ګلزار دے نورڅه نشته
کارخانه چه د دے دهر لیده کیږی
هګی د عشق سرکار دے نورڅه نشته
هر مژګان ئے په ما هسے چارے کاندی
وایم عین ذوالفقار دے نورڅه نشته



بو یه مرد چه ئے له څخه زلیخے واخلی
دغه ګنج دے دغه مار دے نورڅه نشته
د محسن د محسنات صفت به څو کړم
کوتاه وایم چه بے شمار دے نورڅه نشته
هر طبیب ته چه ځان وښیم دا وائی
چه له عشقه د ازار دے نورڅه نشته
وهر لور ته چه د زړه په غوږ و څیږشم
جوړ د محبت بازار دے نورڅه نشته
خوار رحمان که بے تا مینه په چا وکا
عین د قتل سزاوار دے نورڅه نشته

۲۳۲۴ ۴۷/۲۰۳ ۱۰

ق

زړه مے هسے رنګ بیمار دے ستا له درده
چه د مرګ په انتظار دے ستا له درده
زه یو څه چه لا و خلق وته نظر کړم
همه واړه ګرفتار دے ستا له درده
بلبلانو د ګل حسن بهانه کړه
په چمن کښے ئے چغار دے ستا له درده
دا سرود چه نرم نرم وشیل کاندی
فریادی څنے هر تار دے ستا له درده
دا مجلس چه د سرود په اواز مست شه
اورید لے ئے ګفتار دے ستا له درده

دلبران که هرڅو ویر دي په جهان کښې
زما یار غوندې دلبر په جهان نشته

چې هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې
دغه شان رنګ افتاب په اسمان نشته

عشق عاشق لره یو شان ګلستان دې
چې وَ باغ وته ئې لار دَ خزان نشته

عاشقان په عشق کښې واړه سلطانان دي
په دا ښهر کښې نیستګار او ناتوان نشته

که مجنون غوندې په عشق کښې څوک صادق شي
دَ لیلیٰ په دروازه کښې دربان نشته

دانایان به دَ رحمان په قال پوهیږي
دلته کار دَ هیڅ ناأهل و نادان نشته

۲۳۳۳ ۹ ۳۶/۲۰۲

ق

په دنیا کښې مخ دَ یار دې نورڅه نشته
هرڅه دې دَ یار دیدار دې نورڅه نشته

چې وهجر و وصال ته ئې نظر کړم
یو دوزخ دې بل ګلزار دې نورڅه نشته

کارخانه چې دَ دې دهر لیده کیږي
هګي دَ عشق سرکار دې نورڅه نشته

هر مژګان ئې په ما هسې چارې کاندي
وایم عین ذوالفقار دې نورڅه نشته



بویه مرد چې ئې له مخه زلفې واخلي
دغه ګنج دې دغه مار دې نورڅه نشته

دَ محسن دَ محسنات صفت به څو کړم
کوتاه وایم چې بې شمار دې نورڅه نشته

هر طبیب ته چې ځان وښیم دا وائي
چې له عشقه دِ آزار دې نورڅه نشته

وهر لور ته چې دَ زړه په غور وځیر شم
جوړ دَ محبت بازار دې نورڅه نشته

خوار رحمان که بې تامینه په چا وکا
عین دَ قتل سزاوار دې نورڅه نشته

۲۳۳۴ ۱۰ ۳۷/۲۰۳

ی

زړه مې هسې رنګ بیمار دې ستاله درده
چې دَ مرګ په انتظار دې ستاله درده

زه یو څه چې لا و خلق وته نظر کړم
هم واړه ګرفتار دې ستاله درده

بلبلانو دَ ګل حسن بهانه کړ
په چمن کښې ئې چغار دې ستاله درده

دا سرود چې نرم نرم وئیل کاندي
فریادي څنګ هر تار دې ستاله درده

دا مجلس چې دَ سرود په آواز مست شه
اورید لې ئې ګفتار دې ستاله درده



و هر لور ته چې دَ زړه په غور وځیر شم
دَ وینځلیو انګهار دې ستاله درده

نه چې زه کړم شین نوکې هم له خونه خوږیږي
په کوکې کښې ئې انګار دې ستاله درده

نشت څوک چې دَ زړه حال ورته بیکاره کړم
هر یو یار له ما ویزار دې ستاله درده

چې هیڅ حال ئې دګښې ون نه معلومیږي
زړه مې هسې رنګ انګار دې ستاله درده

دَ رحمان نارې په څوک اروي دلبره
هغه څوک دې چې ورکار دې ستاله درده

۲۳۴۰ ۷ ۳۸/۲۰۴

که زما مینه په تا دو خطا نه دو
که په تا دو نا روا دو روا نه دو

څوک چې بې د ستا له مخه بل مخ ګوري
آئینه ئې ناصفا دو صفا نه وو

هر عاشق چې په خپل یار پسې ژړا کا
دا ژړا واړه خندا دو ژړا نه دو

د دنیا په تماشا چې څوک نازیږي
خو هم ئې ئې تماشا ده سبا نه دو

که ته سل ځله له ما سره جفا کړې
ستا جفا واړه وفا ده جفا نه دو



هغه تیر شو چې مې مینه په غلا غلا کړه
اوس په درست جهان رسوا دو په غلا نه دو

معشوقه که دخپل سر په بها موني
و رحمان وته ویریا دو بها نه دو

۲۳۵۱ ۸ ۳۹/۲۰۵

له اغیار سره خندا څه په کار نه دو
له اغیار سره سودا څه په کار نه دو

سل یاري دَ یوه یار دَ پاره کیږي
اشنائي دَ هر اشنا څه په کار نه دو

بد له بد و سره بویه نیک له نیکو
د جفا په ځائې وفا څه په کار نه دو

هر بلبل به دِ ثنا کا که ته ګل شې
په خپل ځان خپله ثنا څه په کار نه دو

عشق دَ بوئي په څیر په پټه خود ځرګند شي
په دا چاړو کښې غوغا څه په کار نه دو

دعشق درد واړه عاشق لره راحت دې
د دې هسې درد دوا څه په کار نه دو

عاشقي حرص و هوا دي سره لرې
د بیمار په ځان هوا څه په کار نه دو

عاشقي نادره چار دو په جهان کښې
ولې بې خدایه سودا څه په کار نه دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه کرم هم څه ئے نه کړم سوګند دے
وابستګي د دے دنیا څه په کار نه ده
د دنیا مینه بے کاره اورین د شوه
چه مے ولیده ریښتیا څه په کار نه ده
که رحمان په جهان ویر پائیم دلبره
زندګي زما بے تا څه په کار نه ده

۲۳۶۲ ۶ ۵۰/۲۰۶

چه مے مینه خدائے په تا باندے پیدا کړه
ترکه ما په هغه ورځ خپله رضا کړه
اوس د ستا رضا جفا کړے که وفا کړے
ما د ستا جفا قبوله په وفا کړه
ګل په لعل و په ګوهر که څوک پیري
بے له ما چه تا خندا کړه ما ژړا کړه
بے له ما چه د ستا غم په هوس پیرم
کوم وګړے په هوس د غم سودا کړه
دوه یاران په دا رنګ نه وي چا لیدلي
چه یوه ورته بنګنځل کړه بل دعا کړه
ما و درست جهان ته شا وتا ته مخ کړ
تا و درست جهان ته مخ وما ته شا کړه
ناآشنا د بیلتانه له غمه څه زده
خدائے دغه خواري په برخه د آشنا کړه



عاشقان د یار تر سپیو هم خاریږي
کنه ما د رقیبانو څه پروا کړه
هم په دائے ترهمایه نام بلند شه
چه قبوله عندلیب د ګل جفا کړه
ډیر هندکي په جهان ګرځي دچا یاد دي
عشق عالي پایه د هیر او د رانجها کړه
زه رحمان چه د ستا د حسن ثناخوان شوم
ستا له رویه درست جهان زما ثنا کړه

۱۵ ۵۱/۲۰۷ ۲۳۷۷

پاړ تر وجار باسه هاله زراعت کړه
تقوي دار شه هله طمع د جنت کړه
عاقلان په وراندے ځي په وروستو ګوري
په دنیا کښے سرانجام د آخرت کړه
مم له لاسه کار هر ګوره ویر مشکل دے
څو لا نه ئے غریب زیرمه د غربت کړه
چه نور خلق ملامت د وباندے واي
لا پخوا تر خلقو خپسر ملامت کړه
چه عقبیٰ د دے دنیا په اجر موے
څو هم دا عمارت هلته عمارت کړه
څه به ګورے د قیامت و ورځو شپو ته
څو هم دا جهان په ځان باندے قیامت کړه



چه د نیک و بد په تله کښے تلل شي
خود پخپله تله واخله عدالت کړه
که لښکرے د حرص وربانداے زور شي
سر دننه په قلعه د قناعت کړه
دا به نه شي چه ستا څپ وي د حق مخ وي
که حق غواړے نه هم مخ په حقیقت کړه
هغه زړه چه عرش الله دے ګوره کوم دے
څو د توان شي د جمله زړونو خدمت کړه
وراندني هم واړه ستا په خیر سري وو
ته هم پاڅه د عقو په خیر همت کړه
د دنیا چارے څو کل واړه فاني دي
باړے پورته شه یو بل رنګ حکمت کړه
په طبیب د عاشقانو دارو نه شي
درومه بله څوا دارو د خپل زحمت کړه
څو د حق موندلے نه دے بے غم مه شه
په دا هرسته جهان واړه لت په لت کړه
اے رحمانه اول ته نصیحت واخله
دغه پسه بیا و بل ته نصیحت کړه

۱۰ ۵۲/۲۰۸ ۲۳۸۷

ساقي پورته شه د میو جام تیار کړه
عمر هیڅ ماتلي نه لري تلوار کړه



زما ستا په ځلو ګرځي هر دم تیغ دے
هر نفس د خپل نفس له تیغه وار کړه
ترخودي په صورته بله بلا نشته
خادمي د بے خودانو په دربار کړه
دا پیڅه ورځے ژوندون چه غنیمت دے
شکرانه په دا نعمت د کردګار کړه
که غم خوار غواړے په غم او په اندوه کښے
شیبنه د که د شرابو اختیار کړه
څو د دوه سترګے غریبي په جهان کښے
تنداره په هر ساعت د خپل نګار کړه
هغه څوک دے چه تهمت پر ولیه نه شي
غوږ په هیڅ باندے مه باسه خپل کار کړه
مدعي چه په زړه ورشي هغه واني
ګوش و هوش د مخبانو په ګفتار کړه
بے وفا دي د دے دهر یاران واړه
چه د پس له مرګه یار شي هغه یار کړه
رحمان واني د دنیا چارے فاني دي
البته په دا خبره اعتبار کړه

۶ ۵۳/۲۰۹ ۲۳۹۲

هسے یمه یاره ستا په غم تازه
لکه وي هره ګیاه په نم تازه

ستر کے وخورم کہ ئے کرم لہ غمہ وچے
کہ ئے کیږی پہ ژړا صنم تازہ
زہ بہ څہ کرم دچا چارے بہ لہ یارہ
هرسپے پہ خپلہ سا پہ دم تازہ
راستوی یو نوے غم زیرے د وصل
رغوی د زړہ پرهر مرهم تازہ
کہ و زړہ لہ غمہ چوی دلگیرمہ شہ
کاتبان کا پہ چول قلم تازہ
بنائستہ یاران کلونہ وی رحمانہ
بیلتانہ کړہ کنتر مراوی کم تازہ

۲۴۱ ۸ ۵۴/۲۱۰

اے زما د زړہ آرامہ راشہ راشہ
سرو قدہ گل اندامہ راشہ راشہ
چہ دا نورخوبان د وارہ مقتدیان دی
د همہ وارو امامہ راشہ راشہ
بہ تا نشتہ هیچ حرمت دعاشقانو
د مشتاقو احترامہ راشہ راشہ
خدائے زدہ بیا بہ هسے وقت وی کہ بہ نہ وی
زہ ویریږم لہ ایامہ راشہ راشہ
نن هنگام دے کہ وفا کړے کہ جفا کړے
چارے نہ شی بے هنگامہ راشہ راشہ



دا جهان د مسافرو یو رباط دے
تلہ دی تلہ دی لہ دے کرامہ راشہ راشہ
پری رویہ فرښتہ خویہ عنبر بویہ
سنبل مویہ لالہ فامہ راشہ راشہ
شپہ لا پریږدہ بہ تاورځ راباندے شپہ شوہ
د رحمان ماہ تمامہ راشہ راشہ

۲۴۲ ۸ ۵۵/۲۱۱

پہ دنیا کښے لہ دنیا گوشہ کنار شہ
مسند د رغوند ے پہ اور کښے گل عذار شہ
پس لہ مرگہ کہ ژوندخوارے سرکیږہ کړہ
پہ پریکړی سر بیا نوے مرغزار شہ
دا ترنج لویہ بہ څہ کوے د بحر
خود پہ خپلہ د گوهر پہ څیر ابدار شہ
بے لہ خدایہ نور د هیچا منت مہ کړہ
پہ ووچ کانی باندے ونہ د کوهسار شہ
کہ د ونے پہ څیر گل و میوہ غواړے
خان پہ نمر کړہ سائبان د هرخاکسار شہ
دست پہ دست کہ د خپل کار پہ درستول ئے
لا ترخان ورو هسے ولاړ د بل پہ کار شہ
کہ د ویرہ شی لہ خپلے درماندگیہ
د درماندو دستگیری کړہ خبردار شہ



کہ هوا د جنت پہ خاطر گرځی
خاک نشین پہ استانہ د خپل یار شہ
کہ پہ تورہ تاریکی کښے رڼا غواړے
شدارچی د یار زلفو و رخسار شہ
کہ پہ کار د د سرو شونډو شیرینی دہ
د خپل خان پہ وینو سور لکہ انار شہ
کہ راضی ئے چہ د باغ شی د زړہ سبز
پہ ژړا لکہ باران د نوبهار شہ
د رحمان پہ عاشقی کښے ستر کے وشوے
چہ څوک وائی عاشق پوند دے هغہ خوار شہ

۲۴۳ ۹ ۵۶/۲۱۲

پاڅہ یو ځلہ سیراب د عشق پہ جام شہ
پہ ساغر د ماہ و مهر ے اشام شہ
لہ اولہ بندگی بیا ازادی دہ
کہ مقصود د ازادی لرے غلام شہ
د صیاد لہ وحشتو نو خپسر خلاص کړہ
لکہ مرغ خانگی پہ خپلہ رام شہ
ژوندے خان پہ زمکہ ښخ کړہ لکہ تخم
کہ لوئی غواړے د خاورو پہ مقام شہ
درست جهان د کمیلیہ پہ خوی وخورہ
لکہ زمکہ هسے لاندے تر اقدام شہ



پہ نیستی کښے د هستی مرتبہ گورہ
شدارچی پہ ویرانہ کښے د خپل بام شہ
و دښمن تہ عیب خپل پہ خپلہ وائے
خان پخوا ترمرگہ و وژنہ مدام شہ
پہ مستانو کښے د عقل ښتن غل دے
کہ پہ نورو خلقو خاص ئے ولہ عام شہ
اے رحمانہ د بلبلو لفظ زدہ کړہ
د غہ پسہ پہ صفت د گل اندام شہ

۲۴۴ ۱۰ ۵۷/۲۱۳

پہ امید د ملندہ وے زړہ ورمہ شہ
نقد نسیا خپلہ بیل کړہ او ترمہ شہ
پہ امید امید ئے خلق نا امید کړہ
د فلک لہ رهزنی بے خبرمہ شہ
د دنیا بادشاهان خواست کا لہ فقراوہ
تہ بادشاہ د هسے ملک ئے خواستگرمہ شہ
د هماۓ پہ څیر طعمہ کړہ وچ هډوکی
لکہ مچ طالب د شهد و شکرمہ شہ
خان صدف غوندے وخاورو تہ کړہ څیرمہ
لکہ څک هسے د بحر پہ سرمہ شہ
دیر عزیز دی موم د لاس تر سنگہ لانو
یو څڅوبکے شہ د اوښیو گوهرمہ شہ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیوانات هم په تسبیح دخدائے مشغول دی
ته انسان ئے ترحیوانه بترمه شه
نفس شیطان سرے وکفرته وباسي
رحم فهم په خان وکړه کافرمه شه
تپ پانده دی عاشقان د یار له عیبه
ته تپ روند دهغه یار په هنرمه شه
دغه خائے د بیدلانو دے رحمانه
د دلبرو په کوڅه دلاور مه شه

۲۴۴۲ ۵۱/۲۱۳ ۱۱

د دنیا د سود دپاره غمګین مه شه
غم د دین او د ایمان کړه بے دین مه شه
هرګره ګره کشائے لری کم بخته
نا امید له خدایه غوټه جبین مه شه
دیرخفت دے دارنده چه دانه چین شي
څو د اب و دانه شته دانه چین مه شه
هر مرغه چه دبل غوښے خوری مردار دے
خان حلال کړه لکه زانه شاهین مه شه
د ذرے په څیر افتاب په طلب خپل کړه
لکه تیره هسے پروت په زمین مه شه
کار په تش لستوني نه کیږي بے لاسه
لاس په بربره کړه بے لاسه استین مه شه



عاشقي او خودبیني دی سره لرے
که مطلب دعاشقي وی خودبین مه شه
په خپل کور کښے دسفردے که پوهیږے
مسافر د هندوستان او د چین مه شه
خپل تابوت دړته ولاړ زین کړے اس دے
ته په زیرمه د بل اس او د زین مه شه
چه تقوی دیانت نه لری رحمانه
د دے هسے هم نشین هم نشین مه شه

۲۴۵۲ ۵۹/۲۱۵ ۱۰

هر ساعت چه مے ګذران وے بے مخلصه
هزار بار ارمان ارمان دے بے مخلصه
که شوک وائي چه له خان شیرین شه نشته
ولے ما ته خان تاوان دے بے مخلصه
لکه شمع په وروځ مرمه د شپے سوزم
تمام عمر مے نقصان دے بے مخلصه
په بلبل کله بهار کله خزان وی
په ما کل سره خزان دے بے مخلصه
که شبنم همیش د نور وا باندے ووری
په ما کاڼے د اسمان دے بے مخلصه
دیرغمونه مے د هجر تورس تیر دی
اوس یو دم راباندے ګران دے بے مخلصه



د اشنا د مینے اور و ماته کل دے
کل د اور په دود سوزان دے بے مخلصه
په وصال کښے مے نه مرګ لیده نه تبه
اوس مے مرګ په هر زمان دے بے مخلصه
زه حیران د هغو خلقو په روز کار یم
چه ژوندون ورته اسان دے بے مخلصه
د رحمان د زړه دمه په هیڅ نه شي
مسافر غوندے حیران دے بے مخلصه

۲۴۶۹ ۶۰/۲۱۹ ۱۷

که یوځل مے هغه جان ولید مے دریغه
سرفراز مے سرګردان ولید مے دریغه
چه د تمام جهان عقل ظلیل کړی
ریز مریز مے ئے پیکان ولید مے دریغه
د وجود ګلزار ئے درست سره اغزی شو
خارستان مے باغستان ولید مے دریغه
روغ صورت لکه بادشاه وصحت تخت دے
ناست په تخت شاجهان ولید مے دریغه
د تن ښهر ئے خرابه خرابی شوه
بیا مے داخراب ودان ولید مے دریغه
لکه زه چه له دے خلقه ګریزان یم
رنځ مے هسے ګریزان ولید مے دریغه



دا سبق راته تعلیم شکستګی کړ
چه روغ کار شکستګان ولید مے دریغه
هغت ساعت زمکه اسمان راته یکسان کړه
فراق زمکے او اسمان ولید مے دریغه
و دے خپلے حیرانی وته حیران یم
چرے څو وے صورت شادان ولید مے دریغه
د قرآن او دحدیث په کتو بنده شوے
بیا په لاس حدیث قران ولید مے دریغه
چه زما رحمت پیغور کښی و ماته
ما هغه دخان په شان ولید مے دریغه
خپل یاران مے له رحمته په ژړا دی
ما دغه یاران خندان ولید مے دریغه
د اشنا زلفے مے ونیوے په لاس کښے
بندی لار دهندوستان ولید مے دریغه
صبح و شام مے ګدائي دیار د در کړے
په دا کار مے خان سهسان ولید مے دریغه
درخانی د ادم خان په ارمان لاړه
لرے ما له زره ارمان ولید مے دریغه
مخامخ مے ګفتګوے له یار سره کړے
ربه ما د دا احسان ولید مے دریغه
چه خطا د واړه عفوه کا رحمانه
یار د هسے مهربان ولید مے دریغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴۷۴ ۹۱/۲۱۷ ۵

اختبار به په دنیا کوے تر کومه
دا رفتار به پس شا کوے تر کومه
څو به پټ له مرګه ګرځے سپینه ږیره
په روښانه ورځ به غلا کوے تر کومه
چه د دهر له یارانو وفا غواړے
صیادي به د عنقا کوے تر کومه
د پیرۍ علاج په ډانګ په لوړ نه شي
دغه کار به په عصا کوے تر کومه
ته چه پند وائے ناصحه و رحمان ته
شکایت به د قضا کوے تر کومه

۲۴۸۴ ۹۲/۲۱۸ ۱۰

ي

هرچه خپے مینے خوار کړ خوار ئے مه ګڼه
عشق د رحمت ابر دے غبار ئے مه ګڼه
کله تور سنبل کله تور مشک کله عنبر شي
زلفے که د مار په څیر دي مار ئے مه ګڼه
یو مخ ئے د سوزه دے بل مخ ئے د ساز دی
عشق په اصل نار دے ولے نار ئے مه ګڼه
بیدار او ویده وي لکه بت په غټو سترګو
بت که درته غټ ګوري بیدار ئے مه ګڼه



مراد خو یو اثر دے د خوبانو له رخساره
هرچه اثر نه لري رخسار ئے مه ګڼه
خار چه په ګل پورے وي د ګلو په حساب دے
څه شو که ئے نوم د خار دے خار ئے مه ګڼه
یوه خلق هغه دي چه اقرار په نا پوهۍ کا
هرچه ځان هوښیار ګڼي هوښیار ئے مه ګڼه
بد خو هم هغه وي چه خپل بد ور څرګند شوي
هرچه ځان بدکار ګڼي بدکار ئے مه ګڼه
هرچا چه اقرار د یار له زلفو سره وکړ
تل به نا قرار وي په قرار ئے مه ګڼه
هرچه کمال خواري کمینې د کا رحمانه
عین دغه چار ده بله چار ئے مه ګڼه

۲۵۰۱ ۹۳/۲۱۹ ۱۷

بیا د مخ دے جارو تلے څه بلا شوه
دا بلا له کومه لوري راپیدا شوه
ورځ چه واوري دغه هسے نه وي څه وي
لکه نن چه د خپل یار وماته شا شوه
دا زما په یار کښے مهر و فا نشته
که دنیا واړه بے مهره بے وفا شوه
چه ئے صبح له خدایه ترس او ویره نه شي
په نصیب مے یوه هسے دلربا شوه



چه د حسن ته ئے ګورم حیرانیږم
راڅرګند یوه هسے تماشا شوه
څه د حد او د حساب خبره نه ده
بے صبري مے تر حساب په هغه خوا شوه
قراري مے په طلب کښے شوه حرامه
بے غمي مے په مذهب کښے ناروا شوه
چه راکښلے مے پر غشے د دعا وو
هغه غښه مے و نه ویشته خطا شوه
لکه پوچ بادام بے مغزه بے حاصله
هسے پوچه بے حاصله مے دعا شوه
عاشقي چه مے له خلقو په غلا غلا کړه
هغه غلا مے په تمام جهان رسوا شوه
څه بهره به له نسیاؤ ماله موم
چه مے نقده په ورغوي کښے نسیا شوه
در د بیرته جارو تو شه راته پورے
په نصیب مے بله نه وه داوه دا شوه
یوه بخره هر سړي له خدائے ورکړه
زما برخه آشنائي د خپل آشنا شوه
د تدبیر په دام به څه شکله کښیوځي
معشوقه چه مے په مثل د عنقا شوه
چه ئے زر کړه زیر رخسار زما د خاورو
عاشقي نه وه په باب زما کیمیا شوه



څه حکمت د یار په مینه کښے خدائے کښیښو
چه عاشق لره هم درد شه هم دوا شوه
دا باران نه دے چه ووري له آسمانه
د مرغانو په رحمان باندے ژړا شوه

۲۵۹ ۹۴/۲۲۰ ۸

په حالت د عاشقانو نظر بویه
په زیارت د شهیدانو ګذر بویه
بے مرشده خبر نشوک د مریډ اخلي
غوځ په غم د فرزندانو پدر بویه
بے رہبره رسیده و یار ته ګران دي
په کوڅه د مهرویانو رهبر بویه
بے هنره چا دولت موندلے نه دے
په خدمت د صاحبانو هنر بویه
ستا له سترګو مے هر ګوره ملازه شي
له دے هسے سیاه دلانو حذر بویه
شه چه سترګے خدائے ملا کړے د ترکو
لږ په زړه د ظالمانو اثر بویه
ستا په داغ به هر یو زړه مشرف نه شي
دغه تاج د بزرګانو په سر بویه
چه خبر د رحمان نه اخلي یار بد کا
باد شاهان له ګدایانو خبر بویه

چه وحُسن ته ئے گورم حیرانیږم
راځرګندہ یوه هسے تماشا شوه
څه دحد او دحساب خبره نه ده
بےصبری ئے ترحساب په هغه خواشوه
قراری ئے په طلب کښے شوه حرامه
بے غمی ئے په مذهب کښے ناروا شوه
چه راکښلے ئے پر غشے د دُعا وو
هغه نخښه ئے و نه ویشته خطا شوه
لکه پوُچ بادام بے مغزه بے حاصله
هسے پوچه بےحاصله ئے دُعا شوه
عاشقی چه ئے له خلقو په غلا غلا کړه
هغه غلا ئے په تمام جهان رسوا شوه
څه بهره به له نسیاوُ ماله مومم
چه ئے نقده په ورعوی کښے نسیا شوه
دردِ ښیرته جاروتو شه راته پورے
په نصیب ئے بله نه وه داوه دا شوه
یوه بخره هرسړی لره خدائے ورکړه
زما برخه اشنائی دخپل اشنا شوه
د تدبیر په دام به څشکله کښیوځی
معشوقه چه ئے په مثل دعنقا شوه
چه ئے زر کړه زیړ رخسار زما دخاورو
عاشقی نه وه په باب زما کیمیا شوه



څه حکمت دیار په مینه کښے خدائے کیښښو
چه عاشق لره هم درد شه هم دوا شوه
دا باران نه دے چه ووری له اسمانه
د مرغانو په رحمان باندے ژړا شوه

۲۵۰۹ ۸ $\frac{۶۴}{۲۲۰}$

په حالت د عاشقانو نظر بویه
په زیارت د شهیدانو گذر بویه
بے مرشده خبر څوک د مرید اخلی
غوځ په غم د فرزندانو پدر بویه
بے ریباره رسیده و یار ته گران دی
په کوڅه د مهرویانو رهبر بویه
بے هنره چا دولت موندلے نه دے
په خدمت د صاحبانو هنر بویه
ستا له سترګو ئے هر گوره ملازه شی
له دے هسے سیاه دلانو حذر بویه
بنه چه سترګے خدائے ملا ئے کړے د ترکو
لږ په زړه د ظالمانو اثر بویه
ستا په داغ به هر یو زړه مشرف نه شی
دغه تاج د بزرګانو په سر بویه
چه خبر د رحمان نه اخلی یار بد کا
بادشاهان له ګدایانو خبر بویه



ع

۲۵۲۰ ۱۱ $\frac{۱}{۲۲۱}$

کاله په غارمه سوزے گُهے رسوډے په سوړه
کله مرے د لوږے کله مړے په ډیر خوراړه
واړه په غوغا دی چه راغلی په دنیا دی
نه ئے هغه وری په قرار دی نه ماړه
کله لاس په سر خپله کیږدی تواضع کا
کله وبله کیږدی لاس په توره په چاړه
خاورے د ادم چه خمیره کړے فرښتګانو
درست لے په عمونو په دردونو ولاړه
څه شوک شوک شی ساعت واهلی پاتاره شی
پیښی په شی هغه هم په واهه هم په تاړه
څوبه وی تندرسته دا زمونږه ناسته
زه ئے درماند یم په پښتی په اخاړه
بشق که څوک پس له مرګه خاندی په لحد کښے
هرچا چه په دا ژوندون کښے خپسروړاړه
ویم واړه تلوق هیڅوک نه دی په توشونی
یون دے په دا لائے هم دخوان هم دزاړه
زلفے د دلبرانو چه هرڅوک ئے طلبګار دی
اوئے دی که هنګ دی که ختان دی که واړه
حج دهغه چا دے چه په دریکښے ئے قبول شی
زار دهغه چا دے چه له دره ئے شاړه



ما عبدالرحمان غوندے خواب کروړته سلو
خدائے خبر چه کوم یو هغه ترکے ولاړه

۲۵۲۷ ۷ $\frac{۲}{۲۲۲}$

اول زړه زهیرول مینه د یار څه
بیا له هغے جاروتل په لیه چار څه
معشوقه چه د عاشق په مرګ راضی شی
وعاشق و ته خفګان په هسے کار څه
چه رضا دخپل اشنا په رضا کیږدی
بیا په دا اختیار د پاسه بل اختیار څه
چه وچا و ته رضا په ګمراهی شی
د مسجد د میخانے ترمیانه لار څه
ته څه ځان و مسلمان په نامه بولے
چه په خوله د کلمه په زړه کفار څه
د ریا له عبادته استغفار کړه
چه وخلق و ته تسبیح منم زنار څه
یار بے نیاز دے اے عبدالرحمانه
بادشاهان ئے خاک پائے کړه په توخوار څه

۲۵۳۷ ۱۰ $\frac{۳}{۲۲۳}$

که څه وائم له هجرانه وائم څه
له دے درده بے درمانه وائم څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توان د دم وهلو نه لرم ویارته
چه توان نه لرم بې توانه وایم څهٔ
چه ئې وویښم له ځانه خبرنه یم
چه خبر نه یم له ځانه وایم څهٔ
د خپل زړه له حاله هیڅ راویل نه شي
له بې نامه بې نښانه وایم څهٔ
د عشق راز چه هیڅانه دے بیان کړے
ترو به زه له دے بیانه وایم څهٔ
د خپل یار له غمه دوست په اوښیو ووبیم
له دے هسے رنګ طوفانه وایم څهٔ
زه چه پروت یم د هجران په تناره کښے
د وصال له ګلستانه وایم څهٔ
سرو مال د سرې لوټ کا زړه ئے بوځي
له دے هسے دلستانه وایم څهٔ
زاغان بولي بلبلان شړي له باغه
د دے دهر له باغبانه وایم څهٔ
هرچه وایم تر همه وارو بهتر دے
زه رحمان به له جانانه وایم څهٔ

۲۵۴۵ ۴/۲۲۴ ۸

ولے نه ګورے وماته سم په څهٔ
زیاتوے د غمزده وُ غم په څهٔ



ستا په غم کښے چه ماوینی عالم ژاړي
ژړوے راسره نور عالم په څهٔ
په مطلب دِ د سروشونډو نه پوهیږم
چه ئے ویښے د زړه ځپنی هر دم په څهٔ
وَ دِے خپلو مستو سترګو ته دِ وایه
چه ورژنی ئے قلم قلم په څهٔ
ستمکار چه ستم کاندی څه بهنه کا
ته په ما باندے کوے ستم په څهٔ
مه کړه خدائے چه څوک بې یاره خوښ خرم وي
زه به وُسم بې تا خوښ خرم په څهٔ
زه رحمان بخیله کرم یم چه میڼ شوم
دغه نور عالم مے بولی کرم په څهٔ
لږ ئے وُبینته چه حال ئے د زړه څه دے
د رحمان له سترګو څاڅی نم په څهٔ

۲۵۵۲ ۵/۲۲۵ ۷

ولے تله ئے له ما مدام په څهٔ
ترهیدے ئے هر صبح وشام په څهٔ
زه هر صبح وشام دعا کوم و تا ته
ته وما وته کوے دشنام په څهٔ
همیشه لکه وحشي په وحشت ګرځې
یو ساعت راسره نه ئے رام په څهٔ



وائِمَا را ځځه ورومے مخ په وراندے
لکه عمر بیرته نه دے کام په څهٔ
راته وایه زه به هم هغه کومه
رقیبانو ته بخښے انعام په څهٔ
لږ پرهیز کړه له رقیبه د خدائے روئے دے
ګڼوے سره حلال حرام په څهٔ
رحمان ستا په مخ بې څښو هم میڼ دے
بیهوده دِ ورته کښیښو دام په څهٔ

۲۵۶۱ ۶/۲۲۶ ۹

چه غرقاب شي تر مرګان په یم د زړهٔ
نور خراب شي خانمان په نم د زړهٔ
عبث واے غم د زړه و بوالهوس ته
څه پوهیږي هغکان په غم د زړهٔ
په بل مخ باندے سوا د یار له مخه
ما ترلی دی چشمان محکم د زړهٔ
چه ئے عرش وکرسي لاندے دي تر سیوری
بالا تر دے هسے شان علم د زړهٔ
د خلیل تر کعبے دا کعبه ده لویه
که اباد کا څوک ویران حرم د زړهٔ
که نور خلق قدمونه ږدي په زمکه
ما دے ایښے په اسمان قدم د زړهٔ



دا مکان چه د اسمان زمکے ترمیان دے
یو خلوت دے دا مکان سلم د زړهٔ
زه ملهم د زړهٔ له چا غواړم بې خدایه
چه کړے نه شي طبیبان ملهم د زړهٔ
صورتی همدمان ویر دي په جهان کښے
ولے نه مومي رحمان همدم د زړهٔ

۲۵۷۳ ۷/۲۲۷ ۳

نه یم خویش د سرو کلونو په سایا زهٔ
خوبش یم ستا د مخ په اور باندے چلیا زهٔ
په اُور سوے بنهر وران وي ځه حکمت دے
سوے ستا د مخ په اور یمه بسیا زهٔ
خپلوم به دِ په هر رنګ چه خپلیږے
که د موم په دروغه په رښتیا زهٔ
نن راغلی په جهان یُو که دیدن کړے
نه به ته په جهان راشے نه به بیا زهٔ
دا ورودے وعدے چه ته کوے هم ئے
کشکے بیاموم فرصت په دا دنیا زهٔ
په تبرونو د زه د رست ذریه ذریه وشه
خو یو دم نه وشه له خپل یاره جدا زهٔ ق
چه له ویرے حیا نه ګورے و ما ته
غوځ غوځ ویے یمه ستا ویرے حیا زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له غمه له اندوهه د مرِ نه یم
سنګ آهن یمه آدم نه یم ګویا زهٔ
که جوړه تلے څوک وقبر وته دریغه
ژاړم دا چه یا به ته نه ئے او یا زهٔ
همیشه دخپلو اوښیو له سیلابه
سرګردان یم تر فلکه تر آسیا زهٔ
که څوک قیاس زما د ډیرو اوښیو وکا
هسے ګرځم لکه خس پاس په دریا زهٔ
زهٔ رحمان د یار ثنا کوے نه شم
کشکے مه وے په جهان کښے څه ګویا زهٔ

۱۰ ۸/۲۲۸ ۲۵۸۳

په دوران مے هسے رنګ دلبر پیدا شهٔ
ګویا بل د نمر د پاسه نمر پیدا شهٔ
یا طالع د زمانے یا بخت زما وو
چه دا هسے رنګ شیرین بشر پیدا شهٔ
چه قاصد د ورک یوسف زیرے پروکړ
د یعقوبؑ د سترګو بیا نظر پیدا شهٔ
عشق دے داکړ یو فساد دے نه پوهیږم
په جهان کښے چه دا شور و شر پیدا شهٔ
دریغه نخل دعشق مه وے زرغون شوے
چه له ښاخه ئے د غم ثمر پیدا شهٔ



ملائک دعشق له غمه څه خبر دی
خو هم ما لره دا سخت سفر پیدا شهٔ
یو دترکو بے نیازی بل عاشق شوه
په پرهر باندے مے بل پرهر پیدا شهٔ
د نااهل زویه پلار به څه ښادی کا
چه له پشته ئے لئیم پسر پیدا شهٔ
بیا به روغ د عاشقی له رنځه نه شی
په هر تن کښے چه دغم اثر پیدا شهٔ
چه هنر عیب کوی عیب هنر کا
د رحمان په دور دا هنر پیدا شهٔ

۷ ۹/۲۲۹ ۲۵۹۰

بیا مے زړه د تورو زلفو مسخر شهٔ
چپ و راست مے دحبشو توړ لښکر شهٔ
هر طرف مے د دعا غشی ګوزار کړه
ولے یو هم هسے نه ووچه کارګر شهٔ
وهر لوری ته چه غوږ باسم غوغا ده
یا غارے د بیلتانه دی یا محشر شهٔ
واعظان څو وعظ کاندی بارے څه کا
چه دعشق په لیونیو ئے ګذر شهٔ
چه پدر غوند ے ئے ماته نصیحت کړ
په دیدن دستاهغه زما پسر شهٔ



مستا په درکښے چه پراته دی نیک بختان دی
چه د ستا له درۂ ووت در په در شهٔ
دعشق زخم به څوک څه کنډی رحمانه
چه کنډون ئے په پرهر باندے پرهر شهٔ

۸ ۱۰/۲۳۰ ۲۵۹۸

چه نصیب ئے سینه چاکه زړه افګار شهٔ
جرس څکه په فریاد او په چغار شهٔ
چه پیدا دعاشقی په عاشق وشوه
د غفلت له خوبه پاڅیدهٔ بیدار شهٔ
عبادت د ریاکار څه په کار نه دے
لکه غوک هسے په بحر کښے مردار شهٔ
د جاهل زهد په زهد حساب نه دے
لکه مال په خمر و خرچ دخمر خوار شهٔ
مشقت د نادانانو وارهٔ پوچ دے
لکه بے بارانه ابر تش غبار شهٔ
عالمیت د بے عملو عالمانو
لکه ګنج د کتابونو په خرهٔ بار شهٔ
چه ئے کاندی و نااهل و ناقابل ته
نصیحت د ناصحانو کوم په کار شهٔ
د رحمان کلام په غوږ د بے هنرو
لکه دُر په لاس د طفل هسے خوار شهٔ



۷ ۱۱/۲۳۱ ۲۶۰۶

هیڅ مے نه زده نه پوهیږم دا څه پیر شهٔ
چه دلدار مے د اغیار په شکل څیر شهٔ
زمانه مے د رقیب له لاسه وژنی
چه مے سپے کاته هغه ر اباندے شیر شهٔ
د هجران غمونو هسے په عذاب کړم
هغه عمر چه مے لیدکاته اوس ډیر شهٔ
چه په تیغ مے لوبے کړے سزا مے داده
بنه چه غوڅ مے زړه د ترکو په شمشیر شهٔ
تیر ساعت به د هیڅ په لاس کښیوځی
اوس به څه وایم وچا وته چه تیر شهٔ
چه مے نوشه د هجران پیاله کړه تلخه
د وصال لذت مے کل زهر و کښیر شهٔ
چه ئے نه په وفا یاد نه په جفا وی
سکه رحمان د هغه یار له دله هیر شه

۱۷ ۱۲/۲۳۲ ۲۶۱۳

چه له سترګو مے خوناب د زړهٔ عیان شهٔ
له نظره مے هر سنګ دُر و مرجان شهٔ
خراب زړهٔ چه مے ژړل د یار له غمه
بیا په اجر د هغے ژړا خندان شهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغمونو مې میوه د بنادی وکړه
ځکه په پورته مې دغم لښتې روان شه
کمینیه له جمله افته خلاص کړم
لکه خاورې د دښمنو په چشمان شه
د غصې زهرې شهد شو له صبره
د خلیل په دود آتش راګلستان شه
عشق یو داد دې په عاشق باندې له خدایه
هسې نه چه وهرچا وته عیان شه
چه په ژوند ئې اشنائي وشوه له مرګه
د قیامت ساعت پر تیر په دا جهان شه
چه د یار زلفې رخسار ئې په زړه نقش شو
خپل خلوت ئې هندوستان هم خراسان شه
د مکې حاجیان څه واړه حاجیان نه دي
جوړ بازار په مفلسانو کوهستان شه
د رنځور علاج ترخه ترخه دارو وي
دغه درد دې چه هم دردشه هم درمان شه
چه د ستا دخولو بوی وریاندې راغه
د عطار په مخ دا اوښیو رود روان شه
عشق د یار په رانه وچولی ولیکه دې
خو چه وچولې ئې غوټه کړ تاوان شه
علامت د استغنا په ئې څرګند وي
هغه څوک چه تیر ترخان و ترجهان شه



دګریبان په چاکول ئې څه لازغه وي
چه ئې خپسر ورومبې چاک تر ګریبان شه
نادانان په د دنیا غمونه کاندي
مرد هغه دې چه په زیرمه دخپل ځان شه
نښانه د نادانیه نوره څه وي
چه سرپې په خپل کردار پاندې پښیمان شه
ادمیت څه په دولت نه دې رحمانه
بیت که روغ دې د سر و زړونه انسان شه

۹ ۳/۲۲۲ ۲۹۳۰

که په عقل پسې لازم په کار نه شه
که له بخته مې یاری غوښته یار نه شه
غروره غروره خوب په شاځکې اوبه تښتي
یار په سیند زما د اوښیو بیدار نه شه
معلومیږي زه کم بخت د درست جهان یم
چه د درست جهان دلدار مې دلدار نه شه
ماغندي او رقیب ستائي طالع ګوره
چه سرې ورته دسپي په مقدار نه شه
که ئې سل ځله اقرار راسره وکړ
دا زما ناقرار زړه په قرار نه شه
بې غمونو چه ئې وخواره یو ګبله
په دنیا کښې مې بل هیڅوک غم خوار نه شه



که مې سل نصیحتونه و زړه وکړه
هغه خدائې بې لاره کړې په لار نه شه
سهل کار دې که رحمان په زړه ازار شوم
چه خاطر د هغه مسته ازار نه شه

ی

۴۹ ۱/۲۳۴ ۲۹۷۹

چه پخته شي اشنائي — ترمیان ووځي جدائي
وطالب وته وفا شي — د مطلوب بې وفائي
بادشاهي کاندي بدله — د دیدن په ګدائي
خاني پلوري په ورېشه — مرزائي په میرزائي
نظر نه کاندي هیچرې — په لوئي په بهائي
ورته کفر څرګندیږي — خود بیني او خودرائي
خودرائي په عاشقي کښې — له عاشقه نه ښائي
معشوقې که بې وفا دي — عاشقان خوئې ستائي
غوږ ئې کړمته کړ پند دې وي — د خپل یار په خطائي
که ئې کړي وي سل علمه — هم دیني هم دنیائي
هسې واړه فراموش کا — چه پر ورشي شیدائي
و مطلب ته نه رسیږي — په شیخي په ملائي
لواړه ننګ وناموس کا — په سر واخلي رسوائي
تر ناموس شي ورته ښه — بې ننګي او بې نوائي



هره چاره ئې په اخلاص وي — نه په روی او ریائي
قبلوي په دواړو سترګو — هرچه یار پر فرمائي
نصیحت پر اثر نه کا — که هیڅوک سل ځل وائي
فائده نه لري په عشق کښې — د دانائي دانائي
دغه کار کوم ئې نه شي — هر کم فهم کمائي
مشکل کار د عاشقي دې — اسان چرې دې بائي
هر کم بخت ئې کله مومي — د دلبرو همتائي
څه په کسب موقوف نه دې — دغه کار دې عطائي
چه د عشق په لوه کښیوځي — نور ئې نه وي رهائي
بې د یار له محنه نه شي — د عاشق دل کشائي
دخپل یار په طلب ګرځي — غاړې غرونه پیمائي
له عالمه وي وتلی — لکه صید صحرائي
ئې ترتله ئې وطن وي — ګوښه کنج وتنهائي
مدام سوې لوغړن وي — دخپل اه په ګرمائي
هر زمان ئې په اور شي — د خپل یار تمنائي
نه ئې ملک اونه ئې مال وي — نه ئې زهد پارسائي
په دا هسې ګرانو چارو — معشوقه ئې ازمائي
په یوه دیدن ئې یوسي — د درست عمر کمائي
ما هم هسې رنګه وژني — یاره ستا بې وفائي
چه له زړه کړم زړه مې چوي — دغه ستا خودنمائي
هم خودي لرې بې قیاسه — هم د حسن زیبائي
ضرر نه لري بې نفعې — ستا د مخ سودائي

ستاسودا مالره سود دے — حق به وایم خدائی
په هیڅ مخ کښے لیده نشی — ستا د حُسن صفائی
نسر به څه له تا سیلی کا — په دا بے سر وپائی
دراک نه رسی د سروے — ستا د قد په رعنائی
لکه ستا چه قد بالا دے — نشته هسے بالائی
که د ستا وصال دریاب دے — زه مچے یم دریائی
د مکسو زندگی ده — په دکان د حلوائی
زه طوطا شکرپرست یم — د ستا شونډے مٹھائی
دا گمان په رحمان مه کړه — چه بے تا به وپائی
په پښتو کښے رحمان وو — په فارسی کښے سنائی

۲۶۸۴ — ۱ ۲/۲۳۵

ق

باد د لاس په پلو کښے خوره ریږدی
گل دِ مخ وته نظر کا خولے پریږدی
له هجرانه څه نه غوارمه عالمه
بد هجران دے ما د دے په قرار پریږدی
د چمن گلونه واړه تر قربان شی
محبوبا چه د چمن په گلو پښے یږدی
د تولی په منځ کښے دروهی لکه بطه
په قران قران راشی په زړونو لیږدی
په خمارو سترگو بیا صرانه وکړی
چه له ناز نے کړی راپورته بیا نے کیږدی



دا غزل په حاشیه وکښه رحمانه
د خوشحال د بیاض پانڼے به وریږدی

۲۶۹۲ — ۱۰ ۳/۲۳۶

عاشقی را باندے سیورے کړه مری
هیڅ مے نه دروهی بے یاره تر مرئ
څه اثر به نے د عقل وی په سر کښے
د هغو چه په سر کښینی ښاپیری
د مږگانو په پنجو مے زړه راکاږی
خدائے د ترکو بوندے سترگے کړے مرزی
علوقه به نے بے غمه تورخه نه وی
هر چه کاندی د خوبانو چاکری
لږ د صبر سبق مالره هم راکړئی
که په عشق کښے څوک د غم طاقت لرئی
خدائے د عشق د پهره دار و په لاس ورکړم
شپه او ورځ مے خپروی لکه تورئی
په صورت مے نری تبه شوه ولاړه
تا چه د واړه سترگے توره کړے نرئ
د وصال دلالان چرته غوارم خدایه
مدام بند شوم د هجران په کچری
نور د شمع په فانوس کله پټیږی
تا چه واغوستے د خیال جامے نری



زه رحمان په زړه نرے کړم هغو چو
چه نے ملا ده د ویښته په دود نرئ

۲۷۰۱ — ۹ ۴/۲۳۷

که له تانے شرم نه کیدے مهری
مخ به پټ نه وو د حورو د پیری
چه افتاب د تر رخسار پورے خجل شه
له دے ویرے زیست په شپه کا قمری
ستا تر حُسن پورے حُسن واړه هیڅ دے
نیست به څه له هستو کا برابری
بے د ستا له تورو سترگو جادوگرو
کوم اهو د بیابان زده دی دم گری
ستا د عشق د تورے هسے رنگه اب دے
چه له مخه نے حباب دی کنکری
حُسن واړه د عاشق په عشق موقوف دے
معشوقه که فرښته وی که پیری
دلبری او دلجوی لکه چه تا زده
چا زده هسے دلجوی او دلبری
د عاشق ته دیار غم واړه ښادی ده
د رضا په ملک کښے نشته دلگیری
دا دستور دے چه له دره زیرگے خیژئ
گنه څه وو د رحمان له شاعری



۲۷۰۹ — ۸ ۵/۲۳۸

ستا د تورو زلفو په یاداشت مے سترگے ورئ
حق دی چه پریوځی په شبرات د هر ستوری
زلفے د سایه کړے مخ د نور راباندے ورئ

ق

نور دے که ورځ ده نه پوهیږمه په سیوری
زلفے د سایه کړے مخ د نور په جهان بل کړ
هر چا ته چه گورم یم په ثمر وی یم په سیوری
نور ستا د رخسار په ما دے خپلو سترگو بل کړ
تل په اتش سوزی ائینه چه تمر ته گوری
سترگے مے د ستاله خیاله پریوتے و نه ته
څه شوک به سترگو صورت د رومی په بل لوری
گاه د رقیبانو ته نظر کړے گاه د ما ته
ستا باران د مهر په ښویل ویکسان ووری
یو اصل د څوک قند ونبات څوک عگر خون خوری
خال ستا د لبانو او ژماه سترگو توری
خان په مستو سترگو باندے مه غلوه رحمانه
دامستان هوښیار دی له حکمته سره ښوری

۲۷۳۱ — ۱۲ ۹/۲۳۹

د نمر مخ چه ستاله مخه نه شرمیږی
تر و دا رنگ نے وے زیړ زرغون بنکاریږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سپوږمۍ چه نه سرشته نه ئې ښېښته
په کوم حُسن به له تا سره ممېږي
زړه مې یو وړ ستا د مخ په رڼا زلفو
بارې غل په سپین سبا کله پټېږي
ستا د زلفو د ابروېو له دهشته
همګی لړم ماران دي چه ویرېږي
مخ د اور خط د سبزه دې زه حیران یم
چه سبزه په اور کښې څنګه زرغونېږي
اور اوبه سره چا کړ لیدلي نه دي
دا قدرت دې ستا په لبو کښې ښائېږي
لکه لوند زړو کې تاو کړې نو ئې وګړي
ستا له غمه مې رنګ زیړ پوست مې وچېږي
سپوږمۍ هم د اغې تاو خوري ستا له مخه
چه په هره میاشت کښې دوه دوه نیمه کېږي
که قامت د څوک شمشاد بولي غلط دې
د لرګيو په نرخ سپین زر نه یافتېږي
خم ابروئې د په تاو د زلفو تم شوې
د لړم له نیشه مار څبله تاوېږي
و دندانو ته د دُر ونیلې نه شم
کاڼي کله د برېښنا په دود ځلېږي
باریک خط ئې زلفو لاندې کړ رحمانه
مورچه کان د شپې له څخه پائمالېږي



۲۷۲۶ ۷/۲۴۰ ۵

چا چه نمري وي په څپلو اوښیو ولي
د شبنم په څیر به تل وي سپین سپیځلي
که صیاد څخه د اوښیو دانې نه وي
د هوا مرغان هیڅ‌ نه دي نیولي
هر یو مخ کله لائق وي د ابروېو
اوښې نه دروي په مخ د هرناولي
هره شپه به شمع څه لره ژړا کړه
که ئې نه وې په ژړا کښې څه موندلي
ما رحمان به ژړا نه کړه له خوبانو
که مې نه وې په قسمت دا هسې کښلي

۲۷۳۷ ۸/۲۴۱ ۱۱

خدائې د وژغوره له هرې پریشانۍ
اې زما د کور و کلي ودانۍ
عاشقي چه ما کښلې دانائي وه
اوس خبر شوم له دې څېلې نادانۍ
تر ورځ تیرې اوبه بیرته نه جارووځي
څه پکار دي پوچ بې ځایه پښېمانۍ
ودانۍ په یوه دم کښې شي ویرانه
مرد هغه دې چه ودانه کا ورانۍ



لکه باد چه ځان وهي له کوه و دشته
زه په تا پسې کوم سرګردانۍ
دا خو زه د ستا د غم سره لوڅېږم
څوک له دیوه سره کړي پهلوانۍ
چه په اب و په اتش په خاک و باد وي
څه امید دې په هغو زندګانۍ
نه چه دا رنګ وړ د به ویړ دې وهې کړې
کشکې راکړې وما خط د امانۍ
که نه زه په هغه وخت وې چا به نه کړې
د مجنون او د لیلی قصه خوانۍ
زما ستا ومنداره نه به حیران وو
که ژوندي وې ادم خان او درخانۍ
و هرچا ته چه ئې وایم حیرانېږي
څه به وایم د رحمان له حیرانۍ

۲۷۳۴ ۹/۲۴۲ ۱۰

زلفې د له پېړې درازې پائې تر سر دي
یا د بنفشې لښتې خورې په صنوبر دي
لب د اب حیات دي یا شکرې یا نبات دي
یا خو زه غلط یم تر هسې وارو بهتر دي
قد نه د څوک نه شي رسیدې له بلندي
وې چه معراج نه رسیده د پیغمبر دي



ما چه ستا بناښت او نمر سپوږمۍ سره په تول کړ
تلې په میزان کښې تر اسمانه سپوږمۍ نمر دي
څاڅکي له اسمانه په هرچا ووري یکسانه
برخه په واښه شي په صدف کښې ګوهر دي
تخت دې چه ئې څوک متکې کړه په تخت باندې
څوک د غم په خار سره پاره پاره ځیګر دي
دا خو زه له ډیرې کم بختۍ له تا زار کړم
ستا له نیک خوئي کانې بوقې هم خبر دي
باد چه د په زلفو باندې قصد د پریشانۍ کړ
څکه ئې ګرد ونه د جهان واړه په سر دي
هله به سرې شي چه د نوم عبدالرحمن شي
اوس سرې په څه ئې که دلوستي زیر و زور دي
سپینې اوښې زیړ رخسار د مینې له دولته
اې رحمانه دا د عاشقانو سیم و زر دي

۲۷۵۳ ۱۰/۲۴۴ ۹

د واړه سترګې مې کړې د ستا په لور دي
مدام دوې د فراق په اب شور دي
زه یو سپی یم چار څنډه د ستا د سپیو
چه مې ستا و ذر ته دوه سترګې څلور دي
کښې وئي ئې د دوو سترګو ستا په طمع
و هر دروته نیولي کور په کور دي

چه مے خال د ترکو ولید په خپل زړه کښے
دواړه کسی مے و زړه و ته نسکوردی
ما قبول د رقیب ناز کړه ستا د پاره
سود او زیان په داجهان کښے خوراو وروردی
په رحمان باندے دا هسے گمان مه کړه
چه بے تا په نورخه غلبرکی هغه نوردی

۲۷۷۳ ۱۱/۲۳۴ ۱۰

که دلدار په دلداری زما قدم پودی
گویا هر قدم په لاره د حرم پودی
خائے لری که بے منته بوسه راکا
کوم کریم په چامنت د خپل کرم پودی
معشوقه مشفقه بویه مهربانه
نه قارون چه په ځان اسم د حاتم پودی
هسے پټ لرم دا زیر رخسار له خلقو
لکه زر چه څوک له خلقو پټ پنهم پودی
خدائے و ما وته ګلونه د جنت کړل
که داغونه مے په زړه باندے د غم پودی
هیځ مانه د څوک له مستو سترګو نه کا
کوم یو مست دے چه قدم په لاره سم پودی
راحت به زحمت نه دے چا موندلے
کوم طبیب دے چه په دروغ صورت مرهم پودی



زه هرګوره تر خپل حمد پورے شرمیږم
برهمن چه سر په پښو د خپل صنم پودی
و اسمان ته لاس د عقل نه رسیږی
دا خو عشق دے چه په عرش کرسی قدم پودی
زه رحمان ئے تاج گڼم د یار له لاسه
که مے پنډ په سر د جور و د ستم پودی

۲۷۷۰ ۲/۲۴۵ ۷

د دنیا روزګار همه وبله غلول دی
داګمان په هیڅ مه کړه چه مے خپل دی
هیڅ مزه په دا جهان کښے پاتو نه شوه
داغ سیورے په اوبو پورے کول دی
پوزه غوږ د غوبنو شته په هرچاپورے
که د شرم پوزه غوږ غواړے باطل دی
که د دوه کاله دانے وی په کند و کښے
پس له شامه هسے وایه چه د بل دی
که ته دوه او درے عیبونه د بل شمار کړے
بل به تاته هسے وائی چه ستا سل دی
نصیحت د ناصحانو اثر نه کا
بیهوده د سرے او سپنے کوتل دی
دا ناهله همدمان دی نه پوهیږم
که موچی د رحمان پښے په کوکل دی



۲۷۷۹ ۳/۲۳۶ ۹

سپین رخسار او مشکین خال وبله ضم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که د مخ په زلفو پټ وی پاک ئے نشته
د حیات اوبه هم پټے په تور تم دی
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام شفق او صبحدم دی
نری ملا د په مثال د الماس مخ شه
چه ستدل ئے په باریک ورو مخ قلم دی
په دهن کښے د غابنونه تجلی کا
یا غوټیه په غنچه کښے د شبنم دی
نه ژړا وچاته نه ګوری سیه چشمه
د نرګسو غوړیده د جوئے په نم دی
نه چه اوس زما زړه غوږ ستا په غمزه دے
چاره غوښے له قدیم سره په غم دی
راحت نه دے چا موندلے بے زحمته
ستا جفا او وفا دواړه مغتنم دی
ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمان د شعر کوکے په عالم دی

۲۷۸۰ ۱۴/۲۴۷ ۱۱

چه د خپل اشنا له وصله مهجوران دی
که ژوندی دی په معنیٰ کښے مرده ګان دی



زه د یار تر جدائیه په مرګ خوښ یم
سخت دارو په سخت بیمار باندے اسان دی
د غمه درد دے چه هم درد شی هم دوا شی
بیا دارو په تاو وهلے چه سوزان دی
لکه شمع په ورخ مرمه د شپے سوزم
اوس و ماته مرګ ژوندون دواړه یکسان دی
د ګلونو تر ډیر عمر دا سود ډیر دے
چه همه سره کفنونه شهیدان دی
له خزانه د بهار څهره پیدا سکا
مخ و څټ د فانی دهر یکهسان دی
ما د یار دیدن حاصل که په پرده کښے
د بوټی چارے ئے همه د خوبن پښان دی
ریاکار چه په ریا طاعت نازیږی
نا سره مهر په لاس کرځی لکان دی
عاقبت به لکه تش بادام مجل شی
د اسلام جامے اغوستے کافران دی
چه د تن په پاکی پاک په زړه ناپاک وی
د لرګیو تورے په تیکی سپاهیان دی
چه خپل درد ئے خدائے دارو کاندے رحمانه
د هغو لښتی په سر د غرهٔ روان دی

٣٦٠

٧ ١٥/٢٤٨ ٢٧٩٧

ستا د عشق حرفونه تور نه دي گلگون دي
هم په دا چه نوشته په جگرخون دي
تش به نه شي هغه خم دعشق له میو
چه ئې خاورې د فرهاد او دمجنون دي
د دنیا چارې همه واړه کیمې کا
دا د ستا جور و جفا ولې افزون دي
دا مقتول ستا دغمزې دي لاله نه دي
چه په سره کفن له زمکې رابېرون دي
چه ئې هیڅ بها زلمیو تخته نشته
جونه نه دي سکه گنجونه دقارون دي
پادشاهان په یوه دم کړې گدایان کا
ما لیدلي فسادونه د گردون دي
د رحمان د زړه خوناب مگر قبول شي
چه مخونه د دلبرو پر گلگون دي

١٣ ١٢/٢٤٩ ٢٨١٠

چه دا هسې لاس په لاس دنیا پرېښودي
څه چوا چندن په ځان پورې دمښودي
دا دنیا په مثال پول مرگ سیلاب دې
د سیلاب په مخکښې څه پوله ینښودي

٣٦٢

٤ ١٧/٢٥٠ ٢٨٣٤

مخ د یار شمس و قمر درې واړه یو دي
قد و سرو و صنوبر درې واړه یو دي
حاجت نه لرم په شهد او په شکرو
لب د یار شهد و شکر درې واړه یو دي
که بې یاره د بستر د پاسه پروت یم
ثار و خار و دا بستر درې واړه یو دي
چه و در او و دیوار ته ئې نظر کړم
باغ بستان و دغه در درې واړه یو دي
چه غبار ئې د کوڅې راپاندې راشي
دا غبار مشک و عنبر درې واړه یو دي
خدائې د یار له هجره هیڅوک خبر مکړې
تاخت او قتل دا خبر درې واړه یو دي
هغه دم چه سرې دروځي له جهانه
توږې خاورې سیم و زر درې واړه یو دي
قلندر چه په ریښتیا قلندري کا
خان سلطان او قلندر درې واړه یو دي
ور و نه شي په پردې زمکه هیڅوک
مبصر او کور و کر درې واړه یو دي
چه د نه یکېږیو یار نه د اشنا وي
هغه ښهر بحر و بر درې واړه یو دي

٣٦١

چل زلمي لا واده نه وي سره کونډه شي
دا رنگ چارې د مرگې د خرخښودي
قافله چه په دنیا کښې شوې دا خپله
بیا هم هسې معلومېږي چه د لښو دي
دا سفر به په هغو باندې اسان وي
چه تر کوچ مخوا په زېرمه د توښودي
چه بې وقته ارمان کا په وقت وده وي
د هغو عالمو بویرې د وکښو دي
دا لا خدائې دې چه دا خلق کرخوینه
اجل اور زړونه جونگړې د وښو دي ق
په هر شان چه یار خوبنېږي نه ئې کړم
خندول د صاحبانو په پیښو دي
د یار غم مې لکه تاج دې په سر پېښه
نور غمونه مې همه لاندې تر پښو دي
معشوقې په عاشقانو خود پوهېږي
دلته څه د عاشقي نخښې د ښوو دي ق
تر ابده ازادي ده پر حرامه
چه بند شوي د حرص په پلوښو دي ق ق
په خیل ځائې به ئې هر هر کلام په کار شي
د رحمان وئیل طالب لره د کښو دي ق
میخواران که ئې خبر شي له مستیه
د رحمان د میخانې شراب دخښو دي

٣٦٣

په دکان د نابینا و جوهریانو
خرمهرې لعل و گوهر درې واړه یو دي
پسران د عار زما له عشقه نه کا
پاک عاشق پیر او پدر درې واړه یو دي
په سبب د ظالمانو حاکمانو
گور او اور او پېښور درې واړه یو دي
غزا وشوه که خان ستاني و رحمان ته
بې هنر او کاو خر درې واړه یو دي

٩ ١٨/٢٥١ ٢٨٣٥

خرخ مې ستا د بنوغښي په سینه دي
پورې ووړې مې وتلي ترا ینه دي
تل ئې مخ د یار په مخ باندې وي پیښې
هغه زړونه چه بې زنگه ائینه دي
هسې نه چه زه نن ورځ په تا شیدا یم
ستا غمونه مې په زړه کښې دیرینه دي
لکه ستورې چه بریښنا کا په اسمان کښې
په تهرې ستا داغونه نگینه دي
نه تنها زما په سترگو کښې جلوه کا
ماه و مهر ئې و مخ ته ائینه دي ق
درته وایم چه له اهه ئې پرهیز کا
د هغو چه پوشاکونه پشمینه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د استا رخسار سوزانے لیبے نه دی
وے کمی زما تور سوی سینه دی
څه به سم په صبحدم گوربے وچاته
چه د سترگے په مے مستے شینه دی
هغه سترگے چه پیدا کړے خدائے خونریزے
بے غضبه په غضب او په کینه دی
شرابیان چه شراب مومی خوښ شومی
کله منع په اختر په ادینه دی
چه تمام دخپل ځیگر په وینو رنگ شه
د رحمان خبرے ځکه رنگینه دی

۲۸۴۱ ۶ ۱۹/۲۵۲

دا ژوندی چه معلومیږی واړه مړهٔ دی
که څه دی هم هسے وایه چه څه نه دی
یا د باد په مخکښے خاورے دی دا توربے
یا د اور په مخکښے واړه وچ وابښهٔ دی
دخپل عمر شپے او ورځے چه په زړهٔ کړم
هسے دروغی کویا بهنده اوبهٔ دی
غافلان که ویښ اوری بدے څه کړے
دا ئے خوب دے نه لیده نه اوریدهٔ دی
چه د خدائے له معرفته خبر نه وی
هغه واړه که بیدار دی هم ویدهٔ دی



د رحمان د زړهٔ له حاله خدائے خبر دے
چه په زړهٔ ئے د اشناله غمه څهٔ دی

۲۸۵۰ ۹ ۲۰/۲۵۳

عاشقان د په اور سوی دی که نه دی
ستا د عشق په اور اولوی دی که نه دی
زحمتونه د هجران واړه په عشق کښے
تا وما وته پښوولی دی که نه دی
په دنیا کښے خو یو سر و مال و ښل شی
دواړه ما په تا پاسلوی دی که نه دی
تل د وروځو په لیندهٔ د بڼو غشی
تا په ما باندے راکښوی دی که نه دی
چه مدام ئے زما زړهٔ له غمه چوی
توربے زلفے د پیچوی دی که نه دی
راشه وگوره احوال د عاشقانو
مرهٔ د عشق په شری کوی دی که نه دی
ناصحان چه نصیحت و ما ته وائی
چرته دوی هم مینی شوی دی که نه دی
بناشته که په بناشت کښے ملائک وی
په وکښو د زړونو روی دی که نه دی
بلبلان پسے نعرے وهی رحمانه
د بهار گلونه نوی دی که نه دی



۲۸۵۷ ۷ ۲۱/۲۵۴

چا چه کړے د دنیا وته اسرے دی
د همه واړو په سر خاورے ایرے دی
ناداناں که د دنیا په چار نازیږی
و داناته واړه و شئے مسخرے دی
چه بے خدایه محبت کا هغه خلق
ناریته ئے واړه څرهٔ مخے ئے څرے دی
وسپین بیریو وته مه وایه سپین بیری
دا همه واړه طفلان د گوارے دی
هسے وایه چه څری دی د زنانو
که ئے ږیرے په دستار کښے قرقرے دی
نه څه فیض نه بهره مخے مونده شی
هسکی واړه بے فیض وبے بهرے دی
ذخیره د دنیا مه کوه رحمانه
دا همه واړه د خاورو ذخیرے دی

۲۸۶۴ ۷ ۲۲/۲۵۵

ستا له غمه مے په ځی باندے وے دی
لرے وبینته له حاله چه وے دی
زه په تا پسے مجنون یم قارون نه یم
چه مطلب مے غوا و غویے یا غلے دی



هغه کوږے لکه تا دی په ما کړے
کله کړے په مجنون بندے لیلے دی
لکه ماچه مصطے د رپسے لنگ کړے
کوم ملنگ هسے لنگ کړے مصلے دی
یوی هم ستا د وفا نه دے رابلو دلے
ما پخپله څپلے کړے تسلے دی
نصیحت اثر په زړهٔ د عاشق نه کا
کښه یادے زما ډیرے مسئلے دی
که رحمان د عاشقی په تیغ شهید شی
د جنت حورے همه واړه دلے دی

۲۸۷۳ ۹ ۲۳/۲۵۹

صبحدم چه هغه یار رابانده راشی
عجب نور د نور د پاسه هویدا شی
کښلی مخ لره حاجت د سنگار نشته
بے ترتیبه چه تمر و خیزش رواشی
چه ئے وویتم له وراپه پورے نیسلم
لکه پیش چه وبله کاه و کاه ربا شی
ما له ډیرے ناچاریه یار ته شاکړه
ناروا د ضرورت په خاطر روا شی
زه په وصل کښے خواری د هجران ژاړم
د هر کار فکر تر کاره لا ښوا شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا ښخوا ترجدای ژړا بویه
کنه هلته هر یو ژاړی چه جدا شي
وصال نه دے چا په سر و مال موندلے
مګر غاړه په دا کار د چا ادا شي
زه به سر و مال د یار ترنا مے خار کړم
دا په عشق کښے سهل کار دے که پیدا شي
د رحمان په اوښیو مے رنګ پوهیږم
چه اخر به په تمام جهان رسوا شي

۹ $\frac{۲۴}{۲۵۷}$ ۲۸۸۳

چه شهید د تورو سترګو په خنجر شي
خوشنودی ئے د سرو شونډو په کوثر شي
چه را یاد ئے سپین رخسار دراز مژګان کړم
هغه دم مے زړه سپند سینه مجمر شي
عندلیب خاطرے الوځي په ګلو
که د ترکو سنبل زلفے ئے شهپر شي
که یار سل ځله جفا راسره کاندی
زما کله په جفا د یار باور شي
د ناصح په نصیحت به منع نه شم
که هزار ځله مے ورور و برادر شي
د رقیب او زما صلح سره نشته
که موچړے لاس و دست و بله بر شي



صبوری او قراری له ما خطا دی
تر هغه ساعته پورے چه محشر شي
تیر ساعت به د هیچا په لاس کښیوځي
مګر تلے اشنا بیا په اشنا ور شي
خوبرویان به د سپوږمۍ ټوکړے ور واخلي
که رحمان کچکول په لاس کا قلندر شي

۷ $\frac{۲۵}{۲۵۸}$ ۲۸۸۹

که غبار د ستا د لارے په خوا ور شي
که په دواړو سترګو روند وی مبصر شي
تازه نوے سر پیدا کا لکه شمع
چه ئے غوڅ د ستا په مینه د زړه سر شي
چه کیمیا د قناعت ئے په لاس کښیوځي
که ګدائے وی د قارون په څیر توانګر شي
ستا د در ګدایان واړه پادشاهان دی
خو چه ستا له دره ووځي دربه در شي
تل ئے مخ وی له عالمه جار وتلے
د هغو چه ستا په مخ باندے نظر شي
که د درست جهان له حاله خبردار وی
چه تا ووینی له واړو بے خبر شي
ائینه که د جمال کړے ورځر کنده
دا ګدائے رحمان به شاه سکندر شي



۲۱ $\frac{۲۶}{۲۵۹}$ ۲۹۰۵

تبسم ئے د وګړی په روزګار شي
چه ئے نه له مرګه ویره نه ئے وار شي
له دغه وزیری د دغه د ورانده وهری
لا ئے مینه د دنیا په کاروبار شي
که ئے هر قدم د مړیو په سر لاړوی
یو قدم مے وانه خلی چه په لار شي
د ژوندیو نصیحت پر اثر نه کا
مګر مړه له قبره پاځي په ګفتار شي
د امید مزے ئے مے رنګ دراز وی
چه تر خضره ورته خپل عمر بسیار شي
سپینه بیره په ورځی کښے زویه واخلي
چه به ما لره سپاهي و منصبدار شي
د خرما زړے نهال کا ورته ګوري
چه دا سیورے د میوه به مے په کار شي
هر هر فصل چه تر رسیدی هوسیږی
چه به کاندره راته بل فصل تیار شي
لا ئے لیه تخم هم کرلے نه وی
ناکشته ئے مخے طمع د خروار شي
غروندے د دنیا زوکړیو خپیو غړی
چه سبا بیګاه به ما لره ګوهار شي



لکه ووړکی کتوری غواړی له زانګو
په دا ھسے پوچ کوی ئے اعتبار شي
چه هرګز په عمر نه وی چړے شوی
ق د هغو ناشدنیو امید وار شي
هلکانو غوندے پاس په کوټه زغلی
ق خو چه دوه قدمه واخلی نو حصار شي
په رخصت د تن له مالګے هم پرهیز کا
ق هغه نه کا چه له نهی پرهیزګار شي
د ژوندون په تیریدوے نظر نه وی
ق چه دا ګنج به ئے له لاسه تار په تار شي
رحمان څه دے چه به پند و چا ته وائي
هدایت د هر بنده په کردګار شي

۴ $\frac{۲۷}{۲۶۰}$ ۲۹۱۹

ګرد ګلو ګره چه صبح د ګلزار شي
اغزی مه ګره په پښو کښے به د خار شي
نه چه بل په غشیو ولے هسے پوه شه
چه هم دا غشی به ستا په لور ګوزار شي
کوهے مه کنه د بل سری په لار کښے
چه هم ستا به د کوهی په غاړه لار شي
و هر چاته چه په خوارو سترګو ګورے
لا رومبے به ستا صورت ترهغه خوار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آدم زاد په معنیٰ واړه یو صورت دے
هرچه بل ازار وی هغه ازار شي
که ته نه کوے نظر د چا په عیب
هر سړے به ستا دعیب پرده دار شي
دهقان کر په لوړه مزکه باندے نه کا
سرکوزی کړه چه پیټ د مرغزار شي
د مات لوښي اواز کله ثابت خیژی
د هرچا عمل ښکند په خپل گفتار شي
نن چه صبح ده روښانه ژر صحیح کړه
ناگهانه به دا صبح شب تار شي
لږ نے مه گڼه که هر څو گناه لږ وی
چه لږ لږ ویله جمع کړے بسیار شي
که بل بد کاندی ته ښه کړه مه رنځیږه
هر یو نخل چه میوه لری سنگسار شي
تل و ښو وته ازار د بدو رسی
هر چینجے و نرم چوب وته دوچار شي
هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چه کشتی غوندے دخلقو باربردار شي
خدائے و بن له لاسه مه کړه اوکه وی هم
د رحمان و په کل بدو استغفار شي



۲۹۳۸ ۲۸/۲۹۱ ۹

هر وگړے چه منصور غوندے په دار شي
دار نے پس له مرگه نخل میوه دار شي
روغ صورت که روغ عالم لره کمال دے
لیونی لره کمال دے چه سنگسار شي
هر گیاه چه وکمال ته ورسیږی
سر و زمکے وته کوز کا نگونسار شي
نرے باد به نے داخل په خپل منزل کا
که څوک پاڼے د خزان غوندے طیار شي
غفلت هیڅ مناسب نه دے د سپین ږیرو
صبحدم که حیوانات وی هم بیدار شي
چه یو موقے ایږے ناز په آئینه کا
په دغه خبره فخر د خاکسار شي
کوربیانو سود موندلے دے په زیان کښے
لکه ښاخ د ونے ونراقله باردار شي
خزانه په سخاوت سره زیاتیږی
د کوهی اوبه چه وکاږے بسیار شي
مریده د وړے کیدے مشکل نه وی
مریده د وړیو سترگو مشکل کار شي
کم خوراک سړے فرښتو وته نژدے کا
هر سړے چه بسیار خور شي بسیار خوار شي



صاف دلانو لره لږ نصیحت ډیر دے
دگوهر و پیوستون په نری تار شي
غلبه د عشق بهنه د حُسن غواړی
توره شپه په عاشق زلفے دخپل یار شي
د توفیق له مخه هر مشکل اسان دے
و مستی وته د اور لمبے گلزار شي
ناز دحُسن پرورش موهی له عشقه
هسے نه چه د خوبانو په سنگار شي
راحت به زحمته نه دے چا موندلے
د وصال خوښی د هجر په مقدار شي
عاشقانو لره واړه سعادت دے
که نے سر و مال د یار تر نامخار شي
یار یار هر څوک سره وائی په جهان کښے
زه به پس له مرگه وایم چه یار یار شي
لکه وار کاندی ورخومے له گرگانو
هسے رنگ له جدائیه زما ډار شي
د رحمان دا یوچ کوئی څه په کار نه ده
عاشقی په گفتار نه شي په کردار شي

۲۹۴۶ ۲۹/۲۹۲ ۸

که دغم د درست جهان تر زړه چاپیر شي
دلگیر مه شه هسے وایه چه به تیر شي



غم هغه دے هرچه څیرمه وی وچاته
ورومبی واړه تر وروستیه پورے هیر شي
بے له خدایه چه مدام په یوه حال دے
سړے کله شیرشاهی وی کله سیر شي
یو آدم دے چه په څو رنگه جلوه کا
یو رقم دے کله زور شي کله زیر شي
د دنیا چارے مدام په قرار نه وی
د ښو په څمبول کښے په بل پیر شي
په لږ عمر کښے ډیر غم له کومه راځے
خوله خپلے بے صبری په سری ویر شي
چه خریدار و فروشنده وبله راضي شي
په سودا کښے سختی نه کا تیر و بیر شي
بانشته په جهان ډیر دي بے حسابه
بارے څوک به د رحمان د یاره خیر شي

۲۹۵۸ ۳۰/۲۹۲ ۱۲

که د زرو مرو سر وی څوچه مر شي
نه نے نوم په خوله اخست شي نه ئو مر شي
که هیڅ پر کړے نه وی په جهان کښے
و اجل ته لکه څر په خته پر شي
راشه راشه دا ډیر ناز و کبر مه کړه
یاره څو به د دا ناز په جهان ور شي

دا رخسار چه د روښان تر آئینے دی
عاقبت به د لحد په خاورو خړ شی
مراد همه له دلبری دے غزا وشوه
که د سرو ے په څیر څوک په قامت لوړ شی
نیک نامی له نیک خوئیه پیدا کیږی
دغه چاره نه په سوک نه په لوړ شی
عاقلان چه پښیمان نه وی هغه نه کا
هغه شکوے دے هنر وی چه سپړ شی
دا خوزه له شفقته تا ته وایم
که ځان له سر نوشته په چاړ غر شی
د هوا په تغوته مه ځه که دانا ئے
هوائی ویشتلی غشی زر په خوړ شی
وران به نه کاندی یو حرف د څپے بحرے
که په اوښیو د چا درست جهان چقړ شی
په تدبیر به د تقدیر شوی نور نه کړے
د قسمت علاج په عقل کله کړ شی
په رحمان بے یاره صبر هسے گران دے
لکه زهر چه دیده دانسته نغړ شی

۲۹۶۴ ۳۱/۲۹۴ ۲

هرچه ستا په زنخدان کښے ئے منزل شی،
لکه خس په تناره کښے به چلبل شی



څوک چه توم د ستا د شونډو په خوله واخلی
که ئے زهر وی په خوله کښے هم عسل شی
زه په هجر کښے بے برگ و بے نوا یم
لکه کښت چه اوبه نه مومی شنډل شی
په عاشق باندے گمان دا هسے مه کړه
چه یار زړه ورځنه یوسی تش کوگل شی
په جهان تر اشنای خواږه نشته
ولے حیف چه هجران کښے حنظل شی
زه رحمان بے یاره هسے شول وشل یم
لکه کب چه بے محیطه شول وشل شی

۲۹۷۳ ۳۲/۲۹۵ ۹

که د زړه په وینو رنگ د چا کوگل شی
چه بیلتون په جهان شته دے څو به بیل شی
که د اوښیو به دریاب باندے ئے نهل کړے
نیشکر به نیشکر شی تل به تل شی
مشقت د سری واړه ښطه دے
په ښوره کښے چه د کلو بوټے نهل شی
د دنیا یاری دوستی څه په کار نه ده
له اول یار و دوست وی پسے غل شی
که هرڅو ئے وبله مهر و محبت وی
نهایت سره په جنگ و په جدل شی



په مثال د دروغژنے مرغلرے
آب و تاب ئے په دوه ورځے کښے بدل شی
که ئے زنه د ځوانی په وقت کښے سیب وی
هغه سیب ئے په پیری کښے حنظل شی
د رقیب له بده خویه به څه وایم
تر و ئے کوره چه لا یار ور سره مل شی
زه رحمان د یار په بنه او بد پوهیږم
کشکے زهر په دهن د چا عسل شی

۲۹۸۳ ۳۲/۲۹۶ ۲

که سل ځله هم کنار و هم بغل شی
د دنیا مینه به واړه سره بیل شی
دا چه اوس په یوه کور کښے سره ناست دی
عاقبت به ئے جدا جدا منزل شی
دا کلونه چه ئے ځائے دی په دستار کښے
هسه واړه به تر پښو لاندے غوبل شی
دا بے مځی چه ئے مځ د نمر په څیر دے
تور وبنت به ئے په مځ باندے تختل شی
دا شیرین شیرین شربت چه د وصال دے
د هجران په وقت به زهر هلاهل شی
ما د یار په بیلتانه کښے دی لیدلی
که دانا د زمانے وی مبتذل شی



پیښه له ویرے د وصال په زمکه نه یږدی
چه خبر د جدای په دلدل شی
د دے هسے رنځ علاج به څوک په څه کا
چه نه فهم د چا رسی نه اکل شی
که د غرونو په سرگرځی سر ئے تیت وی
هرچه زړه ئے د خوبانو پر غسل شی
د رحمان خاطر غمونو هسے زنگ کړ
مگر جام د میو ناوے صیقل شی

۳۰۳۷ ۳۴/۲۹۹ ۵۲

هغه دم چه زړه ملال شی — یو ساعت ورباندے کال شی
حیران تللے وی په فکر — فراموش ئے قیل وقال شی
نه ئے گفت نه ئے شنود وی — په خوږ کوڼ په ژبه لال شی
نه خواب وچاته کاندی — نه ئے خوږ د چا په سوال شی
علم عقل تختے پا شی — وربست صورت ئے خواب و خیال شی
په رتو سترگو وږوه وی — لکه نقش د دیوال شی
قوت ئے ویښے دځیگر شی — هم دغه ئے اشتغال شی
د چشمانو له باراننه — په رخسار ئے پشکال شی
په سبب د عاشقیه — تیر تر ال و ترعیال شی
هم تر ال و ترعیاله — هم ترمال و ترمنال شی
په خپل درد و په خپل غم کښے — له عالمه فارغ بال شی
نه طاقت نه ئے مجال وی — بے طاقته بے مجال شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ژوندے وی په جهان کښے — د مرده وُ په مثال شی
په خشکی کښے ماهی کوره — مچے بے تیغه حلال شی
پاشیدے نه شی له ځایه — په زړه غوټ په تن کهال شی
د وښتلیو په څیر یون کا — د کل خلقو په ونیال شی
لکه خس د لوئے لارے — تر قدم لاندے پائمال شی
خدائے له غمه سپے ژغوره — بیا لا بویه چه خوشحال شی
چه د زړه وے شی غوټے — نور ژبیدون ئے په شکال شی
د باغبان سترګے کا سپینے — چه تازه نخل و نهال شی
روئیدن د کښت لسان دی — پرورش ئے لوئے جنجال شی
ویرانی په یوه دم شی — ودانی په ویر اشکال شی
چه پلار ومری بیا لا بویه — چه ئے زوی په کمال شی
څوک خبر دے له دے دوره — چه زمان لره څه حال شی
چه په حال کښے ئے حال نه وی — څه امید په استقبال شی
د یوه ساعت له څه — خدائے زده څه رنګ به احوال شی
د دنیا چارے فانی دی — رفت آمد ئے په پرغال شی
په مثال لکه د سیوری — خوا و شا د هر دیوال شی
اعتماد په اوبو مه کړه — چه استاد ئے په غربال شی
د بڼو په ځنبول کښے — شال شړی کا شړی شال شی
که بادشاه د ولایت وی — کنډولے په لاس کنګال شی
په ثواب ئے غلط مه شه — په یوه ساعت وبال شی
په کمال ئے مه نازیږه — په یوه ګړی زوال شی
د هاتیانو سوداګر وی — ګاؤ دلال و خر دلال شی



جوهری وی د ګوهرو — خاورے اخلی کلال شی
کلالی و کلکاری کا — فروشنده د مات سفال شی
په هستیه کښے اشراف وی — په نیستیه کښے ارذال شی
د خواشیه په وقت شیر وی — په پیرتیه کښے شغال شی
چه مشهور په صداقت وی — پوچ ګوئی واخلی بطال شی
محتسب وی احتساب کا — کوتوالی واخلی کوتوال شی
نیکوکار و نیک افعال وی — بد کردار و بد افعال شی
سر نوشت د سړی ګوره — یو عیسیٰ وی بل دجال شی
چه نیک بخت وی نیکوئی کا — چه بد بخت وی بد سګال شی
لاس و پښے د هغه شه — چه خوش خوی خوش خصال شی
په هجران کښے نومید مه شه — خدائے قادر دے که وصال شی
په حرامو امیدوار شه — ګوندے هغه درپه حلال شی
کافر و باسی له کفره — په یوه ساعت ابدال شی
تور بهتر کاندے تر سپینو — په سپین مخ د پاسه خال شی
ارزومند د یوه خس وی — خداوند د ملک و مال شی
چه سیلی ئے وی کذابه — د سیلانو سره سیال شی
چه په عمر منفصل وی — په ساعت کښے اتصال شی
ممکنات په منع نه کا — که څوک سل ځله محال شی
چه د خدائے رضا شی پیښه — رمل پاتو د رمال شی
فال په څه ګورے رحمانه
خپل افعال د سړی فال شی



۳۰۳۹ ۳۵/۲۶۸ ۹

هغه زړه چه خدائے روښان کا جام د جم شی
په دا جام کښے ورښکاره تمام عالم شی
په آدم کښے د حیوان خوی بونه شته دے
بیا عالم ئے آدم بوله چه آدم شی
چه خویونه د چارپایو پکښے نه وی
سړی هوښ په سړی هم مسلم شی
چه اخومیتے ئے نباس وی د پاکانو
د ناپاکو چارے کاندی خو به کرم شی
که هر څو لذیذ طعام وی مزه نه کا
چه یوه ذره نمک ئے زیات و کم شی
ښادی هرچیرے د غم په اندازه وی
د هغو په څه ښادی وی چه بے غم شی
هر چه خپله رضا پاسلی و قضا ته
که هر څو په ځان ناخوښ وی خوښ خرم شی
عاشقی چه تر کباله ورسیږی
د خپل یار له لاسه زخم وی مرهم شی
که په ځای باندے قدم کیږدے رحمانه
نو فلکه به و لاندے تر قدم شی



۳۰۴۳ ۳۶/۲۰۵ ۷

چه مجنون غوندے یو موتے استخوان شی
په قوت د عاشقی به پهلوان شی
عاشقانو په خپل شکست کښے پرے بیاموند
دلته توان د هغو رسی چه ناتوان شی
زیړے رنګ د عاشق هسے مراتب دی
چه افتاب غوندے څرګند په درست جهان شی
له چشمانو ئے باران د رحمت وورې
زرغونه ئے په څهره باندے زعفران شی
له رخساره حال د زړونو معلومیږی
له بهاره نیک و بد د کال عیان شی
له یوے نکتے تمام علم حصلیږی
درست خروار له یوه مشته نمایان شی
پکار نه دی مخالف هزار تقریره
موافق له حاله نیم کلام داستان شی
لکه مړه له کاروباره وی وتلی
د هغو خاورے په سر چه غافلان شی
که د ډیر عمر پکار دے غفلت مه کړه
په ووده باندے سل کاله یو زمان شی
د غفلت بنیاد د اوښیو په موج خیژی
یو ځڅوبکے خواب آلود لره طوفان شی

روند په خپله عصا پر یوځي و کوهي ته
خپل دلیل دکم دلیل ذ ځان تاوان شي
سرکښي د عاجزانو په کار نه ده
هر میږے چه وزر وکاندې پښیمان شي
موم دلان ئے له شرره لمن ژغوري
سنګدلان که عین لعل د بدخشان شي
بل پوشاک ئے پکار نه وی بے نمده
هغه زړه چه آئینه غوندے روښان شي
چه کیمیا ذ قناعت ئے په لاس کښیوځي
د شرپیه په خرقه کښے بادشاهان شي
عاشقي ده ترجمله بلا په هورته
و مجنون ته دیو و دد وارو حیران شي
پر به ورکا بتان دُر د خپلو غوږو
که ئے تیر تر غوږو شعر د رحمان شي

۳۷۹ ۳۷/۲۷۰ ۱۳

د سکوت په تیغ چه ژبه بریده شي
لا قلم غوندے په قال کښے دویده شي
هسره اور د عاشقیه په زړه یوسي
چه لاله ئے له تربته دمیده شي
خم ابروئے د یار نقش وی په لیمه کښے
لکه میاشت چه په لوئے بحر کښے لیده شي



همیشه ئے د خپل یار په لوري ذو وی
نهایت چه په دا ذو کښے رسیده شي
څه حاجت دے چه زه یار وچاته ستائیم
کار همه د خپلو سترګو په دیده شي
کله وی چه یو د بل په وئیل غلیږی
مګر صافه د چا خپله عقیده شي
خود څرګند وی لکه صبح په جهان کښے
هر ګریوان چه په یاری کښے دریده شي
ابروئي د عاشق هلته ځان څرګند کا
چه ئے نم د زړه له سترګو چکیده شي
د او غټے ئے په زمکه کله لګی
هر قامت چه کمان طوره خمیده شي
بے مطلبه ئے هیڅ فهم په چا نه وی
هر طالب چه په طلب کښے فهمیده شي
هرچه زړه په مهرویانو باندے بائلی
بے درمه بے دیناره خریده شي
ما د یار په څیر بل څوک لیدلے نه دے
مګر پس له نننے ورځے افریده شي
یا به شهد یا به قند یا به نبات وی
هر کلام چه له رحمانه شنیده شي



۳۰۸۴ ۳۸/۲۷۱ ۸

د عاشق بے خپله یاره قرار نه شي
بے طبیبه قراری د بیمار نه شي
چه په لوح محفوظ کښلے لیونے وی
په تعلیم د معلم به هوښیار نه شي
د خپل پلار په غیږ کښے پروت وی روح ئے واخلي
د قضا علاج په مور و په پلار نه شي
و هغو چه خدائے کمال د حسن ورکړ
هیڅ نقصان ئے د منکر په انکار نه شي
درد و غم د عاشقیه ډیر مشکل دے
هیڅ سړے دې په دا رنځ ګرفتار نه شي
زه همه عمر دغه له خدایه غواړم
چه د یار د یار له لاسه ازار نه شي
یار له یار سره جفا کا هسے ډیره
چه هیڅ فرق ئے د اغیارو د یار نه شي
که هر څو ئے دلبری و دلجوئی کا
د رحمان په ترکو هیڅ اعتبار نه شي

۳۰۹۳ ۳۹/۲۷۲ ۹

چه سړے له بله بد وائی بدګوئے شي
لا تر بل پخوا روان د ده بدبوئے شي



مُرده شوے چه هوس کا د بل و مرګ ته
بل هم پس د ده له مرګه مُرده شوے شي
دوست دښمن د سړی واړه خپل عمل دے
هم په دا مقدار ئے اجر موئے په موئے شي
هرڅه ونه چه کیږد په هغه لور وی
عاقبت ئے پریواته په هغه سوئے شي
د اوبو اصل له خاورو پیدا کیږی
خاکسارئ د خاکسارانو په ابروئے شي
په لوی کښے نور څه نشته بے زواله
هلکان د هلکتوب په سبب لوئے شي
هومره زیان له څو که خوسه نه رسیږی
لکه څوک په ادمیانو کښے بدخوئے شي
سړی هوښ چه د سړی له تنه پاڅي
د سړیو په جامه کښے خرښوئے شي
و هغو وته چه خدائے پخپله وښوو
څه حاجت ئے د رحمان په ګفتګوئے شي

۳۱۰۵ ۴۰/۲۷۳ ۲

و

هرچه په حیات صورت له مرګ سره اشنا وی
خلاص به د قیامت له خرخښو په دا دنیا وی
سخ د هغو ګلو چه برګ ریزئے په بهار دے
ګل سرانجام وکا له خزانه بے پروا وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غفلت هیڅ تحائب نه دے په دنیا کښې
ساکن د خرابات واړه خراب وی
چه ښادي غواري بے شماره بے حسابه
په رحمان به د غمونو څه حساب وی

۳۸ ۱۳۲/۲۷۵ ۳۱۵۵

هرچه کښت ئے په باران او په سیلاب وی
د هغو عمر به واړه په عذاب وی
هغه ملک چه پکښې میند او رودبار نه وی
دهقانان به ئے همه خانه خراب وی
واسمان ته به ئے سترگے وی ختلے
د باران له انتظاره به بے خواب وی
لکه څوک چه تلوی ئے په کرمی کښے
د هغه ماهی په طور به کباب وی
لا به کله بارانونه پر نزول شي
چه نخیل و زراعت ئے پرسیراب وی
همیشه له خدایه خواست د اوبو کاندی
که ئے چرے خواست په عمر مستجاب وی
لکه تل چه ئے په زوړ د اوبو غوږ وی
هومره غوږ ئے نه په چنگ نه په رباب وی
که همه عمر باران وربان دے وورې
لا گرمی ئے په صورت کښے د افتاب وی



د گرمی او د خشکیه له دهشته
د افتاب په څیر گمان ئے په ماهتاب وی
د اوبو له ډیرے ډیرے قیمتیه
لږکی لوبني ئے مردار په منجلاب وی
فرق د پاکو د ناپاکو اوبو نه کا
که اوبه ئے گډے ورځے له پیشاب وی
د اوبو په غلا چه ورشي نه جارووځي
که ساکن د خانقاه و د محراب وی
د اوبو په ویش چه ورشي انصاف پریږدی
که په لاس ئے ورقونه د کتاب وی
د اوبو ثواب ئے نه کیږی له لاسه
که په کوټ اوبو ئے عن د حج ثواب وی
د باران امید ئے نه کیږی له خدایه
که ئے ورځ و شپه په سریانه ئے معاب وی
چه د نوکو اچولو په ځائے ورشي
تر تنخری ځان بتر کا که عقاب وی
پلیتی به ئے له تنه څنگه درومی
چه اوبه پکښې نایابے تر گلاب وی
هیڅ ئے مه پښته له غسل له اودسه
چه یو څاڅکے پرے گوهر غوندے نایاب وی
په سبب د ډیرو ډیرو تیممه
همیشه ئے سپیره بږیره په تراب وی



د للمي سرې په مخ کښې وی آب چیرے
هغه خلق چه بے آب وی خو بے آب وی
په اُبی کښې ئے لاهم وی خونه ورانه
هغه کښے چه د بل کلی پائیناب وی
یو به نه مومی هیڅ بیرے له سری ویښه
پائیناوے سرے که زویه د ارباب وی
مم حساب له عزیزانو کله مومی
تل ترتله ئے تربل لاندے حساب وی
نه طاقت د رد بدل لري نه صبر
لکه مار په ملاو هلے پیچ و تاب وی
نه ئے مرگ نه ئے فتنه له لاسه کیږی
لاس ترلے د خپل شرم په طناب وی
چه ئے زیست روزگار په کاروی تحمل کا
همیشه ئے له بد په اجتناب وی
چه د توک د اچولو په ځائے ورشي
ق له هرڅه ئے زیات په سترگو که عتاب وی
که یوه بده وینا ئے تر خولے ووځی
هغه وقت ئے په خپل ځان باندے عتاب وی
یو هغه سرے تیرے وربانے ساندی
چه په عمر نه د سوال نه د ځواب وی
همسایه وی چریکار د پښتانه شي
او په اصل به موچي یا به قصاب وی



ملائم وښل اثر په هغو څه کا
چه په زړه کښې ئے نه شرم نه حجاب وی
لکه دیو چه د سړیو په صورت شي
نه گمان کړے چه سړے دے د سه دواب وی
په هیڅ رنگ له بدو خویه نه جارووځي
هے مست د جاهلیه په شراب وی
چه اشراف د هے خرسو په لاس کښیوځی
تر و خلاص به ئے له خونه په کوم باب وی
هے رزق د خدائے ځیالره ورنه کا
که په رزق د چا په هے رنگ اسباب وی
تر دا هے زمیندارو هغه به وی
چه نوکر د یوه تور کافر کلاب وی
نوکری د یوه سپي ورلره ښه ده
هغه پریږده چه لا توم ئے د نواب وی
د خشکی له غمه قوم د رحمان خوښ دے
که رفتن ئے له جهانه په شتاب وی

٤ ۱۳۳/۲۷۶ ۳۱۶۶

د هغو چه وبله مهرو محبت وی
په هستی او په نیستی کښې فراغت وی
عاشقی ده تر هغه مقام په هورته
چه د چا مقام په رنځ و په راحت وی

څه د اور په لمبو سوے څه په واورو
واړه عشق دے که هجران وی که وصلت وی
چه مطلب او مدعا د سری خدائے شی
ناست ولاړ ئے هم واړه عبادت وی
که په دوه قدمه ومری هم حاجی شی
چاچه کړے د مکے په لوری نیت وی
هغه څوک چه پیروی د اولیاء کا
دائے واړه په معنیٰ کښے ولایت وی
که د زرو په تخت کښینی غزا وشوه
و فهیم وته کم فهمه بے عزت وی
خاورے زر په سری واړه برابر شی
هغه دم چه له جهانه په رحلت وی
د دانا او د نادان ترمیان یو حد دے
هوښیاری د حد په هورته حماقت وی
تجاوز له خپله حده پکار نه دے
د هرچا په خپله خونه کښے حرمت وی
نورعالم که د دنیا غمونه کاندی
د رحمان سره د غم د اخرت وی

۳۱۷۹ ۳۴/۲۷۷ ۳

د هغه بنا چه نوم محنت اباد وی
تروخاطر به پکښے څه رنګ دچاباد وی



په خواره او په خښته کله وینه نسی
هرمرغه چه په قفس کښے د صیاد وی
د رنځور په خوله کښے کله مزه کاندی
که سل رنګه نعمتونه ئے معتاد وی
پائے بسته ولاړه هرچرته زندان وی
هغه هرچرے ازاد وی چه ازاد وی
عشق تغیر وتبدیل نه لری یک رنګ دے
د اشنا له لاسه داد وی که بیداد وی
بنیادی بیخی هغه دے په یاری کښے
چه په یار پسے بے بیغه بے بنیاد وی
بودنی هغه باله شی په دنیا کښے
چه د تن په نابودی ئے اعتقاد وی
نقصانی دی د دنیا عمارتونه
که تر لاندی ئے سل ستونه د فولاد وی
زندګی که څوک پوهیږی حضوردم دے
اشلاه و رفته کله د چا یاد وی
دا دنیا لکه سیلاب هسے بهیږی
نه ئے چا څخه استوګه نه لستاد وی
چه کامله اراده لری په زړه کښے
د مرشد له اشارته ئے ارشاد وی
و هغو ته چه خدائے خود پخپله ونیو
څه حاجت ئے په ښوونه د اُستاد وی



ډیر یاران ورڅخه بیل شو هیڅ ګرم نه دے
که رحمان له جدائیه په فریاد وی

۳۱۹۰ ۶۵/۲۷۸ ۱

په دُنیا کښے که هرڅو وبدپیوند وی
پس له مرګه به ئے درست صورت بندبند وی
زه به وخورم په دا باب هزار قسمه
که باور د په قسم و په سوګند وی
یا به ورلندے ترتا دروهی یا د وروستو
که د ورور که د عزیز که د فرزند وی
زمانه به ئے تر پښو لاندے پائمال کا
که په قطع تراسمانه سربلند وی
هم ئے هسے پیمانه ګڼه په خاورو
که د ډکه خوله تمام عمر په قند وی
هرچه کاندی ازادی په دا جهان کښے
پس له مرګه به همه واړه په بند وی
هرچه غاړه ئے وحق ته ښیے نه وی
همیشه به ئے په غاړه کښے کمند وی
داچه زه وتاته وائیم که ئے خدائے کا
په ایات و په حدیث کښے به څرګند وی
ته چه نه کوے باور په ایتونو
ترو زما ویل به څه درلره پند وی



ناپسند په د منکر په انکار نه شی
هرکلام چه دلپذیرو دل پسند وی
خدایه ګنج د قناعت و رحمان ورکړه
چه بے ملکه بے حشمه دولت مند وی

۳۲۰۲ ۳۶/۲۷۹ ۲

که د درځه دنیا غم مے په سر بار وی
واړه سهل دے که یار راسره یار وی
هزار واره به د یار تر نامے ځار کړم
که په قطع مے دا یو صورت هزار وی
هغه نه دے په شماره د عاشقانو
چه د خپل تېر داخونه ئے په شمار وی
مشکل کار د عاشقی چه خدائے پیدا کړ
کله بل په جهان هسے مشکل کار وی
څوک ئے اوښے په مخ لاړے روڼے نه کا
د هغو ومعشوقو ته کله لار وی
ته چه ځل زما د یار په جلس غواړے
کله دارنګه ګلونه په ګلزار وی
نه موندہ شی په بازار کښے نه په ښهر
هغه رخت چه د خوبانو په بازار وی
زه د یار په څیربل نه وینم په سترګو
که په هره خوا خوبان هزار هزار وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعاشق نظر په لبو او په ډېر نه وي
دخپل یار مهر که لږ وي هم بسیار وي
شته هزار هزار خوبان ولې سوګند دے
که زما د یار په څیر په هیڅ دیار وي
ق که ئې هر زمان په اب زمزم وینځم
بې مینه مې په زړه باندے غبار وي
مرګ له ځیې سره وار نه کا رحمانه
یار به ځان تریار ورومبے کا که په وار وي

۱۰ ۳۷/۲۸۰ ۳۲۱۲

له هغو سره به څه فکر د یار وي
چه یاران ئې په هر لور هزار هزار وي
په اشنا پسې ویشتلے هم هغه وي
چه له نورے اشنائی ئې استغفار وي
صبوري او قراري دِ په ما زوم شي
که بې تا به مې یا صبر یا قرار وي
هر ژوندون د یار په وصل ښائسته وي
بې مینه که ژوندون وي څه په کار وي
که د یار له لاسه اور په یار بلیږي
ق هغه اور وعاشقانو ته ګلزار وي
په یاري کښې ازار نشته خدائے د نه کا
که ذره به زما زړه له تا ازار وي



وهغو ته عاشق نه وئیلے بویه
چه ئې فکر یا د سر یا د دستار وي
ځائے ئې اور شي چه زنار ئې شي په غاړه
ولې نه چه ستا د زلفو زنار دار وي
ستا د زلفو زنار دار که په اور سوزي
دغه اور به هم همه ستا د رخسار وي
هغه چونه به لیلے غوندے رسوا شي
چه رحمان غوندے مجنون ئې په دیار وي

۸ ۳۸/۲۸۱ ۳۲۲۰

که د ستا د خاطر مینه په اغیار وي
ستا د پاره دِ اغیار هم زما یار وي
چه سرے په یوه مخ باندے مئین شي
له یوه مخه ئې سل مخه پکار وي
هرچه کلندي نوکري د بادشاهانو
خواه نخواه د درباناتو منت بار وي
زه به ستا له رقیبانو څه مانه کړم
دا دستور دے چه له ګل سره خار وي
څو سل خاره ئې بیخ نه شي په تیتر کښې
ګله وي چه د بلبل و ګل ته لار وي
سجاده به د ساقي د لارے فرش کا
هر صوفي چه د سرو سترګو خریدار وي



په جذبه د عاشقي به لیونے شي
که په قطع افلاطون غوندے هوښیار وي
په رحمان باندے به هیڅ ملامت نه کا
هر سرے چه ستا له حسنه خبردار وي

۱۵ ۳۹/۲۸۲ ۳۲۳۵

چه په مخ باندے د اوښیو بورقم وي
عین د نورو له پرهره سره سم وي
که ګریوان مې د سپوږمي د نمر مشرق شي
زه چه یار په سترګو نه وینم تورتم وي
کړو وروځو غوندے نیش وهلے نه شي
که د زړه د پاسه پروت دچا لړم وي
دلته سر پورته کول دچا رسیږي
چه پخپله د یار زلفې خم درخم وي
قاعده د دردمندي هسے نه ده
ق چه په درد کښې یو دردمند تربله کم وي
معشوقه چه د عاشق په غم وي خوشحاله
د عاشق سترګې دِ ووځي چه بې غم وي
همدمي د دوو همدمو هسے بویه
چه د دواړو زندګي په یوه دم وي
که د دریست جهان خوښي وربانده راشي
مه کړه خدائے چه څوک بې یاره خوښ خرم وي



بل ستم د بیلتانه د پاسه نشته
که لیدلے چا په سل رنګه ستم وي
دا قضا څه په قاضي موقوفه نه ده
خود پخپله یار تر یاره پورے ګرم وي
راحت هرچرے هغو لره لازم دے
چه په درد و په محنت کښې مقدم وي
چه خوناب ئې د چشمانو مخے ناب شي
پیوسته له دغه جامه سره جم وي
هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب ته
که په اصل څوک عرب وي که عجم وي
هنرمه غواړه طالع له خدایه غواړه
بې سلیمانه پکار نه دے که خاتم وي
د رحمان خندا په اجر د ژړا ده
تازګي د ګل په قدر د شبنم وي

۷ ۴۰/۲۸۳ ۳۲۴۲

همیشه دِ زما سر او ستا قدم وي
تر هغه ساعته پورے څو مې دم وي
زه به تا هسے ګمان کړم چه بې حال یم
که نسکورے په لبانو جام د جم وي
ستا له لاسه واړه ما لره نافع دي
که مې زهر وي په زخم که مرهم وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور عالم که د دنیا په ښادۍ ښاد دے
زما زړه د مدام ښاد د ستا په غم وی
که په زړه باندے مے سل غمونه راشی
د ستا غم د ترهمه و مقدم وی
ما د خدائے د ستا له غمه بے غم نه کا
تر هغه ساعته پورے خوے دم وی
رحمان ستا په غم مین دے حق خبر دے
که په دے کښے به هیڅ ریات و کم وی

# ے

۳۲۵۳ $\frac{۱}{۲۸۴}$ ۱۱

زړه مے ورکړ و خود رائے — هر چه شوه تکیه په خدائے
په سودا د عاشقۍ کښے — یا به شاه شم یا گدائے
یا به کښینم و دوږخ ته — یا په سیورۍ د همائے
چه خدائے کا هغه به وشی — نه بل خدائے لرم نه خائے
بے دلبره به ورنه کړم — نور و هیچا د زړه رائے
پائے بوسی به ئے پریښودم — خوے رسی دست و پائے
یا خندا دوه په جهان کښے — یا ژړا دوه په واړه وائے
تر دا دوه چاروه په خوږ ته — نور څه نشته په دا سرائے
عاشق بویه چه صادق وی — نه خودکام و نه خود رائے
خدائے د نه کا څوک په عشق کښے — جو فروش گندم نمائے
زه رحمان په کار پوهیږم — که مے مل وی کارفرمائے



۳۲۶۸ $\frac{۲}{۲۸۵}$ ۱۵

که له ډیره غمه دم د چا ختے
زه به مړ وم ستا په غم کښے لړغونے
زړه مے هسے رنگ په تورو زلفو بانښلو
لکه ورک په توره شپه کا څوک کالے
په یوه ساعت مے رد هم مے قبول کا
نه پوهیږم چه ئے خپل یم که پردے
په یوه لاس ئے مرهم په بل خنجر دے
نه په مړیو کښے حساب یم نه ژوندے
که په مرگ د عاشقانو ئے رضا وی
خدائے د ما کا تر هغه وارو وړومبے
خون بها مے د ستیه په خیر نشته
ما پخپله قبول کړے دے خپل سوے
د کوم کوم نه به ادراک د یارو رسی
هر وینته ئے د کاکل شه منکرے — ق
څوک د غم زما د ډیرو اوښیو نه خوری
کم به نه کا په خوردن سره نه دے
د هجران په توره شپه کښے نه ویریږم
چه ئے نه وینم د وصل سپین سپوږمے
د یار غم لکه مزرے راباندے راشی
خدائے د ییښ په هیچا نه کاندے مزرے



چه ئے غم غلطومه د شپے پاخم
کله مے په شونډو کیږدم کله نے
که کتاب کښے رباب په لاس راواخلم
بارے دردمے په هیڅ رنگ نه کمه کښے
هسایه مے واړه ووته له خوابه
که په سل کوټو د ننه کړم زنبیر کښے
که عاشق تر معشوقے پورے یو سپے دے
خدائے د هجر په تیغ مه وژنه یو سپے
زه رحمان د یار په غم کښے هسے ډوب یم
چه هیڅ نه وینم په ستر کو مکردے

۳۲۷۶ $\frac{۳}{۲۸۶}$ ۸

چه دارو د درد و غم وی هغه مے
ساقی ماره یو دوه جامه پیا پے
مے د خپلو لبو را نه د انگورو
چه اول ئے نوشیدن وی پسے قے
په هر تیغ کښے چه آب نه وی د شرابو
څوک د غم په غلیم نه موئی بری
جام د میو چه غم خوار د کل جهان شه
زه به اوسم په دا غم کښے تا به کے
راشه یو ځله مے هسے مست خراب کړه
چه خبر نه شم له حاله د هیڅ شے



بے خودی مے پناه ده زور اوره
چه له هره غمه خلاص کاندی سړے
زه هغه تحصیل تمام کړم په عشق کښے
چه ئے روغ وکړے بولی لیونے
رحمان صلح له رقیب سره په دا کا
اشنا ښه دے البته خوږونکے سپے

۳۲۸۹ $\frac{۴}{۲۸۷}$ ۱۰

ورک شه ورک شه بد کرداره بد سړے
که د ورور که د عزیز وی که پردے
تر هغه لا نیکوکار بیگانه ښه دے
چه بدکار شی د چا زویه یا نمسے
لرګی لوښی همه واړه پر مردار وی
بدکرداره لکه سولنډ وہرے سپے
هغه خلق همه واړه لیونی کا
چه په کلی کښے یو سپے شی لیونے
بل علاج د لیونیو سپیو نشته
بے له مرګه چه پر ډک شی یو کوټے
حرام خور د غنڅو په حساب وی
که په توره یا په تیغ وی مرنے
مرنے وشلے بویه د هغه ته
چه بے وژنے ژار نه کاندی یو سے

دیگ ئې پخې په دیګدان ورومبی ترتیغ وی
چه ئې سور په اُو سرد نه شی تغره
هسې فیض ئې وهر چا وته رسی
چه بالهٔ شی دخپل وقت حاتم طے
اے رحمانه چه بدفهمه بدکردار شی
ژاته وایه هسې بهتر دے کدسرے

۳۲۹۵ ۹ ۵/۲۸۸

غم د هسې غلبه شه په ما باندے
چه مے نهٔ دته خائے شی نه ڈباندے
له زبیرګیه مے نورخلق په عذاب شه
ثل د وچو له کبله سوزی تاندے
زه د ستا په غم کښے شمع غوندے ژاړم
ته زما په ژړا صبح غوندے خاندے
زړهٔ مے هسې ستا په لوری اوبزان دے
لکه زلفے د په مخ دی اوبزاندے
ما د ستا داندیښنو په اور دی سوے
د دنیا اندیښنے وارهٔ لکه سپاندے
دا دستور دے چه یو غم په سری زور شی
نورغمونه ئې هسه شی تر پښو لاندے
هرچه ما په نصیحت له تا جاریاسی
بیا دستا په لوری دروسې لهٔ ما وړاندے



زه رحمان ئې شدنی په خان کښمه
که یار سل تاشدنی چارے راکاندے
سره لمبه کوره چه څه کا په وچ وکی
مخ د یار په رحمان هسې چارے کاندے

۳۳۰۷ ۱۲ ۶/۲۸۹

په هرځائے چه ستا ثنا شی ښیوه کرے
خر مهرے شی هلته در و مرغلرے
د هغو سترګو به اوښے وی ګهرښکے
هرچه ستا په ګل رخسار وی منظرے
هغه کله د ناصح خبرے اوری
هرچه اوری ستا ورے ورے خبرے
مرورکاندی عاشق له جمله خلقه
معشوقے له هیچا مه شه مرورے
په ساعت کښے سرے مرهم نه ژوندے کا
طائفه دی د خوبانو سحرکرے
زه خان دوب کښم به تا په خپلو ویټو
که مے دوب کا څوک په شهدو په شکرے
لرے لرے غم د وارهٔ رانژدے کړ
چه له مخه د حجاب کړ راته لرے
چه مے نوم د ستا د تورو زلفو واخست
راپیے شوے د بلا تورے لښکرے



هیڅ په حق د حقدارانو نه ګروهیږے
همیشه زما په وړی زړه منکرے
زما ستا مینه ښکرکنده په جهان ده
ولے دا رنګه ښکرکنده ګواهی نغرے
زه چه ستا له غمه ژاړم او فریاد کړم
د رقیب کره هم بدول وی هم سندرے
د رحمان شعر به ولے نادر نه وی
چه ثنا کاندے له تا غوندے نادرے

۳۳۱۶ ۹ ۷/۲۹۰

غم خواری دا هسې چرے وی غم خورے
چه ما دے وته ناست لرے ته دورے
هغه څائے چه د ستا مخ بله لمبه کړ
دا لمبه ئې کړه زما په کوکل پورے
هم هغه دی زما تورلیمه سره کړی
چه ئې ستا لاسونه سره کړه سترګے تورے
غل د سر و د مال غلا په توره شپه کا
ته په ورځ زما د سر و د مال چورے
اصیل نه دی چا پیرودی نه ئې پلوری
ته اصیل په دیدن پیرے هم ئې پلورے
دا کوم رنګ د اشنائیه د یاری دے
چه زه ستا د مخ ثنا کرم ته مے زورے



درخانۍ په سل غمونوخدائے اخته کړه
زه به ولے له تا زار کوم که کورے
زه وتاوته د ستا له جوره ژاړم
ته راواخلے سل ځلے نادرے نورے
د رحمان په عاشقۍ به افرین کړے
که لږ مخ و ائینه ته کړے وګورے

۳۳۲۲ ۷ ۸/۲۹۱

خدایه مه کړه ناامید هغه وګرے
چه امید ئې دے د ستا په کرم کرے
ستاله رحمه به زه ولے نومیدی کړم
چه د نام دے د رحیم په نام نومرے
دا نیکرے سرے ننګه د خپل نام کا
ته خو خدائے ئې چه په هیڅ نه ئې نیکرے
هیڅ بنده د په بندګی کښے لیده نه شی
چه تا خط د ازادی نه دے ورکرے
دا هسه وارهٔ شومیت دے د شومانو
ګنه نه د چا په زیرمه نه ئې سترے
چه بے تا ئې په زړه بله هوا ګرځی
تر مقصوده به وُ نهٔ رسی دوه زړے
هرچه ستا په لار قدم د راستی کیږدی
که ئې زیان وی زه رحمان ئې پوره ورے

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳۳۰ ۹/۲۹۲ ۷

دَ اشنا له لاسه ناست یم په زړه سترے
په فلوس مے په کار نه دے درست وګړے
چه په ژوندَ ئے طمع پریکړے شی له ژونده
نور به څه باندے وبریږی سر پریکړے
که ژوندون دَ عاشقانو په وصال وی
زه مهجور یم په دغه روایت مړے
خوړ ژوندون مے جدائیه هسے تریخ کړ
چه دَ غم له تلخئ دَم نه شی راتغرے
دا صورت په مثال خس محبت اور شه
ترو د اور په مخ کښے څهٔ کاندی خسرے
لاعلاج به لکه اوښ باربرداری کا
چه په پوزه ئے پیزوان شی دعشق پړے
له احوال ئے ورو ورو پښتیٔ یارانو
بیلتانه دَ رحمان وار دے خطا کړے

۳۳۴۵ ۱۰/۲۹۳ ۱۵

ماچه سترګے وکل رُخ ته واړولے
په هغو سترګو مے وینے وژړلے
دَ عمل جزا مے بیاموندہ برحقه
دا دستور دے چه کړے هغه اخلے



ترغمزو ئے یو په سله زړه قاتل دے
تل چړے تورے په کانی تیرولے
خودکرده به څه تاوان له چانه غواړی
چه ئے غوټے په خپل تیغ کړے سپینے څلے
مالا مرګ دَ ستا په مینه کښے هاله لید
چه ګدائے دَ بادشاهی لاف وهلے
له خوبانو به څوک څرنګ وفا غواړی
سروے کله کشمشی میوه نیولے
په دربار ئے سنداسی شه ورته کښینه
تار په تار دَ سر ویښته ایرے منلے
که ئے لاس دَ خدائے په کار کښے رسیدلے
بده بخره به چا چرے قبلولے
چه نیکی د و نیکانو ورکوله
دسه بدانو څه بدی نه وه غوښتلے
څوک له خاورو ایرو پاځوے تخت ورکړے
څوک له تخته دَ ایرو په ډیران ولے
ورکره راپیروده دواړه په خپل لاس دی
که وچانے ورکوے که ئے اخلے ق
خار تر هسے رنځ نیولو شه رحمانه
چه شهی ئے په پښتنه وی راغلے ق
خدائے طاعت دَ بنده څه کوی رحمانه
خو ئے مینه دَ سړی ده آزمائیلے ق



ستاچه نیت دَ اشنائی نه وو صنمه
دَ رحمان سترګے دَ ولے ند ګتړے
دَ ازل په ورځ دَ بخرو جواری وه
اے رحمانه چا بائیلوے چا ګټلے

۳۳۵۵ ۹/۲۹۴

هسے ډوب یم ستا دَ غم په دریاب تلے
چه ماهی غوندے بے تیغه یَم کوتلے
مالیدے لیندے چه لندیو به راکښلے
تا دَ وروځو په لیندو یم زه راکښلے
په خیل ځان مے تر هغه پورے نظر وو
څو مے ته په نظر نه وے کتلے
اوس مے ستا په مینه ځان وجهان هیر شه
دَ سیلاب په ځکښے لاړم لکه خلے
عاشقی به ئے دَ باد په مخ بهیه کا
که چاځانئے وی کوه قاف غوندے نیولے
چه دَ عشق له بحره روغ سلامت ووځی
زه ئے نن ګنم له موره زیږیدلے
هرچه واوری په بلا دَ تورو زلفو
هغه بیا تر کوره نهٔ دے ورغلے
چه له غرونو پریوتلے وی بیا پاځی
پاځیدے نه شی له زړونو پریوتلے



چه دَ اور لمبو وهلے وی بیا روغ شی
نه رغیږی دَ ازار لمبو وهلے
زه رحمان ئے هر دم ویم ستا په غم کښے
که خپل مرګ په سترګو نه دے چا لیدلے

۳۳۶۳ ۲/۲۹۵ ۸

نه چه خپله بے عقلی هوښیاری بولے
کشکے بیاموے دَ خوبنتو په نرخ شولے
عشق یو داد دے په عاشق باندے لدخدایه
هسے نه دے چه ئے پیرے یا ئے پروے
زلیخا غوندے به بله شیدا نه وی
که دَ مصر مستورے شی واړه تولے
هغه بحر څه په بحر حساب نه دے
چه اوبه ئے خاک لوده وی ختولے
له هغو سره به څه فکر دَ یار وی
چه په غم وی دَ کاله یا دَ کهولے
عاشق دَ خیل نغری په غاره نه شی
څو په یار پسے واخلے څلے خولے
دَ وصال په نعمتونو غره مه شه
جدائیه خلق کړے په زړه زمولے
دُر ګوهر په تله نه دی چا تلی
دَ رحمان شعر ګوهر دے څه ئے تولے

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢٣٧٢ ٣/٢٩٩ ٩

زه دَ ستا له غمه زارم وارِه ويښے
وارِه ويښے وارِه ويښے وارِه ويښے
خود مے ويښے چه په تش کاته دِ مړيم
لا خنجر په کافی مږوے دِل سگينے
هر زمان مے په حضور دَ سترگو وژنے
لا يقين به دَ زړه نه شی بے يقينے
عالم ستا په مينه ژوی نه پوهيږم
زه په څه سبب وژليږم ستا مينے
دير عالم په نمری رنگ کا معلوميږی
تا چه هسے چاره واغوستے رنگينے
پښے نه وی چه وبله خواته دروځی
هسے سکنی په غمزه دَ عاشق سينے
که صورت مے پربله پوښے معلوميږی
زړه مے ستا له غمه چاود دے نازنينے
هغه څوک دے چه تر تا به بهترين وی
اے تر وارِو مهرويانو بهترينے
چه د زلفے دَ رحمان په زړه ورځم کړے
تر بهتوئے ځکه څاڅی اوبه سينے

٢٣٨٥ ١٤/٢٩٧ ٣

هسے رنگ نعمت ورکړے خدائے وما دے
چه هيڅ بهائے نشته بےبها دے



يو څو دا چه ئے په شکل دَ آدم کړم
دوئم دا چه محمدﷺ مے رهنما دے
لاس وپښے وغوږ وسترگے خوله وژبه
يو صورت مے په څو اسمه مسمیٰ دے
اسمان زمکه نمر سپوږمی و روښان ستوری
درست جهان مے و نظر ته تماشا دے
شپه و ورځ دَ ماه و مهر له پرتوه
ځ دَ مکے راته درست نقره طلا دے
په شپه مشک په ورځ کافور راباندے ووری
درست صورت مے پکښے دوب ترسرو پا دے
چه هر دم زندگانی بخښی وما ته
هر نسيم د يار له لوريه مسيحا دے
دَ چمن و سرو گلونو ته چه گورم
هر هر گل راته له ورايه په خندا دے
د گلگونو ميو تاوے راته ناسته
زنگاری قميص اغوستے وَمينا دے
خپلے ويښے په ورغوی کښے نيوے
هر ساغر دَ مے پرستو جان فدا دے
دَ شنه رود په غاړه ناست سرود په لاس کښے
هر مطرب لکه بلبل هسے گويا دے
سپين مخونه سرے لښتيه دَ دلبرو
هر ديدن ئے دَ افتاب په څير رڼا دے



چه دا هسے معرفت ئے پر پيژنو کړ
په رحمان باندے منت دِ يک مولا دے

٢٣٩٩ ١٥/٢٩٦ ٤

يو يو داغ په تمثر پښے دَ هرچا دے
که بادشاه دَ ولايت دے که گدا دے
سيرابی په سرچشمه دَ دُنيا نشته
تشنه لب ئے گوښے گوښے په غوغا دے
لږ راحت ئے په ډير ډير زحمت موندہ شی
دَ دے دهر خس حرام شکه وبريا دے
د دنيا ښادی بے غمه موندلے نه شی
لږ خيرات د شوم له کوره په بلا دے
فراغت پر باندے ولے حرام نه وی
چه داخل په سرائچه د دے دنيا دے
دَ مجنون د حال پښتنه به څوک څه کا
جهان وارِه کوراکور مجنون ليلیٰ دے
عشق يو هسے رنگ افسون په عالم يو کړ
چه عاشق په تورو سترگو نابينا دے
وهرچا ئے بخره ورکړه گوښے گوښے
خپل قسمت دَ هر سړی جدا جدا دے
ورکړه ده پير وده تول دَ بل په لاس دی
ولته دخل نه زما دے نه دَ ستا دے



په هر کار چه دَ صاحب دَ زړه رضا شی
په بنده که ناروا وی هم روا دے
خواه ناخواه که ئے رضا وی که ئے نه وی
دَ قسمت رسد رضا و نارضا دے
خان ايمان سپارلے يو يه وهغه ته
چه ئے حکم جاری شوے په هرچا دے
دَ هرچا په لاس چه حکم حاکم ورکا
جهان وارِه دَ هغه په مدعا دے
چه مولی ورسره مل نه وی رحمانه
که لښکرے ورسره وی يک تنها دے

٢٤٠٥ ٢/٢٩٩ ٩

دا چه مست په ميو رالخے يار دَ چا دے
بيا به تاخت کا په کوم غوني وار دَچا دے
چه زړه سوے ئے دحرم په صيد نشی
دا د غشی بے صرفه گوزار دَچا دے
ما خو به وهِے څوک نه دی ازار کړی
دا چه ما ازاره وی آزار دَ چا دے
چه ئے درست جهان دَ مخ په رڼا زيست کا
دا افتاب غوندے روښان رخسار دَچا دے
چه بلبل ئے بسيدے تر گله نه شی
دا دشه په حرم گلزار دَ چا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لري رحمانه
دا نا ترس و بې پروا نګار د چا دے

۳۴۳۴ ۱۷/۳۰ ۹

غواصان که ګوهر غواړي ګوهر دا دے
بیدلان که دلبر غواړي دلبر دا دے
زما یار خوندے به بل یو دلبر نه وي
د جمله و دلبرانو سرور دا دے
خوند د لبو او د چه زنخدان نے
داشي کوثر زمزم دا دے کوثر دا دے
چه د وصل او هجران وته نظر کړم
زه ګمان کړم جنت دا دے سقر دا دے
ته خطبه په منبر څه لولے خطیبه
قدم کیږده په خان باندے منبر دا دے
د کښې سفر اسان دے مرد هاله نے
که له خانه سفر وکړے سفر دا دے
هر منعم چه دلجوئي د قلندر کا
هغه نه دے قلندر قلندر دا دے
چه توانګر د قناعت په خزانه شي
بل توانګر په جهان نشته توانګر دا دے
دا هنر نه دے چه خاورے څوک سره زر کا
چه زر خاورے کا رحمانه هنر دا دے



۳۴۲۹ ۱۸/۳۰۱ ۲

د ساقي په لاس کښې جام د میو ناب دے
مطرب ناست په زانو باندے رباب دے
محتسب په رقص ګډ شه پائے کوب کا
صوفي پروت په میخانه مست و خراب دے
په رقیب باندے غفلت راغے ووده شه
یار پلو له مخه واخست بے حجاب دے
ته چه ما وته توبه وائے ناصحه
په دا وقت کښې چا څخه د توبے تاب دے
زه چه خان منع کوم د عشق له کاره
په دا هسے کار کښې کوم سود و ثواب دے
دا اسمان چه لوئے په عقل کښې بالا شي
په محیط د عاشقۍ کښې یو حباب دے
هرچه ژغوري سر و مال په عاشقۍ کښې
هغه کړے کور په مخکښې د سیلاب دے
ته چه خوب غواړے په عشق کښې راته وایه
کوم چا کړے د مزرۍ په خوله کښې خواب دے
بے عمله که کتاب کیږدي په سر څه شو
ګویا ښه ئے تر ښو لاندے کتاب دے
چه د شر له عملونو خیر غواړي
تشنه لب غونده دے سیر شوے په سراب دے



د دښمن له مکاریه ووېرېږه
په نرمۍ ئے غلط مه شه سنګ دراب دے
عبادت په شتاب هسے کړه رحمانه
لکه عمر چه د تلو نے په شتاب دے

۳۴۳۳ ۱۹/۳۰ ۷

هغه زړه چه ستا د عشق په اور کباب دے
که مرهم ورباندے کیږدے ډیر ثواب دے
حجابونه له اغیارو مناسب دي
له یارانو په یارۍ کښې څه حجاب دے
بے له تا چه ښائسته ئے بے حسابه
نور ښائست د جهان وار په حساب دے
ښاپیرۍ که هر څو ډیرے ښائسته دي
په صفو کښې هم ستا حسن انتخاب دے
لکه ګل چه تر افتاب پورے تجل دی
دغه هسے ستا ترمخ پورے افتاب دے
دا د میو د مستیه سرخي نه ده
تیغ د سترګو د په وینو کښې غرقاب دے
زه رحمان په څه خواب کوم و یار ته
و ژوندیو ته د مړیو څه خواب دے



۳۴۳۹ ۲۰/۳۰۳ ۹

چه تر سنګ و تر اهنه ئے زړه سخت دے
زړه هغه لره ورکړے ما کم بخت دے
خدایه کله به هغه باغیان را ایل کړے
چه لوټلے ئے زما د خاطر رخت دے
همره غم به نور په هیڅ باندے نه وي
لکه غم چه د خپل یار په ما یک لخت دے
مګر بیا په تیره تیغ شي یار له یاره
ګنه بناخ له خپله درخته سره درخت دے
د پهلنګ او د پیریه حاجت نشته
د یارانو نشستن د زړه په تخت دے
چه له ډیره غمه وقت پیژندے نه شي
په رحمان د یار له غمه هسے وخت دے

۳۴۵۵ ۲۱/۳۰۴ ۷

که ئے مهر و محبت که ئے عناد دے
ما د یار په یارۍ کړے اعتقاد دے
لکه زه چه په خپل یار باندے مئین یم
یو په سلو د یار مهر په ما زیاد دے
زه و یار که په تن دوه په معنی یو یو
هزار خونے واړه یو ښهر بغداد دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ بېلتون زما د یار وبله نشته
کار هسې واړه موقوف په خپل میعاد دے
زړه خپل اه آتشین له خدایه غواړم
د آشنا خاطر که موم دے که فولاد دے
په جذبه د عاشقۍ که برهم نه شي
ق
بې دادي د مطلوبانو واړه داد دے
هیڅ موقوف د معشوقو په حُسن نه دے
د عاشق خاطر په خپله مینه‌ باد دے
چې د آه و د فریاد طاقت ئې نه وي
هر سکوت د بې طاقتو آه فریاد دے
سل په دا رنګه توموته د عشق نور دي
لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد دے
چه ئې زړه شي هلته کښېني هلته پاتې
عشق د عقل و د هنر کره داماد دے
بادشاهان په عاشقۍ کښې ملنګان شي
ما و تا غوندې وګړې د چا یاد دے
چه پرېشان د یار د زلفو په څېر نه وي
جمعیت د هغو زړونو لوئې فساد دے
که رښتیا له خرابیه سره ګنج وي
خرابات د بې بنیادو بېخ بنیاد دے
که کمال د کښېنې په اندازه وي
فوقیت د شاګردانو په استاد دے



چه به یار پسې ترخان و جهان تیر شي
په رحمان زموږه هسې اعتقاد دے
چه دا نور شاعران کاندي هغه نه کا
رحمان کړې نوې نوې اجتهاد دے

۸ ۲۲/۳۰۵ ۳۴۶۳

ستا د لاسه په ما جور دے که داد دے
زما مراد خو واړه ستا د خاطر مراد دے
ستا په مینه کښې زما له مخه تښتي
که آفت دے که اسیب دے که فساد دے
هر اصلاد چه راکاوه شي ستا په مینه
په لیمه زما قبول هغه اصلاد دے
که تمام جهان مې پرېوځي په لیمه کښې
بې تا نه راځرګند یوی نه مې یاد دے
ما چه غوږ د ستا د عشق په ترانه کړ
نصیحت مې نور د زړه په غوږ و باد دے
اوس زما له ننګ و نامه سره څه دي
چه د نام د عاشقۍ را بانده زیاد دے
هر ګلشن چه له ګل رخه بې بهره وي
د عاشق په نظر غولے د صیاد دے
د رحمان و توان نه ګوره هو مره ناز کړه
څه د اوسپنو روغ نه دے آدم‌زاد دے



۱۱ ۲۳/۳۰۹ ۳۴۷۴

دُنیادار که دُنیادار په سیم و زر دے
هنرمند و سره ګنج د خپل هنر دے
بېهوده به زوراور و خان نه وائي
د دنیا سړے که هر څو زوراور دے
هسې مه وایه چه زه یم په جهان کښې
پیدا کړے خدائې د سر د پاسه سر دے
څنګه څنګه ئې ولیان پیغمبران کړه
نه چه هر یو اولیا او پیغمبر دے
جو دانه قدرې یو لعل یکښې پیدا کا
نور جهان واړه د تورو کانو غر دے
یو بادشاه وي چه لښکرې پسې درومي
نه په هر چا پسې کړے خدائې لښکر دے
پیدا کړي خدائې سړي په تفاوت دي
هسې نه چه جهان واړه برابر دے
که د عمر و رفتن نه څوک نظر کا
دا به وائي چه آفتاب د نماز‌ ګر دے
چه ئې سر په زمکه پېښې وي و یار ته
په آسمان باندې ئې ځلې لکه نمر دے
نه زما په ډېرو اوښیو عیب مه کړه
ما موندلے په دا بحر کښې ګوهر دے



د ریا خرقه ئې خدائې مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلے قلندر دے

۸ ۲۴/۳۰۸ ۳۴۸۲

ق
زړه مې ستا د غم و غشیو ته سپر دے
بیا دا سپر په معنی امن د خطر دے
چه د یار له لوریه غشي په یارۍ کښې
هغه غشي غشي نه دے نیشکر دے
د دنیا ښادي همه غم ژړو وکړه
بې روڼې عالم له عیده څه خبر دے
که ستا هیڅ په ما پورې نه دي دلبره
خدائې ګو ما لره بې تا د دین ضرر دے
که ظاهر په صورت یم په معنی نه یم
لکه حرف چه د لا کښې په دفتر دے
بې له اسمه مې نور هیڅ نشته له جسمه
د لام په خوله د نورو مکرر دے
خو ستا قد زما په سترګو کښې خدائې نقش کړ
ګنې دلته یو ونښته په مثال غر دے
د رحمان عقل تر خارشه څو څو واره
هر کم عقل چه د ستا په عشق اوتر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ ۲۵/۳۰۸ ۳۴۹۰

په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دے
همیشه مې په زړه پروت انبار انبار دے
که رهبر دے ګمراهانو لره خضر
عاشقانو لره خضر ستا رخسار دے
ګوندې چرې څوک د خدائے په در قبول وی
ستا له لاسه مې فریاد په هر دیار دے
د شهید و پرهارونو ته نظر کړه
هسې رنګه مې له دوه سترګو خونبار دے
چه د غم په بار نے زړه دے زما لښے
هم هغه مې په زړه کښې په بار بار دے
چه هردم مې د غمزے په توره وژنی
لا مې زړه د هغو سترګو منت بار دے
دا اسمان و د هغو په مدعا وی
چه په ما باندې نے کړے ستا اختیار دے
که یار سل ځله جفا ورسره کاندی
د رحمان دا هسې کلک اعتبار دے

۱۱ ۲۶/۳۰۹ ۳۵۰۱

کیمیا یو نادر کار دے — چه کمال نخنے اظهار دے
چه اختیار نے کیمیا کړو — په دانه کښې پټ خروار دے
چرګ په دوه پیسے حلال شی — باز په سل روپی مردار دے



فقیران د خان څواب کا — شاه د خلقو تاوان دار دے
چه اسمان شه سرګردان شه — چه زمین شه برقرار دے
جهان واړه زمکے وخوړ — کیمیا عجب لوئے کار دے
لښتر کوره سرکشی کا — انګور کوره نګونسار دے
ذره ضعف شوه افتاب شوه — ابر غورب دے غبار دے
کوه بلند شه سیه سنګ شه — لعل وو ړشه بزرګوار دے
لوئے اسمان توره تبی شه — هلک نمر غوړه انوار دے
وو ړ سرے ګوره رحمانه — چه لوئے فیل نے بار بردار دے

۹ ۲۷/۳۱۰ ۳۵۱۰

ستا له غمه مې په سر کښې هسې شور دے
ګویا میشت مې په سر ښهر د لاهور دے
په افسون او په جادو د تورو سترګو
خراب زړه مې له جمله عالمه تور دے
که مې زړه له غمه څوی راشه واٸی
غم د هجر دغه مه ګڼه لا نور دے
د هجران په بیمارۍ کښې را معلوم شه
چه الحیته مې انار د پلار و مور دے
درد و غم د عاشقیه ډیر مشکل دے
خدائے ورکړے وُ داناو دا سوراور دے
دا دنیا په مثال کور دے د غمونو
چه په هسې کور ناز پری هغه کور دے



داجهان نه د چا خپل دے نه به خپل شی
چا په خپله رضا پریښوو چا په زور دے
چه د مرګ په پور وړیو کښې یو ومری
دے د وارو پور وړیو نوځے لو وروور دے
که رحمان په عاشقی بې عزت کیږم
ما په سترګو قبول کړے دا پیغور دے

۹ ۲۸/۳۱۱ ۳۵۱۹

چه د څنګه مې دلبر په لاس نے جام دے
نن اورنګ د زمانے زما غلام دے
مدام کله وی دنیا د دنیا دار و
بې له عشقه چه دولت نے مستدام دے
دا هارون څرخ پائے ښیځه د دے سپهر
څو به دو کا چه نے دو په سر د بام دے
د دنیا چارے په مثل دی د سیوری
د افتاب په څ د سیوری څه مقام دے
که نے صبح بشاشته ده خنده رویه
بیا نے هسې په هر صبح پسے شام دے
نه په مهر کښې ارام شته نه په ماه کښې
په دنیا راغلے هر یو بې ارام دے
نه چه خپل فراغت غواړے په جهان کښې
فراغت خاطر راو بښیه کدام دے



صورت روغ د خاورو خامو دے رحمانه
چه په خامه چار ناز پری هغه خام دے
بې غمی په دنیا چرے ده رحمانه
یو بې غم څو څوک راو ښیه کدام دے

۷ ۲۹/۳۱۲ ۳۵۲۶

ما د ستا لمن نه اچولے دا خپل خان دے
ستا دے زما نه دے که دانا دے که نادان دے
خپله سرکشی نوئی مې واړه فراموش شوه
هسې مې زړه ستا و لوئے قامت و تمحیران دے
بې تا که ګذر په ګلستان کرم د ګلونو
نه پوهیږم صبح چه ګلستان دے که زندان دے
چا پیژندم زه چه عاشق نه وم په جهان کښې
اوس مې ستا د رویه نوم رسوا په درست جهان دے
ډیر هڅولی تیرشو د مجنون سبب نام و نقشه
عشق دے چه عاشق لره هم نام دے هم نښان دے
لوئے ترکوم چینی دے پروانه چه افسانه شه
واړه په سبب د عاشقیه نمایان دے
واړه د خپل ځان په نظر کوره که دانا نے
اے عبدالرحمانه جهان درست عبدالرحمان دے

۲۱ ۳۰/۳۱۳ ۳۵۴۷

زړه مې ستا په ذکر فکر ګلستان دے
تن مې ستا له غمه پاڼه د خزان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د غم له بحره هسې بهره مند یم
چه په سترګو کښې مې جوړ د دروګان دے
ستا کتومې عجب زخم په زړه وکړ
چه هم وینې تر بهیږي هم خندان دے
هسې رنګ مې د خپل زړه له وینو واخست
چه ځان درست راته په شکل د جانان دے
که د ستا د زلفو مار کاندي څو ټوټه
ما موندلے څخه عمر جاودان دے
خندګړي که هرڅو ترخ و تلخ وایه شي
ستا د لبو په مدد آبِ حیوان دے
اشنائي ترجدائي کمزورے نه ده
معطر په بوي د مصر درست کنعان دے
لکه نمر په خلورم آسمان لیده شي
محبت په سل حجابه کښې عیان دے
نور د شمع په فانوس کله پټیږي
عشق د عقل په پرده کښې نمایان دے
که د ستا په مخ کښې بوي د حجاب نشته
زه له ویرے ځله وایم چه نهان دے
طاؤس رنګ زلفے چا دي سهي کړے
چه هرموے ئے په څو رنګه په څوشان دے
بے پردے به حُسن نه وي چا لیدلے
که څوک وائي چه لیده شي تش ګمان دے



بنادې غم غونډ ے آسانه مونده نه شي
سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دے
که وصال په هر زمان وے هسے دریغه
لکه غم چه د هجران په هر زمان دے
بے د ستا له ملاقاته چه مشکل شه
نور مشکل واړه په ما باندے آسان دے
هم په دا راته آسان شو نور غمونه
چه ستا غم د حد په هورته راته ګران دے
یو نفس به د له دره بېرته نه شم
څو مې یو نفس باقي په دا جهان دے
قافله د صبر هیڅ ونیسا پرے نه کا
ستا له غمه مې منزل د زړه ویران دے
لکه سرو سامان ستا د زلفو نشته
هسې زړه زما بے سر و بے سامان دے
لکه تا چه تور ګیسو په مخ پریشان کړ
هم مې هسې خراب زړه پسې پریشان دے
خوار خاطر به د رحمان سلامت څوک وي
چه ګذرئے ستا په چاه زنخدان دے

۳۵ ۳۱/۳۱۴ ۳۵۸۲

په نامه د هغه خدائے مې دا بیان دے
چه یو نوم ئے په نومونو کښې سُبحان دے



هم بادشاه دے د جملهٔ بادشاهانو
هم د هر یوه سلطان په سر سلطان دے
هغه کار چه و هر چا وته مشکل وي
هغه کار واړه وَ دهٔ وته آسان دے
څوک آفتاب شي په آسمان راخیژولے
ده آفتاب راخیژولے په آسمان دے
څوک د نمر په مخ حجاب شي غوړولے
ده پټ کړے نمر په ابر کښې نهان دے
څوک په شپه کښې شي مهتاب پیدا کولے
ده په شپه کښې پیدا کړے مه تابان دے
څوک یو څاڅکے پرے پېښے شي له آسمانه
نزول کړے دهٔ په موډ بلدے باران دے
څوک له اوره شي اوبه پیدا کولے
دهٔ له اوره پیدا کړے زمستان دے
څوک شي روح نه پېښے په یوه ماشي
ژوندی کړے دهٔ په روح تمام جهان دے
څوک و سنګ شي رنګ د ګلو ورکولے
دهٔ و سنګ ورکړے رنګ د ارغوان دے
څوک له خاورو شي یو ګل پیدا کولے
دهٔ له خاورو زرغون کړے ګلستان دے
څوک له سنګه شي ګوهر پیدا کولے
دهٔ له سنګه پیدا کړے دُرّ مرجان دے



څوک شي رزق و هر مخلوق ته رسولے
دے د هر یوه مخلوق روزي رسان دے
څوک بنده لره ایمان شي ورکولے
دهٔ ورکړے هر بنده لره ایمان دے
څوک له زمکے و آسمان و ته ختے شي
دهٔ عیسیٰ لره ورکړے دا مکان دے
څوک له خدائے سره خبرے شي کولے
دهٔ موسیٰ مشرف کړے په دا شان دے
څوک یبُودے په توسن د هوا زین شي
پښه دهٔ په هوا تخت د سلیمانٔ دے
څوک په سپینه بیره پاتې تر قیامته
دهٔ په خضرٔ باندے کړے دا احسان دے
چه په دهٔ شي هغه کار په هیڅ نه شي
هر توانا د دهٔ تر توان پورے ناتوان دے
په لوبو کښې ئے د کاني کوټ بنا کړ
دهٔ ورکړے پکښې لور لره امان دے
په سجده ئے زمکے سر دے لګولے
هم ئے زوړند په رکوع سره اسمان دے
سره ونه په قیام ولاړه ولاړه
هر ګیاه ئے په تسبیح سره زبان دے
همه واړه په تسبیح د دهٔ مشغول دي
که سرے دے که پیرے دے که حیوان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ماهي ئې په درياب کښې حمد وائي
هر مرغه ئې په چمن کښې ثناخوان دے
حق په حق ثنا ئې هيڅ کړے نه دۀ
نۀ له هيڅا واقع شوے دا بيان دے
مخلوقاتو هسے نه دے پېژندلے
لکه دۀ ځنګه چه قدر دخپل شان دے
حد پايان ئې هيڅ سړي موندلے نه دے
معرفت ئې هسے بحر بے پايان دے
نۀ هيڅوک ذ دۀ په څير ذ دۀ په شان دي
او نۀ دے دچا په څير ذچا په شان دے
نه ئې زيان نه ئې زوال نه ئې نقصان شته
دے بے زيانه بے زواله بے نقصان دے
نه ئې مثل، نه مثال، نه ئې مکان شته
دے بے مثله، بے مثاله، بے مکان دے
پاک ئې وګڼه بے شکه بے ګمانه
له هغو چه دچاشک ذچاګمان دے
نه ئې څوک په سترګو وينې نه ليده شي
او بے چونه بے چګونه نمايان دے
که څوک وائي ليده نه شي ليده نه شي
او که وائي وهرچا وته عيان دے
منزه دے له جمله وُ جهتونو
او بيا هر جهت په دۀ باندے ودان دے



له هزارو صفتونو باور وکړه
چه ئې کړے نيم صفت عبدالرحمان دے

۲ ۳۲/۳۱۵ ۲۵۹۴

په دُنيا کښې که څه کار دے خو ذ دين دے
ذ دے کار په کنندهٔ وُ افرين دے
چه تقوٰي او دينداري ئې شي په برخه
ذ هغو ذ سعادت ستورے قرين دے
قناعت ئې هسے خوند په خوله کښې کښېښوو
چه ورم ټوک ئې په دهن کښې انګبين دے
بے عاتيانو بے اوښانو بادشاهي کا
ذ زاړۀ پوزي ټوکرے ئې قالين دے
چه په خواست د حاجت پوره کالاسونه
ذ اسمان ذ ملائکو پر امين دے
چه قبوله کهتري کا په دنيا کښے
ذ هغو په بهتري باندے يقين دے
تل ذ لوړے اوبه درومي و ژور ته
حق تعالٰی کمال ورکړے وکمين دے
خاکساري ذ خاکسارانو مرتبه ده
کۀ زړوکي ئې څيرن وي زړۀ ئې سپين دے
ذ سرکښو سر کۀ ورشي ترلمانه
په دوه ورځے پس ئې ځائے زير زمين دے



چه بنيوه په سرکښي او په لوئي سا
ذ رحمت لائقت نه لري لعين دے
که صورت ئې ذ سړي باله شي څه شو
په معنٰی کښې سړے نه دے شياطين دے
ذ رحمان ځنه متاع ذ دُنيا نشته
شکر دا چه نۀ خود رائے و نۀ خودبين دے

۳ ۳۳/۳۱۶ ۳۶۰۷

زۀ بُلبل ستا ذ وصال يم بوستان څه دے
ستا ذ وصل په نسبت ګلستان څه دے
چه اشناشي ستا له درۀ له ديوارۀ
انتظار ئې په روضه ذ رضوان څه دے
چه روزي ئې شهادت شي ستا له تيغه
احتياج ئې په چشمه ذحيوان څه دے
چه مسکن ئې ذ زړۀ ستا ذ زلفو خم شي
وهغو ته ذ عطارو دکان څه دے
هر چه لاندے خپل صورت ترخپل قدم کا
عرش ئې لاندے ترقدم شي اسمان څه دے
بوالهوس که بوسه غواړي له تا څه شو
هر رنګ هر رنګ وئيل کاندي نادان څه دے
زه چه ستا له غمه ژاړم اه فرياد کړم
برق و رعد چکاره دے باران څه دے



خان جهان مے هسے ستا په مينه هېر دے
نه پوهېږم چه خان څه دے جهان څه دے
ته چه نه ګورے وماته لږ مے پوه کړه
په دا کار کښې ذ ضرر او نقصان څه دے
که ستاسترګے دي قاتلے زه مقتول يم
وايه نور ذ په خاطر کښې ارمان څه دے
زه بے صبره يم که مهر ذ ستا نشته
له دے دواړو ذ په زړۀ کښې ګمان څه دے
چه مے وينے ترو ئے شه پښتے له حاله
له عيانه احتياج ذ بيان څه دے
هرچه وائے ستا رسي ذ رحمان غاړه
و توانا وته حجت ذ ناتوان څه دے

۱۰ ۳۴/۳۱۷ ۳۶۱۷

ذ عاشق نظر په خوړو و په خواب نه دے
مراد ئې بے ذ يار له بابه بل باب نه دے
ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه
دا اسباب ذ عاشقيه اسباب نه دے
چه ذ يار سره حساب د دنيا کاندي
دغه هيڅ په عاشقي کښې حساب نه دے
چه عاشق په عاشقي کښې ارباب نه وي
کۀ ذ درست جهان ارباب شي ارباب نه دے

هرچه یار منع کوی له خپله یاره
دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دے
دا حجاب چه عام عالم ئے حجاب بولی
دا زما د یار ترمیانه حجاب نه دے
که ثواب دے هم سیوا د یار له مخه
ما ګڼلے دا ثواب په ثواب نه دے
که لیدلے زلیخا یوسف په خوب دے
ما په ویښه دے لیدلے په خواب نه دے
صبر وشه په مخ کښے که مراد غواړے
هیڅ کړے دغه کار په شتاب نه دے
رحمان سوال د بوسے کړے دے له یاره
لا ئے هیڅ څخه موندلے جواب نه دے

۷ ۳۵/۳۱۸ ۳۶۲۴

هغه یار چه بے وفا دے څه یار نه دے
هغه کار چه بے بقا دے څه کار نه دے
که د سر بښندل دشوار په ما او تا دی
دا په عشق کښے سهل کار دے دشوار نه دے
اندیښنه سړے بیدار کاندی له خوبه
کم اندیشه که بیدار دے بیدار نه دے
که څه عمر دے عاشق لره وصال دے
د هجران عمر په عمر څه شمار نه دے



د چشمانو په خپل کښے تیرو بیر شی
اعتبار د زمانے اعتبار نه دے
که د سلو زړیو پلار شے به ئے څه کړے
بے وقوفه زړیه زړیه د پلار نه دے
معشوقے همیشه ناز په عاشق کاندی
رحمان هیڅ له خپله یاره ازار نه دے

۶ ۳۶/۳۱۹ ۳۶۳۵

په تلخئ د میو هرڅوک میخوار نه دے
هغه خار چه بوئے د ګل لری خار نه دے
هر نګار چه بے وفا وی نګار نه دے
په ګلزار کښے چه ګل نه وی ګلزار نه دے
دینداری دنیا داری دی و بله لرے
مالیدلے هیڅ دیندار دنیادار نه دے
که روزګار دے په جهان کښے عاشقی ده
د دے نورعالم روزګار څه روزګار نه دے
چه بنائے د تصدیق محکمه نه وی
دا ظاهر په خوله اقرار څه اقرار نه دے
په هر زره چه د خپل یار د غم غبار وی
دغه ابر د رحمت دے غبار نه دے
چا به کسب د عشق نه کړ بارے څه کا
چه دا ګنج و هر یوه ته اظهار نه دے



معشوقے وفا له هیڅا سره نه کا
ګڼه کوم یو د دے رخت خریدار نه دے
د خپل یار وصال د خدائے په دادمیده شی
دغه کار د هیڅ بنده په اختیار نه دے
که یار سل ځله وعده د وصال وکړه
د رحمان په ترکو هیڅ اعتبار نه دے
په رحمان باندے منت د خپل محبوب دے
د بے حسنو معشوقو منت بار نه دے

۱۰ ۳۷/۳۲۰ ۳۶۴۵

د عشق زخم څه د زخم په مثال نه دے
د بل زخم په شیر سهل واسان نه دے
عاشقان او معشوقے سره یو هیږی
دغه راز و نور عالم ته عیان نه دے
عاشقی نه ده که ګورے حیرانی ده
کوم سړے په دغه کار کښے حیران نه دے
یو عاشق د څوک راوښئ په عشق کښے
چه ئے رود په مخ د اوښیو روان نه دے
هوصره اوښے د عاشق په ګریوان دروی
ته به وائے چه یوسیند دے ګریوان نه دے
دا هجران دے چه ئے مرګ په عاشق ګران کړ
که هجران ورسره نه وی هیڅ ګران نه دے



نور غمونه که په ځان د سړی بد وی
غم د ترکو بد د هیچا په ځان نه دے
د دوزخ اور که ډیر تاؤ لری دے ګرم
برابر د بیلتانه له تیران نه دے
که بالله شی څوک په عشق کښے کم عقل
دا کم عقل ډیر هوښیار دے نادان نه دے
چه بے یاره وجهان و ته نظر کړم
رحمان وائم چه ویران دے ودان نه دے

۳۸/۳۲۱ ۳۶۶۷

که د خلقو و نظر ته ادنے دے
خوار عاشق د معشوقے د کوڅے سپے دے
هر چه ځان د یار په سپیو کښے داخل کا
ترو هاله به ورته وائم چه سړے دے
ما د خدائے د یار له غمه بے غم نه کا
دا په ملک د عاشقئ کښے لوئے ورانے دے
زه د یار په غم کښے زیړه ځهره خوښ یم
دا زما خزان خزان نه دے پسرلے دے
زه ژوندون د یار د وصل و ته وائم
ګڼه هر یو دوزخی په ژوند ژوندے دے
نه چه ما منع کوے د یار له دره
کوم یو در له دغه دره بریالے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



معشوقې وفا له هیڅا سره نه کا
ګڼه کوم یو دَ دې رخت خریدار نه دے
دخپل یار وصال دخدائے په داد موندے شي
دغه کار دَ هیڅ بنده په اختیار نه دے
که یار سل ځله وعده دَ وصال وکړه
دَ رحمان په ترکو هیڅ اعتبار نه دے
په رحمان باندے منت دخپل محبوب دے
دَ بے حسنو معشوقو منت بار نه دے

۳۶۴۵ ۳۷/۳۲۰

دَ عشق زخم څه دَ زخم په شان نه دے
دَ بل زخم په څیر سهل واسان نه دے
عاشقان او معشوقې سره پوهیږي
دغه راز دَ نورعالم ته عیان نه دے
عاشقي نه ده که ګورے حیراني ده
کوم سړے په دغه کار کښے حیران نه دے
یو عاشق دَ څوک راوښئي په عشق کښے
چه ئے رود په مخ دَ اوښو روان نه دے
هومره اوښے دَ عاشق په ګریوان دروي
ته به وائے چه یوسیند دے ګریوان نه دے
دا هجران دے چه ئے مرګ په عاشق ګران کړ
که هجران ورسره نه وي هیڅ ګران نه دے



نورغونه که په ځان دَ سرې بد وي
غم دَ ترکو بد دَ هیچا په ځان نه دے
دَ دوزخ اور که ډیر تاؤ لري دے ګرم
برابر دَ بیلتانه له نیران نه دے
که بالله شي څوک په عشق کښے کم عقل
دا کم عقل ډیر هوښیار دے نادان نه دے
چه بے یاره وجهان وته نظر کړم
رحمان وائم چه ویران دے ودان نه دے

۳۶۹۷ ۳۸/۳۲۱

که دَ خلقو و نظر ته اد ے دے
خوار عاشق دَ معشوقې د کوځې سپے دے
هرچه ځان دَ یار په سپیو کښے داخل کا
ترو هاله به ورته وائم چه سړے دے
ما دِ خدائے دَ یار له غمه بے غم نه کا
دا په ملک دعاشقي کښے لوئے ورانے دے
زه دَ یار په غم کښے زیره ځهره خوش یم
دا زما خزان خزان نه دے پسرلے دے
زه ژوندون دَ یار دَ وصل وته وائم
ګڼه هر یو دوزخي په ژوند ژوندے دے
نه چه ما منع کوے دَ یار له دره
کوم یو در له دغه دره برابر دے



زه دَ یار مینے په یار باندے شیدا کړم
که څوک ما ګڼي نه نه یم واړه دے دے
چه وحشي مجنون ئے بنهر لره راوست
دَ لیلي دَ زلفو مے غړوندے دے
زه داران که اوبهٔ څښي په جام دَ زرو
خوش زما دا خپل دَ خاورو کنډولے دے
اورنګ زیب که دَ دیلي په تخت نازیږي
خپله خونه هرګدائے لره ډیلي دے
چه له خپله کوره ووځي مسافر شي
څوک ئے پیژني ساهو دے که مرغے دے
چه ئے خاورے شي له خاورو سره ګډے
ترو چا څه زده چه دَ کوم ښکلي مخ دے
تورو شپه په اشنایانو رڼا ورځ ده
رڼا ورځ په نااشنا تروږمے دے
سترګے خو سترګے غوږ نه دی دَ کم شناعتو
په معنی کښے یو دیوال سوري سوړے دے
عاشقان ئے دَ دنیا له غمه خلاص کړه
عشق په مثل دَ سلیمان بادشاه غمے دے
هرچه حُب دَ عاشقي لري په زړه کښے
که په قطع صد ساله وي هم زلیے دے
دا هلال دے چه لیدے شي په شفق کښے
که په لاس دَ کل لندے سپین ونے دے



نااشنا په بهره څه شکل څه موی
چه مدام ئے په اشنا باندے خوږے دے
ځربوي ئے قرباني لره پوهیږم
دا چه ګرے ئے په ما باندے زړه سوے دے
چه په نوم باندے بلد شي لیدَ نه شي
معلومیږي چه نه خوړ نه بلیږے دے
چه دَ خط په دور ئے خلق پکښے پریوځي
زنخدان ئے تر سبزے لاندے کوهے دے
زه رحمان له یاره خوش یم که جفا کا
که جفا نه کا وفا کا څو تیرے دے

۳۶۷۴ ۳۹/۳۲۲

په ظاهر صورت چه ستاڈ درګاه ئے دے
په معنی کښے دَ جمله جهان کدخدائے دے
مجنون بید غوندے رونق دَ ګلستان شي
چه ئے ستا له غمه سر په پښت پائے دے
چه له غمه دَ جرس غوندے نالان شه
دَ جمله وګمراهانو رهنمائے دے
چه څوک زړه وستاوَ تورو سترګو ورکا
ستا دَ وروځو تر محراب لاندے ئے ځائے دے
چه مسکن ئے دَ زړه ستا دَ زلفو خم شي
دَ هغو ناسته په سیوري دَ هُمائے دے

چه تا ووینې و ما ته نصیحت کا
شک پر مه کوه بې شکه چه خودرائې دې
که زرداروی اشنایان د زرداس انو
د رحمان د اشنایانو تکیه خدائې دې

۳۶۸۲ ۴۰/۳۲۲ ۱۰

که مطلب و مدعا د سړي خدائې دې
هر هر مړي د ژوندیو رهنمائې دې
مسافر چه په رحلت کښې وبله غوږ کا
هر اوازئې خواب الود لره درائې دې
که سړې وحقیقت و ته نظر کا
ژوندې خلق واړه نالست د مړو په ځائې دې
داخوبخت دې څوک ئې تورکړ څوک ئې سپین کړ
کنه عین لکه زاغ هسې همائې دې
لکه فرق چه د همائې و د زاغ نشته
هم دغه دلیل د شاه او د ګدائې دې
نه نظر د کاریګرو په کار مه کړه
کار همه واړه موقوف په کارفرمائې دې
سالکان چه د جهان تماشا کاندي
له جهانه ئې مطلب جهان آرائې دې
که څوک خپل دست و پښه وباسي له میانه
خدائې په خپله د بې دستو دست و پائې دې



په هغه جهان نیکي و بدي نشته
هر مطلب د طالبانو په دا سرائې دې
له رحمان یوائې نه یم په دا کار کښې
همیشه د یار په یار پسې واڼه وائې دې

۳۶۹۳ ۴۱/۳۲۴ ۹

نه په هره ګړي غم د سیم و زر خوري
زه دي هره ګړي ویم چه خپل سر خوري
عاقبت به دې یو ځنځیر تر سینې ووځي
نه چه تل په هر هر ښاخ باندې ثمر خوري
معلومیږي چه خپل غم درسره نشته
څکه غم د برادر و د پسر خوري
په عوض ئې کوم طاعت کړې راته وایه
دا نعمت چه په هر شام په هر سحر خوري
روژې هم ځلور پهره پس افطار کا
نه ځلور ځله طعام په هر پهر خوري
که یو ځله تر سکماله ورسیږي
نور به غوښه د خپل ځان تر قمر خوري
که بنیښه د ننګ و نام د شي تر څنګه
د هر چا په کې روي به خپل ځیګر خوري
بې هنرو سره قند زهر قاتل دې
قند ئې وګڼه که زهر په هنر خوري



نهال په زړه د صبر تحمل کړه رحمانه
چه مدام د برخوردارو په څیر برخوري

۳۷۰۳ ۴۲/۳۲۵ ۱۰

تر ابده ورځې پورې به جفا کړې
که به مهر وفا هم چرې پیدا کړې
معشوقې کله جفا کله وفا کا
مې باید چه کله هغه کله دا کړې
ما ستا خونې دې وهر چا وته ستا یلې
چرې نه چه دروغژن دې تر هر چا کړې
چه دغه اوبنې زما دغه ستا خونې وي
دا پټ راز به مې په درست جهان رسوا کړې
ستا څه لاس رابندې نه رسي دلبره
چه په لاس د رقیبانو مې سزا کړې
مرم په دا چه د رقیب په رضا درومې
نه په دا چه ته په ځان خپله رضا کړې
په درست عمر به هیڅ لیدلې نه وي
هغه چارې چه ته هر ساعت په ما کړې
ما رنځور په کښې پریږدې چه کړیږم
ته لا ګرځې د رقیب سره خندا کړې
لاس تر غاړه د رقیب سره خندا کړې
چه ما ووینې له قصده راته شا کړې



هر بیګاه وائې چه ځوله به سبا درکړم
دا بیګاه به په رحمان کله سبا کړې

۳۷۱۴ ۴۳/۳۲۹ ۹

په پیرۍ کښې چه هوس د میو ناب کړې
بیهوده ګمان په صبح د ماهتاب کړې
بې طاعته عنایت له خدایه غواړې
د عتاب په ځائې امید د اب و تاب کړې
دانسته ګناه کوې توبې وکاږې
لکه بت هسې په غتو سترګو خواب کړې
په هغو غوږو چه ذکر د خدائې اورې
بیا سماع په هغو غوږو د رباب کړې
په هغو شونډو چه حمد و ثنا وائې
هم هغه شونډې بیا ډوبې په شراب کړې
علم وکړې هیڅ عمل ورباندې نه کړې
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړې
په شپه پروت ئې د مغان په میخانه کښې
او په ورځ مخ په لوري د محراب کړې
تمام عمر د دنیا په طلب ګرځې
بیا د خدائې په طالبانو ځان حساب کړې
له خالقه دې نه شرم نه حجاب شي
له رحمانه ګوښه وڅې حجاب کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۷۳۳ ۴۴/۳۲۹ ۲۱

چه سلام د بل وعیب وته نظر کړے
خدائے د خپله عیبه وے ناخبر کړے
که یوه جو دانه عیب وی په بل کښے
دا یوه جو دانه عیب ئے تور غر کړے
که د خپله گناه لویه لکه غر وی
په حیله حیله دا غر د ځج وزر کړے
که څوک ته د انصاف درته په لاس کا
خپل پټو د بل له اسه برابر کړے
تو لعنت د په دا هسے منصفی شه
چه له حقه و باطل وته گذر کړے
خدائے وتا د ملائکو مقام درکړ
ته دا خپل صورت په خپله کاؤخر کړے
چه خدائے ستا په رضا کار کا ستا هم بویه
چه دا خپله رضا وراړه و خدائے ور کړے
نه هغه د چا د ستا په رضا کار کا
ته خپل ځان د دهٔ په کار کښے موقر کړے
په نعمت ئے شکرانه کولے نه شے
چه رحمت دریاب ئے د رشی شور وشر کړے
که د یو وینته د ځان د پاسه کوږ شی
ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړے



که بسندے د په خدائے وی یو کیکوړے
شاپان ئے په جهان کښے لکه نمر کړے
لکه څوک تر مکے ورشی بیا تر راشی
د دنیا د پاره هسے لوئے سفر کړے
که په (بیعه به) څوک ځ ورځے پیری
و مکے وته روان به تول ځیر کړے
که یوه رتیه زر د په لاس کښیوځی
خرڅ خرواړ د عبادت په رتی زر کړے
په دنیا پسے د نمری دی رنگ کړی
ځان و خلقو ته درویش وقلندر کړے
د ځوانۍ عمر د تیر کړ په غفلت کښے
د پیریه په وقت زیرمه د محشر کړے
لکه وار چه د زړے لولیه تیر شی
اوس توبه له ضرورته په سپین سر کړے
په پیری کښے د ځوانیه چارے نه شی
د عاشور په ورځ به څشکله اختر کړے
لکه یخ د زړے وئے چینی وخوری
په دا تیر عمر به څه بناغ وثمر کړے
دغه باغ به د خلاص نه شی له خزانه
که چاپیر ورځے سد د سکندر کړے
و بدخواه وته څوک نیک نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریک دے نه که باور کړے



۳۷۳۹ ۴۵/۳۲۸ ۹

که نظر په ماتو گوډو د روزگار کړے
هو مره نه دی چه حساب یا به ئے شمار کړے
په هر غم کښے خاموش اوسه او که نه وی
د بد خواه خاطر به بنه دوست به ازار کړے
صبر ونسه په هغه کښے که مراد غواړے
په تلوار به هیڅ ونه کړے که تلوار کړے
رضا پاسله و قضا ته فراغت شه
او که نورڅه نورڅه واړے ځان به خوار کړے
ازادی او کاروبار دی وبله لرے
لاس له کار وباره وباسه که کار کړے
چه په خپله ئے فانی بولے رحمانه
تر و بیا څه په عفو چارو اعتبار کړے

۳۷۴۸ ۴۶/۳۲۹ ۹

ما په تا پسے دا سپینے جامے رنگ کړے
ته لا بیا په ما گمان د نام وننگ کړے
هیڅ اثر د په سنگین خاطر ونه شه
که هر څو مے مُصلے درپسے لنگ کړے
دلسوزی به د په نور وگړی څه شی
چه له ما غونډ ئے خلاصه سره جنگ کړے



نه په عشق کښے ما هاله دروغژن بوله
که یو بل هم هسے ماغوندے ملنگ کړے
دا تاریه سورے غمازنه دی په عشق کښے
گنه ما په د بلبل په څیر اهنگ کړے
عاشقی و معشوقے ته سپینه لار ده
ته و ما وته دا سپینه لار گرنگ کړے
چه یو دم ئے له نظره پناه کیږے
دا جهان لکه لحد راباندے تنگ کړے
په بند خوئی سره د خلقو افسانه ئے
خدائے زما له کم بخته په ژړه سنگ کړے
دا د څوک د ځنگه ناست دے نه یو هیږم
چه خبرے له رحمان سره په جنگ کړے

۳۷۶۴ ۴۷/۳۳۰

خدایه زړه د مهرویانو مهربان کړے
ما له یاره یار له ماسره یکسان کړے
هغه درد چه د اشنا د بیلتانه دے
رفع دفع ئے د وصل په درمان کړے
نه چه ما منع کوے د یار له لوری
کشکے باد د سحر منع په بوستان کړے
نه به منع کړے نه ماله خپله یاره
نه به کوز په زمکه ستوری د اسمان کړے

غم د هجر چه بتر تر همه درد دے
له دے غمه مے په امن په امان کړے
کاروبار د عاشقیه ډیر مشکل دے
دا مشکل زما په ما باندے اسان کړے
حجاب لرے کړے زما د یار تر میانه
بے حجابه مخ د یار راته عیان کړے
که مطلب د نور چانورے مرتبے وی
ما ګدا ئے په استانه د خپل جانان کړے
که دا نور عالم و بله خوا ته ګوری
ما په لوری د دلبر و نګران کړے
زه چه یار لره ورځم په هغه لارے
مهتر خضرؑ مهتر الیاسؑ مے رهبران کړے
تاریکی د معصیت را څخه واخلے
د طاعت په روښنائی مے زړه روښان کړے
چه زما په پریشانی نے زړه ښه کیږی
زړه ئے ما غوندے په یار پسے پریشان کړے
چه زما په چمن راشی ګستاخی کا
د شبنم په څیر ئے عمر یو زمان کړے
چه ازاده د منکر تر سره پریوځی
د فلک په څرخ مے توره د زبان کړے
هغه غشے چه د ترکو د غمزے دے
هر کلام مے د هغه غشی پیکان کړے



چه کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصراع مے زلفه د خوبان کړے
چه هر حرف ئے د نافه په څیر خوشبوئے شی
برکت مے په جزودان په قلمدان کړے
الهی د خپل حبیبؐ له برکته
دا ساده انشا رنګینه د رحمان کړے

۳۷۷۴ ۴۸/۳۳۱ ۸

ق

څو به هسے ازادی په دا جهان کړے
چه خبر ئے به د سراود سامان کړے
همیشه به دا بهار دریاند ئے نه وی
چه به سیل په بوستان په ګلستان کړے
واړه دُر دی په لوے ئے په مشکنو
هر تلاش چه د دنیا په سود وزیان کړے
غمخواری د آل عیال د احمقی ده
چه د بل په زیرمه کړے خپل نقصان کړے
په نفاق کښے به ضائع شے مرد هغه دے
چه پخوا تر دښمن جمع خپل کاروان کړے
چه په دوه بیرتو پښے ږدی هغه ډوب شی
بیهوده ئے دلبستګی په این وان کړے
د تیر عمر ارمان مه کوه رحمانه
چرے نه وی چه په یاد ساعت ارمان کړے



دا وئیل واړه د سود او د بهبود دی
که باور په دا وئیلو د رحمان کړے

۳۷۸۴ ۴۹/۳۳۲ ۱

تا چه مخ د پری ستر ګے د اهو کړے
ترو پری ئے که اهوئے که جادو کړے
دعا ګو چه دچا ومری څه ښادی ده
ته په څه زما ومرګ و ته ارزو کړے
په محراب د عاشقانو کافی ووری
ته چه چین د جبین غوته په ابرو کړے
تا چه رنګ د ګلو واخست زه پوهیږم
زرغونه به په څیره زما کوتګو کړے
ستا له ډیره ډیره جوره معلومیږی
چه به ما په خپلو اوښیو کښے لاهو کړے
که یو څله تورے زلفے په شانه کړے
خاکستر به په چمن کښے کشمالو کړے
درست جهان به قاف تر قافه معطر شی
که یو څله شانه ګړه په ګیسو کړے
ستا د زلفو مار خوړلے به روغ نه شی
که افسون د مسیحا وربانده پو کړے
لاس و پښے د بے زوره ښاسته دی
څه منت به د پاڅلو د بازو کړے



که سوزن د بنو راوړے تار د زلفو
د رحمان د زړګی زخم به رفو کړے

۳۷۹۶ ۵۰/۳۳۳ ۲

که د عشق شکرے تیرے ترکلو کړے
نوس لذت به لکه زهر هسے تو کړے
که د وښی ملاقات له سرو قدو
د فاختے په څیر به کوکے په کوکو کړے
عاشقی به د عشق توره در په لاس کا
ترو د صبر د سکون په ملک به هو کړے
په انصاف په عدالت به نوشیروان شے
هر عمل به د خپل ځان په ترازو کړے
د سکندر په څیر جهان په درځکند شی
که سرکوز په ائینه د عیل زانو کړے
ترنج لوګے به د قند و په څیر نغرشی
که صورت د عشق په اور کښے تناکو کړے
و به ته وینے د ترکو هسے سترګے
مګر ځان په خپلو وښو کښے سالو کړے
روغ به نه شے به د یار له ښه دیدنه
که سل پنډه سپیلنی وځان ته لو کړے
د غفلت لیعن لیمه به د روښان شی
که د یار د کوڅے خاورے ښخکو کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دوا که بد دوا کوے طبیبه
چه د یار په درد و غم کښے دارو کړے
نصیحت په عاشقانو اثر نهٔ کا
دا محنت وارهٔ بے ځایه بے قابو کړے
په رحمان باندے بے یاره خوب حرام دے
که ئے سل ډیجاوئے لاندے تر پهلو کړے

۳۸۰۸ ۵۱/۳۳۴

ولے ولے و عاشق ته نظر نه کړے
خوار ګدائے په دیدن ولے توانګر نه کړے
ستا دے ویرے حیا ډیر کورونه وران کړهٔ
چه و ځیجا ته کانهٔ برابر نه کړے
ستا په ویر حُسن ے داعقیده نه شی
چه دا روغ ؤکړے وارهٔ اوتر نه کړے
ته پلو له مخه واخله زهٔ ضامن یم
که اورنګ د زمانے قلندر نه کړے
تخت تن لاس دسپی په سر باندے راکاری
ته تش سیورے د مخ اصو په سر نه کړے
زما هر زمان هر دم په تاګذر وی
ته یو دم زما په لوری ګذر نه کړے
لکه ته چه دلاور زما په مرګ ئے
چرے دا رنګه رقیب دلاور نه کړے



زهٔ د ستا په جفا خوښ یم تل تر تله
که غماز ے له دے وارهٔ خبر نه کړے
ګذشته جور و جفا دِ اوارهٔ وی
که دا جور و جفا بیا ذکر نه کړے
هغه څوک دے چه به ستا له درهٔ درومی
که ئے ته له خپله درهٔ بدر نه کړے
سنګدلی دهٔ هغو خلقو لرهٔ ختمه
چه ئے ته په مجلس ورشے اثر نه کړے
رحمان ستا هیڅ رسوا کړ یارے حیف دے
چه ته هیڅ په دا خبرهٔ باور نه کړے

۳۸۱۵ ۵۲/۳۳۵

و خوبانو و ته ولے نظر نه کړے
د چمن په ګلو ولے ګذر نه کړے
دا بهار چه درست جهان ئے معطر کړ
دماغ ولے په دا بوئی معطر نه کړے
رضا ولے په قضا سپارلے نه شے
دغه زهر په ځان ولے شکر نه کړے
چک زده چه په نارهٔ د مرګ خبر یے
ځان پخوا تر مرګه ولے خبر نه کړے
چه د خاورے په سر اچوی نور خلق
ته پخپله خاورے ولے په سر نه کړے



پس له مرګه چه بیا مرے له لوږے تندے
ولے نن ساعت توښه د محشر نه کړے
داوینُ چه د اثر کاندی په نورو
اے رحمانه په ځان ولے اثر نه کړے

۳۸۲۱ ۵۳/۳۳۶

له دے کبه له پوزیه خو به ولاړ شے
ترو بیا خدائے خبر چه کوم خوانه به لاړ شے
په ظاهر صورت خو هسے معلومیږی
چه به خس غوندے تر پیولاد مصر شے
دا اسمان زمکه به وی او ته به نه ئے
په وداته ودانی کښے به ویجاړ شے
د بهار د ګلو عمر مدام نه وی
عندلیب غوندے به پاتو په اهار شے
په ولاړ ولاړ به ځان ورپسے وچ کړے
چرے نه چه د ګل زخوبه و مڼه لاړ شے
که لیدے غواړے رحمانه بیلتُه دا دی
چه مجنون غوندے ساکن د کوه و کار شے

۳۸۲۸ ۵۴/۳۳۷

اشنائی توره بلا دهٔ اشنا مه شے
جدائی به د فنا کا فنا مه شے



دغه غم به د د زړهٔ ولے کا خوشحے
ګرفتار په درد و غم د جانا مه شے
په زیړ رنګ به د تل سرے اوښے بهیږی
د دو رنګو په خیر ګل د رعنامه شے
م په دا چه د روغږن د خدائے دښمن دے
و هیجا ته د روغږن په وینا مه شے
خپل خرښت د هر خاروی په ځان قصاب دے
توانائی د تن تاوان دے توانا مه شے
که اعلیٰ مرتبه غواړے عاشقی دهٔ
نور همه وارهٔ ادنیٰ دی ادنیٰ مه شے
همیشه په سر نګون په فکر ناست ئے
د رحمان په څیر مشغول په ثنا مه شے

۳۸۳۶ ۵۵/۳۳۸

ستا د مینے کوهر نشته په هراب کښے
مګر بیامومن شی د اوښیو په دریاب کښے
که ته وینے زما پټے ځلے دلبرهٔ
رنګ د لبو د ګواهی لی په دا باب کښے
په هرځائے چه ستا د لبو نوم اغاز شی
د لاله و باران ووری په حباب کښے
له خسته زړونو به څه دلستانی کا
د خراج ګنجائش نشته په خراب کښے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه حیران د ستا د وروځو په تورخال یم
کافر څشکله سجده کا په محراب کښې
ګل له ډیرې باریکۍ په شبنم خوږیږي
نازکان زړه بد وي په صاف خواب کښې
د بهار په ګلو ووري باراتونه
د څمڅوړکي طاقت نشته په حباب کښې
د رحمان غلطي وبخښه اے خدایه
د اوترو چارے نه وي په حساب کښې

۳۸۴۴ ۵۶/۲۳۹ ۸

ق

یا دا ستا چشم (و) ابرو ویم په خواب کښې
یا مستان دي وودہ شوي په محراب کښې
یا په جام کښې ستا د مخ عکس لیده شي
یا خورشید دے تجلي کا په حباب کښې
یا تر خط لاندے غوټۍ ستا د خولو دي
یا کوکب دے غریق شوے په سحاب کښې
یا د زلفې په مخ دواړه راخورے کړے
یا سنبل دي ګنجک د اور په تاب کښې
یا د زلفو په مخ توره تاریکي کړه
یا خو تندرخان څرګند کړ په آفتاب کښې
یا دا ستا مژګان زما په خاطر ښخ دي
یا سیخونه دي پټ شوي په کباب کښې



یا خو ستا له غمه غرق زما صورت دے
یا څښتے دے جاروتي په ګرداب کښې
چه د یار د مخ کاته له میانه ووځي
د رحمان به څه عزت وي په حساب کښې

۳۸۵۵ ۵۷/۲۴۰ ۱۱

زړه مې بانیلو ستا په مهر محبت کښې
عاشقیه زهر راکړه په شربت کښې
لار زما ویاس ته مه نیسه ناصحه
ما موندلے دے دا یار په ډیر محنت کښې
که صورت د ځیني مستے درښکاره شي
عقل هوش به د هیڅ نه وي په صورت کښې
که د عشق ترکمر پریوځے غابن به بانځې
ته چه مانه غابن چیچې په نصیحت کښې
زه توبه په څغد تیر عمر وکاړم
چه صرف شوے دے بې یاره په غفلت کښې
د اشنا د مینې پټ به رامات نه شي
که مې سر له تنه درومي په دا پټ کښې
له ادبه ئې و مخ ته کتے نه شم
خداے رابښه جدائي کړه په وصلت کښې
په قیامت که څوک له نیته بښیده شي
زه د یار د کوڅې خاورے یم په نیت کښې



لکه زه چه ئې د در په خاورو خوښ یم
خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کښې
د درګاه په خاک نشینو ئې تل حق وي
د غمونو دخل نشته په جنت کښې
د دنیا له دولتونو بې پروا یم
زه رحمان د عاشقیه په دولت کښې

۳۸۷۱ ۵۸/۲۴۱ ۱۰

مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کښې
هر څښتے تیره تیغ دے په دا لار کښې
دا سور ګل به د دستار په وینو سور کا
چه د یښې زمانے دے په دستار کښې
مخ د ترکو چه تر آب حیات صاف دے
زه دے آب حیات سوے یم په نار کښې
چه د اوسپنے آئینه پر اوبه کیږي
ترو زما هسې به څه وي په دیدار کښې
په هر وار ئې چه وستړګو ته نظر کړم
لاس مې ولې وي له خانه په هر وار کښې
یاره ته چه له ما صبرو قرار غواړے
عاشق کله وي په صبرو په قرار کښې
هیڅ صرفه مه کړه د زړونو آزار اخله
که چاسود وي درښوونے په آزار کښې



که مې سرو مال د ستا په مینه دروځي
زه له سرو ماله تیر یم په دا کار کښې
ستا له دره له دربانه به وا نه ورم
څو ونه مرم ستا په درا و په دربار کښې
عشق د عقل په کوڅه استوګه نه کا
ق چا موندلے نه دے یار په دا دیار کښې
کم بختان د یار په وصل کښې مجبور دي
د وږي وکي بهره نه وي په بهار کښې
مفلسانو لره عین کوهستان دے
که همه عمر ئې کور وي په بازار کښې
و هغو چه خداے حق ئې ستړګے ورکړے
ق د یوسف تجلي وینې په دیوار کښې
عیب ژن ته واړه عیب څرګند یږي
بناشته که خان یوسف کا په سنګار کښې
چه هنر د عاشقي ئې خداے نصیب کړ
بې هنره نورڅه نه وینې په یار کښې
خپل داغونه د خپل زړه ورلره بس کا
څه حاجت دے د رحمان په لاله زار کښې

۳۸۸۳ ۵۹/۲۴۲ ۱۲

مدام ناست یم وچ ګوګل ستړګے په نم کښې
عشق راوینو بحرو بر په خپل حرم کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چه ستا تورو د زخم په خوله بنکل کړه
نور مے دالذت بیا نه مونده په مرهم کښے
خوار مجنون چه سر په پښو د لیلیٰ کښینو
سرفراز شه په عرب او په عجم کښے
زور اور مدام غالب وی په کمزوری
زه له نوره غمه خلاص یم ستا په غم کښے
لکه زه چه ستا په غم کښے مستغرق یم
بل به نه وی په جمله بنی اٰدم کښے
لکه مرے د ژوندیو ترمیان پروت وی
هسے بیل یم له عالمه په عالم کښے
هیڅ دمه مے د دم کړیو په دم نه شی
هم په دا چه زما دم دے ستا په دم کښے
نه مے به تا تک و پوئے نه جستجوئے شته
مراد مے ته یے په هر دم په هر قدم کښے
که نصیب مے شی کو غالے ستا د سپیو
و به نه کړم نور نظر په جام د جم کښے
زړه مے هسے ستا په زلفو پسے ورک شه
لکه غوټه له چا پریوځی په تور تم کښے
سره په وینو د سرو کلو په غیر زانګی
هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کښے
زه رحمان کناره خوښ وم له عالمه
بارے ستا سترګو رسوا کړم په عالم کښے



۳۸۹۱ ۶۰/۳۴۳ ۸

د بلبلو له حال زده کړه په خزان کښے
یا د ګلو ښادی کړه په بوستان کښے
څو د تیرو تلخیٔ ترسیتونی نه شی
شیرینی به خوند ورنه کا په دهان کښے
ما په هجر کښے لذت د وصال بیا موند
له یوسفهؑ ملاقی شوم په زندان کښے
لکه متن له معنو معنیٰ له متنه
یار هم هسے دے زما په دل و جان کښے
عاشقی اسانه مه ګڼه خبر شه
سر بازی ده هر نفس په دا میدان کښے
د ناتوان له ناتوانیه وو یریږه
که هزار ځله توانا ئے په خپل ځان کښے
هم هغه به پس له مرګه ازاریږی
هر چه بل ازاروی په دا جهان کښے
په رحمان پاندے بے یاره هسے حال وی
لکه حال د زندانیانو په زندان کښے

۳۹۰۲ ۶۱/۳۴۴ ۱

هسے بے یاره خفه یم په جهان کښے
چه مے نه شی ځائے په زمکه په اسمان کښے



سره ګلونه د چمن راته سور اور شی
چه قدم بے یاره کیږدم په بوستان کښے
چه ئے مرنه یم له ویرے بے نیازیه
حیران یم د ناتوان صورت په توان کښے
که هر څو فکر د ځانه سره وکړم
هیڅ د صبر طاقت نه وینم په ځان کښے
هیڅ ساتنه د سرکښ خاطر را نه شی
څوک ساتلے شی بهری په ګریوان کښے
ترهغه به نادان بل په جهان نه وی
چه څوک مهر و وفا غواړی په نادان کښے
که ئے سل ځله په ځار په قربان بولم
غور را نه باسی په ځارلو په قربان کښے
هسے رنګ زما په دیره ژړا خاندی
لکه ګل د پسرلی خاندی په باران کښے
جوهری شی دُر و لعل کاندی برخیره
چه مے کښیښی د دوو سترګو په دکان کښے
چه مے هجرے په خوا په خاطر نه وی
زمانه ئے را شرګندی کا په زمان کښے
چه په وصل کښے ئے لوبے نه وچیږی
ترو به حال د رحمان څه وی په هجران کښے



۳۹۰۹ ۶۲/۳۴۵ ۷

زړه مے ډوب ډوب کیږی ستا د غم په غلغلو کښے
هسے لکه څوک چه مستغرق شی په اپو کښے
ستا د عشق له موجه په هیڅ لوری وتے نه شم
دواړه لاس مے پریوته د عقل په لاسو کښے
سل توبے مے ماتے کړے واته وینم لا عشقه
سا وینا مے نوره پا تو نه شوه په توبو کښے
ته چه له ماځه زما د اوښیو باران ګوره
رخ د سفر هیڅ نشته په دا ګتو شیبو کښے
نه یوه سپوږمی نه هزار ستوری لا اسمانه
بے تا به څوک څه وکا د خلقو په جنبو کښے
عشق او عقل دواړه سره ضد دی که پوهیږے
کله ودری د اور څرے په پنبو کښے
هر څوک چه د عشق په اتش سوی دی رحمانه
خدائے ئے ابراهیمؑ غوندے ناګاه کا په ملبو کښے

۳۹۱۷ ۶۳/۳۴۶ ۸

هسے خوښ یم ستا د در په خاکساری کښے
لکه خوښ وی سرداران په سرداری کښے
عاشقی که نور و خلقو ته خواری ده
ما موندلے دے دولت په دا خواری کښے
و بیمار ته که ناخوښ واقع وګرے
خوښ یم زه د ستا د عشق په بیماری کښے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذخپل بام و روزنونو ته نظر کړه
هسې سترګې وي زما په بيدارۍ کښې
يار ذ يار له سترګو اوښې پاکيزه کا
تا درياب کړې زما اوښې په ياری کښې
ما له ويرې ناچارۍ ؤ يار ته شا کړه
مرې عذر دے په ويرې ناچارۍ کښې
غم به هيڅ يوه هوښيار خوښ کړے نه وي
ما خوښ کړے دے ستا غم په هوښيارۍ کښې
ذ رحمان اوښې به څرنګه په قرار وي
چا ليدلے دے درياب په قرارۍ کښې

۳۹۲۵ ۹۴/۳۴۷ ۸

سپين مخونه تورکودے شي په پيرۍ کښې
سم قدونه کوږلړګے شي په پيرۍ کښې
لکه شمع ذ سحر افتاب ذ ژمي
هم به تا به هم زيړے شي په پيرۍ کښې
که پل يو سر پروے وے ناخوانه دروي
خپل صورت تمام پروے شي په پيرۍ کښې
ذ مرده ؤ په حساب وي غزا وشرے
که څرګند ليده ژوندے شي په پيرۍ کښې
مړ لا ښه دے پس له مرګه بيا ژوندے شي
نشته دا چه څوک ژلمے شي په پيرۍ کښې



که څه وخوړے لکه زهر نه ارزيږي
نه څه ښځے نه څه خوړے شي په پيرۍ کښې
داخوانۍ ده چه څه اورے يا څه وينې
نه ليدے نه اوريدے شي په پيرۍ کښې
اے رحمانه پيرۍ هسې عاجزي ده
که رستم وي زړه پر سوے شي په پيرۍ کښې

۳۹۳۳ ۹۵/۳۴۸ ۸

وقت ذ عيش و طرب تير شه خزان راغے
خندن ذ بلبلانو په ځان راغے
دلدارۍ ے تر اميد وه بارے څه کرم
هغه يار ذ دلبرانو په شان راغے
سود سودا ذ عاشقۍ که نفع مند وي
ما هيڅ سود پکښې و نه ليد تاوان راغے
تمام عمر که وصال وو هومره نه وو
لکه يو زمان ذ ښکليو هجران راغے
اشنائۍ ے په هوس وه خوچه بيل شوم
دواړه لاس ے ويله ومښو ارمان راغے
کوے زما ذ زړه ے يو وړ په چوګان کښې
بيا ذ ناز په نيلي سور په جولان راغے
غنچه لب چه په خندا کړه ذې پريشانه
په شيبو زما ذ اوښيو باران راغے



ذ مرزا ذ ارزانۍ دعوے به پرے کا
قدردان ذ شاعرانو رحمان راغے

۳۹۳۹ ۹۶/۳۴۹ ۶

ق

مست په هغه څځ يم چه مستانے لړۍ سترګے
بې توره بې تيغه قاتلانے لړۍ سترګے
بې ليدو کتو غلبان زړونه وړي له خلقو
هسې چشم بنده ساحرانے لړۍ سترګے
هر څوک چه ے ووينې بل سرګے نه شي
کښلے په ديوار غونډے حيرانے لړۍ سترګے
لب اب حيات دی او نفس ے ذ عيسیٰ دے
هيڅ څه عجب نه دے که خوبانے لړۍ سترګے
هر چه عاشقان دی هغه کله بل سر کوري
واړه ستا په لوري نګرانے لړۍ سترګے
اے رحمانه دا اوښې هم تخم هم باران دے
کښت ذ هغه شين دے چه ګريانے لړۍ سترګے

۳۹۴۵ ۹۷/۳۵۰ ۰

چه وصال ذ خپل جانان مے دے موندلے
ګنج ذ دروذ مرجان مے دے موندلے
هومره طمع ے له خپله بخته نه وه
نه پوهيږم چه څه شان مے دے موندلے



که په ډير مشقت لاس لره څلے راوست
زه خو وائم چه اسان مے دے موندلے
چه مے يو نفس وصال ورسره وشه
واړه اجر ذ هجران مے دے موندلے
څه عجب دے که تمام جهان زما شي
چه بادشاه ذ درست جهان مے دے موندلے
زه رحمان په خپل اشعار شکرګزار يم
چه دا هسې رنګ ديوان مے دے موندلے

۳۹۵۷ ۶۸/۳۵۱ ۲

بدلوے په دنيا دين و ايمان ولے
نه پوهيږے په خپل سود و په زيان ولے
هميشه په خدائے ذ شکر شکايت کړے
منکريږے په عطا ذ سبحان ولے
درېخښلے خدائے ذهرے چارے توان دے
په ډير توان کښې خپسر بولے ناتوان ولے
مدام اوښې توئوے ذ رزق له غمه
درګوهر په بها پلورے ارزان ولے
چه په هر ځاکا سامان ذهر سبا کړے
کور وکرشوے ذ محشر په سامان ولے
هيڅ ګياه له ځايه نه ځوځي نم موي
ته ذ رزق په طلب مړے جهان ولے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ښځوا تر قضا خپله رضا غواړې
بېهوده په لوتو وُلې اسمان وَلې
په ژوند ومره چه د مرګ له غمه خلاص شې
اسان کار د کړې په ځان باندې ګران وَلې
غیرې مینې د په زړه باندې انبار کړې
په کعبه کښې ننباسې بُتان وَلې
زړه د نفس په پیروی درځخه لاړ شه
د خبیث په لاس د ورکړ قران وَلې
چه یوسفؑ د حبشي په بها موې
د مطلوب په طلب نه بښندې ځان وَلې
بد په بد و پښېماني کاندي رحمانه
ته په خپلو بدو نه شوې پښېمان وَلې

۳۹۶۵ ۶۹/۳۵۲ ۸

په نور چا پسې بې خدایه ژاړې وَلې
د چارپائې په څېر بې ځایه نارې وَلې
چه روڼي مینه کوې په شخوند خوځوې
تر و خیرې کوې نوارې لواړې وَلې
ته داخپل کلام مینه په داخپل شخوند کړه
و دارل ته د ټیرې کړې دارې وَلې
هغه کار چه د په نرم وټیل کېږي
بېهوده په پوررته نولې لاړې وَلې



نیک له نیکو بد له بدو مناسب دي
نیک و بد وبله پر بله نغاړې وَلې
یو قدم د خدائے په لور ې نه بیووې نه شې
تمامي عمر په بیر ته لاړې وَلې
تل په غاړه کښې د طوق د تعلق د ې
وُکښې نه شې دغه طوق له غاړې وَلې
چه په ورځ د شیخي لاف کړې رحمانه
په شپه کښې له ې فروشه غواړې وَلې

۳۹۷۵ ۷۰/۳۵۲ ۱۰

کشکې زه خاورې ایرې دُستاد در وې
چه قدم د همیشه زما په سر وې
خو یو ځله زما ستا و بله مخ شوې
نور ې موخه ستا وغشیوته نهتر وې
تام تن ـ د رانجو په څېر لوره شوې
خو په ماد تورو سترګو یو نظر وې
په زېړ رنګ په سپینو اوښیو به ما یالمونځ
که د ترکو ملاقات په سیم و زر وې
ملامت به په ماخه لره وایه شه
که د ستا د دلبري ځوک خبر وې
مرتبه که ستا د عشق نې ورځر کښد ه
ملائک به واړه واي که بشر وې



تماشا به زما هله در بنکاره شوه
که ته ماغونده بېدل وې زه دلبر وې
په خوبار به زما سترګو غونډې نه وو
که په مخ ې د تیر و تورو پرهر وې
یا نسیم د صبح دم یا عندلیب شوې
چه د ستا په ګلشنونو ې ګذر وې
ستا په درکښې طبیب واي و رحمان ته
لا به بنه وو که د حال تر دا بتر وې

۳۹۸۷ ۷۱/۳۵۴ ۱۲

د وصال په هوا والوتې مرغه شوې
د هجران په اور کښې درست صورت لوبه شوې
نه وزرکا له هوس نه مري له غمه
سرې سخت دې کښه یو اثر خو وشوې
زړه که چاود وې هم له دغه غم به چاود وو
چه د یار د بېلتانه خواري په زړه شوې
چه بېلتون ورته اسان دے هغه خلق
لا مصیبت لره په بند د بېلتانه شوې
د رقیب و ناکردو ته چه نظر کړم
د عاشق له اهه روڼ په تور لیمه شوې
هیڅ پوره به د نیکړي نه شوې خدایه
که بېلتون د دوه یارانو وبله نه شوې



چه بېلتون د دوه یارانو وبله کاندي
د هغو خلقو له مرګه واوریده شوې
خدائے رضا لره چا سې تعوین وکړې
چه لیږ زه د هغه یار ترفهمه نه شوې
یو ځل یار په سترګو ولیدې چه دادې
هرچه شوې له هغه په بیا هاله شوې
خولې نوم د زما واخیستې په ژبه
نورې نوم په داجهان کښې یاتو مه شوې
لکه درست عمر په خوله د رقیب کار کا
دغه هسې یو زمان زما په خوله شوې
زه رحمان په دا مامله کښې حق حیران یم
نه پوهېږم چه د یاره غمه څه شوې

۳۹۹۴ ۷۲/۳۵۵ ۷

ویرې خولې زما په یاد شکر خورې شوې
بیا زمونږ په زمانه خاورې ایرې شوې
د چندنو وَنې وسولېدې لا ړې
هزار ځاګې د شمشادو په اره شوې
په هغو زمکو چه روڼې وې ماتیه
د ایام په ګردشونو هدیرې شوې
په دنیا کښې چه بنیاد د اشنائي کا
د هجران تورې هغو لره تیرې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ځواني لخدایه غواړے ځوان به وهمرے
او که پس له ځواني پاتے ځو به زوړ یے
بنده کان خو کله چوړ کله ناجوړ وي
څه خدائے نه یې چه به تل تر تلجوړ یے
عاشقي به د اسمان غوندے څرګند کا
که مجنون غوندے هرڅو په صورت ووړ یے
عبادت خو به ځواني کیږي رحمانه
ق به پیري کښے به څه زهد کړے چه زوړ یے
ق بدے واړه په بنه ونسه رحمانه
چه پائے بند د یار په مینه یا په مرور یے
ق که د شعر د رحمان مومند ترغوړ شي
دواړه لاس به په ارمان ورپسے مروړے
عاشقي بے جذبے چرے دَه رحمانه
ته مجذوب د یار په مهر کښے لا ووړ یے

۴۰۲۵ ۸ ۷۶/۳۵۹

ق
که په قطع د تمام جهان ملک یے
چه له ځانه خبر نه یے لا هلک یے
ادمیت خو څه په مال او په شال نه دے
ته چه خیال په شال و مال کړے څکه سپک یے
منصفان به د انصاف خبره واني
څه شو څه شو که په خپلو کښے شیرک یے



که د نمر په څیر څرګند شے په جهان کښے
څو په زړونو پسندیده نه شے لا ورک یے
بزرګي په دلجوي کښے دَه د خلقو
ته چه خلق ہو بوے څرنګه څرک یے
په لوي کښے لوئي چرے دَه احمقه
کینیه و ته مټ کړه که سالک یے
فلک تا غوندے هزار فنا پیدا کړه
ته لا نوے نوخاسته په ناز نازک یے
دانایان په دیوال کښلے پند اخلی
ته رحمان په خوار نظر ګورے مورک یے

۴۰۳۹ ۳ ۷۷/۳۶۰

په ځواني کښے بد دماغه بدګمان یے
چه پیري درباندے درشي ناتوان یے
که په دا د زړه بنه کیږي دا خو نشته
چه به تل تر تله ژوے هم به ځوان یے
چه بے خدایه زړه ترے په نور څه یوړے
هم په خدائے ھے باور کړه چه نادان یے
پښیماني تر پښیمانیه ښخوا بویه
نه هغه چه بیا په تیر ساعت پښیمان یے
ھے رنګ و ډ هغه جهان ته شا کړه
ګویا تل به مستقیم په دا جهان یے



هومره سر د وخپل خدائے وته ټیټ نه دے
لکه ټیټ په لور د خان و د سلطان یے
یوه شپه په طاعت نه شے رونولے
هره شپه په مال و ملک باندے پاسبان یے
په تسبیح د تاندَه ژبه وچ لرګے شي
پوچ ګوفه لره بلبل غوندے ګویان یے
و نماځه ته چه نیرخیزي هاله یا څے
په قلبه پسے لا نیمه شپه روان یے
اودسه لره کوزه اخستے نه شے
چه په لو لو په لور ورشے پهلوان یے
د هلک په څیر لاس اچوے واور ته
نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان یے
پتے سترکے لکه ستور په کاني کرځے
چه پرېوے وکوهي ته هم دوان یے

چه و بل ته نصیحت کا ځان د هیر دے
نور څوک نه دی هغه ته عبدالرحمان یے



## مخمس

هغه یار چه بنائسته دے تر افتابه
مخ به کله را څرګند کا له نقابه
بیلتانه په زړه زهیر کړم بے حسابه
یو سبب وکړے مسبّب الاسبابه
چه زما ملاقات وشي له احبابه
ملاقات د بنائسته وُ ے نصیب کړے
د بنائست په ګلستان ے عندلیب کړے
عندلیب ے په ګلشن د خپل حبیب کړے
خدایه ما په دلبرانو کښے قریب کړے
وے ژغورے د دے اهل له عتابه
هغه یار چه زه ے مینه په دیدار کړم
همیشه ے و دیدن ته انتظار کړم
شپه و ورځ پسے ناره وهم کوکار کړم
ګ په روڼ ورته تمام جهان رونبطار کړم
سترګے نه یوړه کوي د ناز له خوابه
بیلتانه ے پټ پنهم په زړه تاراج کړم
و دیدن ته ے په ھے رنګ محتاج کړم
چه غرقاب ے د خوبو په امواج کړم
هیڅ پیاب د مومنده نشي څه علاج کړم
د اشنا د مینے غم شه ناپایابه

ته چه کس یې د جمله وُ بیکسانو
هم کارساز یې د جمله وُ خام کارانو
الهي په بزرګۍ د بزرګانو
زه وصال په دُعا غواړم د خوبانو
لا به کله دا دُعا کړې مستجابه

اسیر کړې د زلفو په طناب یم
تکبیر کړې د سترګو په قصاب یم
د کشتۍ غوندې مدام په اضطراب یم
لکه زه چه ستا له غمه په عذاب یم
خیر مه شه هیڅ بنده له دې عذابه

دریغه مه وې په دنیا کښې پیدا شوې
او که وې هم خو دا هسې شان خوښ مه وې
لکه زه یم د هجران په لمبو سوې
څو به ګرځم په داسې اور اولوې
چه سینه مې په درست ګرشوه کبابه

هسې څه مې دا خراب خاطر ناباد شه
زیست روزګار مې همیشه آه و فریاد شه
عمارت مې د زړه هسې رنګ برباد شه
چه حباب غوندې بې بیخه بې بنیاد شه
د بنیادې طمعه به څه کړم له حبابه

پټ پټ ګرځم د ناصح له نصیحته
را نه کاندې نصیحت په څو صورته



چه توبه کړم د خوبانو له قربته
هیڅ خواب نې په ما نه شي له غیرته
درمانده ورته ولاړ یم بې خوابه

دا خوب څه هسې نه دې چه په خوله شي
د عشق راز څه هسې نه دې چه ویل شي
دا مشکل حکایتونه په ما نه شي
د دې بحر بې پایان حساب په څه شي
چه زه وچا ته وایم له حسابه

چا موندلې د دې بحر پایان نه دې
دغه راز و هر سړي ته عیان نه دې
هیچا کړې د دې چارې بیان نه دې
دغه واړه عاشقي ده رحمان نه دې
چه په خوله کښې لعل و دُر لري سیرابه

❁

## مسبع

ستا جفا د حد په هورته شوه صنمه
ټل مې اوښې موج وهي د زړه له یمه
ډیکښې ډوب شومه له سره تر قدمه
د زړه زخم مې محروم دې له مرهمه



څو به پټه واقعه اوسي پښهمه
هسې ډوب په فکر ځلې یم له غمه
نه پوهیږم چه په غرق یم که په سمه

که مې زده وې له دې هسې رنګ خواریه
ما به نوم اخستې نه وو د یاریه
خبر نه وم د هجران له دلګیریه
صبر وکړم عاقبت له ناچاریه
ستا د غم په دریاب ډوب یم تر مریه
بې تا نه لرم هیڅوک د دستګیریه
مکر ته په خپله لاس راکړې همدمه

ما وې نور به آشنائي له هیڅا نه کړم
هم په دا رنګه مې نیت وو باړې څه کړم
وانسته د غم کوهي ته پریواته کړم
په هنر به شلو بېڅه رنګه شوده کړم
د قسمت علاج په چاشي چه نې زه کړم
که په سل رنګه تلاش و تدبیر وکړم
خلاص هسې نه موم له لوح له قلمه

خوبرویان که بې وفا دي هم خو ورځ دي
عاشقان که وفادار دي هم خو پړه دي
په ژوندون ئې په حساب کښې د دوی مړه دي
مقتولان واړه د هیڅه په حیاره دي
ستا له غمه هر چه دي زما په زړه دي



اوس به حال وچا ته څه وایم چه څه دي
غرض دا دې چه زه ګرم یم ته نا ګرمه

یو څو دا چه په صورت یې پری رویه
هم په خوي او په خصلت یې فرشته خویه
ګلاب لب و ابرو واخست ستا له رویه
په تخته د زړه نامه ستا کښلې یو یه
هم په قد و په قامت هرګوره لویه
بیا به نه مومې څوک تا غوندې دلجویه
که ئې غواړې په عږده هزار عالمه

ستا له غمه زه په ځان کړم مې چارې
چه دښمنه ئې و بله نه کا کل عذارې
که باور نه کړې دا حال وګوره یارې
چه له سترګو مې د وینو دروې دارې
ته په څه سبب زما له لاس ازارې
دا زما ګناه راوښیه دلدارې
چه توبه کړم نصوحا غوندې محکمه

لاس ترغاړه د رقیب سره خندا کړې
چه ما ووینې له قصده راته شا کړې
په غمونو د عیش ورځ زما بیګا کړې
څوا نه وې په دا خوئي اموخته چا کړې
خدائې د وینې هغه چارې چه په ما کړې
ترلبدې ورځې پورې به جفا کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په کله هم چاروومه له ستمه

تا چه هسې بې نیازي دځان پیشه کړه
په عاشق دې د خندا زمکه متره کړه
جور ستم دې په عاشق دځان شیوه کړه
زه غیر نه کړم چه دې زړه غواړي هغه کړه
بیا دې ورځ په غریبانو توره شپه کړه
نور دا هسې دجفا خوبونه مه کړه

خلقه په دې له جوره شی برهمه

ستا زما له مینې هرڅوک خبردار دی
دا خبرې کورا کور په هردیار دی
دبیغور مالګې پرتې مې په پرهار دی
داخبرې شپه او ورځې څه پکار دی
چه فلانا فلانا سري سره دوستدار دی
اوس په بیرته جاروانه و ماته عار دی

چه رسوا شوم ترعربه ترعجمه

هغه ژوی چه په تاباندې مینن وي
په وګړي کښې رسوا لکه کوهکن وي
په داغونوستا دعشق نې زړه ګلشن وي
دکاکل تاز ته عشاق لکه سوزن وي
همیشه انګشت نما په مرد و زن وي
چه دا غښې پکښې نه وي دروغژن وي

که په هره ګړي خوري هزار قسمه



نښانه د عاشقانو اول دا ده
چه مدام ئې سرپکار وي له فریاده
شکلې یار یوه دم نه وباسي له یاده
شیرین نوم خپل برابر کاندفرهاده
تل نامه د بدنامیه وي پر زیاده
نه ویرېږي له پیغوره له اهداده

بې د یار د جدائیه له ماتمه

هرچه زړه ئې مبتلا شي په بتانو
زیست ئې نه شي یو ساعت بې مهرویانو
خپل روغ ځان کاندي حساب له دیوانګانو
کا د عشق په اور بازي د پتنګانو
که څوک ورکا بادشاهي د بادشاهانو
په نسبت د هغو سوېو سوختګانو

دا متاع ده تر یوه خسفي کمه

که سلیمان غونډې مسند ئې په هوا وي
په سبب د عاشقي به خاک پا وي
قیس مجنون غونډې له خلقه به جدا وي
له خاطرې هرڅه هیر بې د لیلې وي
همیشه به په فریاد و په غوغا وي
چه دا هسې نښانې پکښې پیدا وي

ترو هاله پر عاشقي ده مسلمه

عاشقي دې هیڅوک نه کښي اسانه



دا خبره ده دحد په صورته کرانه
د بهار راتلو خو نشته بې خزانه
غواص نه مومي ګوهر بې له عمانه
وصال نه دې چا موندلې بې هجرانه
ته له زړه سره اتکل وکړه رحمانه

په دنیا کښې بناري چرې ده بې غمه

# ضمیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**